
ما هغهٔ ته د پلار
وئیلو جرأت وکړو

د شلمې صدۍ دا رښتینی قیصه د هر هغه کس د پاره ده ځوک چې خپل ځان په څرګنده طور باندې خپل خالق ته د سپارلو خواهش لری. اؤ د هغه چا د پاره ده ځوک چې دا ګمان لری چې آیا قادر مطلق خدائ پاک واقعی د خپل مخلوق سره د کړو وعدو په مطابق د هغوئ په هر قسمه حالاتو کښې د حفاظت کولو قدرت لری؟

دا د پاکستان د یوې عزت مندې کورنئ د ښځې، " د بیګم بلقیس شیخ" حقیقی قیصئ ده، چې څنګه د ژوند په مختلفو لارو باندې هغې ته د هغه سوالونو جوابونه ملاؤ شول د کومو چې هغې لټون کولو.

کله چې د هغې خاوند هغه پریښوده ځوک چې په یو ښۀ عهده باندې نوکر وو، نو هغې د خپل پلار نیکۀ په جائیداد کښې د مشکلاتو اؤ بې آرامئ نه ډک ژوند کښې سکون لټول شروع کړل. خو هغې ته ذهنی سکون ملاؤ نۀ شو. په قرآن مجید کښې د لټون نه پس هغې ته د حضرت عیسی مسیح په باره کښې ځنې حوالې ملاؤ شوې. نو د لټون په خاطر هغې د انجیل شریف طرف ته توجو وکړه. نو بیا د مسلسل خوبونو لیدو په شکل کښې د هغې په ژوند کښې د یوې معجزې په طور انقلاب اؤ خوشحالی پیدا شوه.

# "ما هغهٔ ته د پلار وئیلو جرأت وکړو !"

# "I Dared to call Him Father"

# فهرست


" یوه ویریدونکې حضوری " ۱

"عجیبه کتاب" ۱۷

"خوبونه" ۲۹

"مقابله" ۳۴

"چوک" ۵۵

"د هغۀ په مینه کښې د اوسیدو سبق" ۶۸

"د اوبو اؤ اور سره بپتسمه" ۸۵

"آیا زۀ محفوظه وم"؟ ۱۰۳

"تعلق ختمیدل" ۱۲۵

"د هغۀ په حضورئ کښې د ژوند تیرولو سبق" ۱۴۵

" بدلیدونکی اړخونه " ۱۷۹

"د کروندې وخت" ۱۸۹

"د دهمکیانو طوفان" ۲۰۶

"نوے منزل" ۲۳۷

# سریزه

خدایٔ قادر مطلق د ازل نه دے اؤ تر ابده پورې به وی اؤ هغه لامحدود دے، د هغۀ صفتونه هم ازلی، ابدی، اؤ لامحدوده دی. د کائیناتو هر یو څیز بدلیدلیږی، خو د دې کائیناتو خالق نن، صبا اؤ تر ابده پورې یو شان دے.

خدایٔ قادر مطلق خپل شفقت اؤ بې شانه فضل په ناآشنا طریقو سره په خپل اشرالمخلوقاتو باندې څرګندوی.

د یوې عزت مندې مسلمانې کورنیٔ ښځې ژوند چې نوم یې " بلقیس شیخ " دے، د خدایٔ ذوالجلال د حیرانتیا اؤ د ژوند ورکوؤنکو کراماتو یو تصویر دے.

په شروع کښې دا کتاب په انګریزیٔ ژبه کښې چاپ کړے شو. د دې کتاب ترجمه د عربیٔ ترکی اؤ د جرمنی په ژبو کښې شوې ده. اؤ په څنې ملکونو کښې د دې د مشهورتیا اؤ غوره والی په وجه دا په اردو ژبه کښې هم ترجمه شوے دے.

د بې قراریٔ په دې دور کښې به یقینا چې دا رښتینې قیصه د خلقو په ژوندون کښې خزان ختم کړی اؤ هغویٔ له به د سپرلی د راتګ پیغام ورکړی.

د هر یو عبادت کوؤنکی دا خواهش د ے چې هغه د حق تعالی د مینې نه خبر شی. اؤ زمونږ دا یقین د ے چې د مینه ناک خدائ پاک د نۀ ختمیدونکې مینې دا ذاتی تجربه به د ډیرو خلقو د پاره د ابدی ژوند راز حاصلولو کښې مددګاره ثابته شی.

مونږ د هغه خلقو شکر ګزار یو چا چې د دې عظیم کار په پوره کولو کښې دلچسپی واخسته. زمونږ دا دعا ده چې خدائ تعالی دې هغوئ له د دې اجر ورکړی.

ترجمه کوؤنکی

دوه شاګردان

# ړومبے باب

## " يوه ويريدونکي حضوري "

زۀ په خپله باغيچه کښې ګرځيدم، ما ته په خپل زړۀ کښې يو ناآشنا بې قرارى محسوس شوه. نمر په راختلو وو. د نرګس د ګلونو خوشبو په هوا کښې خوره وه. زۀ حيرانه وم چې دا څۀ دى چې د هغې په وجه زۀ دومره بې قراره يم.

زۀ ودريدم اؤ چاپيره مې وکتل. زما په کور کښې د چمن نه په لږه فاصله باندې د ډوډۍ خوړلو په کوټه کښې نوکر صفائى کوله. بهر هر اړخ ته خاموشى وه. د خپلې خوب کوټې د پاره چې کله ما ګلونه راشوکول، نو څۀ څيز زما د سر د پاڅه په تيزۍ سره تير شو. زۀ ويريدم چې دا څۀ وو؟ تکه توره وريځ اؤ يو ناپاکه حضورى وه چې زما د سر د پاڅه تيره شوه. اؤ ناڅاپى راته په باغيچه کښې د مخکښې په نسبت زياته تيارۀ ښکاره شوه. د ګڼو ونو بوټو نه يوه تيزه هوا راغله اؤ زۀ ورپيدم.

ما خپل ځان ته ووئيل! بلقيس په هوش کښې شه. زما خيالونو ما له دوکه راکوله. بيا هم ما ګلونه راوشوکول اؤ زر د خپلې کوټې اړخ ته لاړم. چرته چې د کوټې په سورو کښې راتلونکې رڼا ما ته هر

کلے وئیلو. د سپینو کاڼو نه جوړ شوی د کور مضبوط دیوالونه اؤ د دیار د لرګی نه جوړ شوی ورونه زما حفاظت کوؤنکی وو.

کله چې زۀ تلم نو په شا مې بیا بیا کتل. ما به همیشه هغه خبرو پورې خاندل اؤ تهوقې به مې ورپورې کولې کومې چې به د فطرت خلاف وې. آیا واقعی د څۀ څیز وجود نۀ وو. د دې په جواب کښې ما په خپل ښی لاس باندې یو نالیدونکې سپیره یعنی ګزار محسوس کړو.

ما چغې کړې! کله چې زۀ کور ته دننه شوم نو دروازه مې په تیزئ سره بند کړه. نوکرانو په خاموشئ سره زما اړخ ته رامنډې کړې، ځکه چې زۀ به په خپله د یو بت په شان وم. د اودۀ کیدو نه مخکښې آخر کار ما خپلو دواړو خدمت ګارانو سره د دې واقعې بیانولو همت وکړو. کله چې ما هغوئ ته خپله قیصه وکړه نو ما ترې نه تپوس وکړو چې آیا تاسو پیریان منئ. نورجهان اؤ ریشم دواړو ما له هیڅ جواب را نۀ کړو، په دوئ کښې یوه مسلمانه وه اؤ بله مسیحی وه. خو نورجهان چې لاسونه یې د ویرې نه رپیدل، هغې ووئیل، ولې زۀ د کلی امام را وغواړم څۀ چې هغه اوبۀ دم کړی او په باغیچه کښې به یې واچوؤ. خو زۀ په هوش کښې وم اؤ ښۀ پوهیدم، اؤ د جاهلو خلقو په ځنې کارونو مې یقین نۀ کولو. د دې نه علاوه ما نۀ غوښتل چې په کلی کښې چا ته د دې خبرې پته ولږی. ما د

هغې د همدردئ د پاره د خاندلو کوشش وکړو اؤ ورته مې ووئیل، زۀ نۀ غواړم چې څوک مذهبی کس زما کور ته راشی اؤ د پیریانو لرې کولو ډرامه وکړی. بهرحال کله چې خدمت ګاره لاړه نو ما قرآن مجید را واخستو. اؤ لږ ساعت د پاره مې تلاوت وکړو، اؤ بیا مې قرآن مجید د ریښمو په آسمانی رنګ کڅوړه کښې ونغښتو، اؤ اوده شوم.

بله ورځ سحر زۀ د خپل کټ نه داسې پاڅیدم لکه چې یو کس لامبو وهی اؤ د اوبو سر ته د راتلو کوشش کوی. زما په شعور کښې په قلاره شان آواز راتلو. لا اله الا الله محمد الرسول الله، د بانګ دا لفظونه په کوټه کښې زما تر غوږو راتلل. د الله پاک نه علاوه بل هیڅوک هم د عبادت لائق نشته اؤ محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی رسول دے. مسلمانانو له د مونځ د پاره د دعوت ورکولو دا آواز د تیرې شوې شپې نه وروستو ما ته ډیر ښۀ معلومیدو. دا یو داسې آواز وو چې ما د تیرو شوؤ ځلویښتو کالو راسې آؤریدلو. ما د سحر د دې آواز د معنې په باره کښې سوچ وکړو.

لږ ساعت مخکښې " واه " سره نزدې د پاکستان په یو وړوکی کلی کښې ملا مسلمانانو له د مونځ د پاره دعوت ورکولو. هغۀ وئیل، " د مونځ د پاره راشئ، د کامیابئ د پاره راشئ. مونځ د خوب نه غوره دے. د نمر راختلو سره سره دا آواز زما په غوږو

راتلو. د بانګ د دې پخوانی آواز سره د تیر شوی ماښام هغه واقعه بیا راتازه شوه. د معمول په مطابق زهٔ په خپل کار کښې مصروفه شوم. کار کولو سره به ما ته یو قسم تسلی ملاویده. کله چې زهٔ پاڅیدم نو ما خدمت ګارې ته د آواز ورکولو د پاره ټلئ ووهله، اؤ د ټلئ آواز آؤریدو سره نور په منډه دننه راغله، چا چې زما انتظار کولو. د دواړو خدمت کوؤنکو کوټه زما کوټې سره نزدې وه. اؤ یقینا چې هغوئ به زما د پاڅیدو نه یوه ګینټه مخکښې پاڅیدلې وې. اؤ زما د آواز په انتظار به وې. په کټ کښې به مې اول د سحر چائ ښبله. نور جهان زما د سنګار څیزونه په ترتیب کښې کیښودل شروع کړل. هغه یوه ځوانه جینئ وه. اؤ ډیره تابعداره وه. خو په کار کښې به یې لږه شان سستی کوله. کله چې د هغې د لاس نه برش پریوتو نو ما هغه ورټله. ریشم زما دویمه خدمت ګاره وه. د دې عمر لږ زیات وو، ډیرې خبرې به یې نهٔ کولې، اؤ اوچت قد یې لرلو. هغې د چائیو مجمه په لاس کښې نیولې وه اؤ کوټې ته راغله. اؤ چائ یې په میز باندې کیښوده. د لوښو نه یې کپړا لرې کړه اؤ ما له یې په پیالئ کښې ګرمه ګرمه چائ راکړه. ما ووئیل چې زما مور به یقینا زما د دې سوچ نه ډیره خفه شوې وه، ما هغه څو ځله لیدلې وه چې قبلې ته به یې مخ وو اؤ دعا به یې کوله. د خپلې مور په باره کښې سوچ کولو سره ما خپل سنګار میز اړخ ته وکتل، کوم چې

ډیر پخوانې وو، اؤ د نختر د لرګی نه جوړ وو، اؤ د سپینو پترې پرې لږیدلی وو. دا زما مور له خپلې مور په وراثت کښې ورکړې وو. خو اوس په وراثت کښې دا ما ته ملاؤ شوې وو. دوه پیالۍ چائ څښکلو نه پس زۀ مخکښې شوم، د دې مطلب دا وو چې ریشم زما ویښتۀ ګومنځ کړی، اؤ دې سره سره نورجهان زما نوکان کټ کول شروع کړل.

د کار سره سره هغوئ په زړۀ ور تیا سره د کلی په حالاتو اؤ واقعاتو باندې خبرې شروع کړې. نورجهان به خبره شروع کړه اؤ ریشم به په هغې باندې د خپلو خیالاتو اظهار کولو. هغې د یو هلک په باره کښې خبرې کولې چې د کلی نه ښار ته روان وو. اؤ بیا یې د یو قتل په باره کښې خبرې شروع کړې، کوم چې خواته په کلی کښې شوې وو. چرته چې د ریشم ترور اوسیده. ما محسوس کړل چې دې خبر سره ریشم وریږدیده. ځکه چې دا یو مسیحی جینئ وه چې وژلې شوې وه. څوک چې د یو مسیحی مشنری په کور کښې اوسیده.

د کلی په یو وړوکی چوک کښې هغه چا ووژله اؤ وتښتیدل. پولیس د دې تفتیش کولو. ما اتفاقا تپوس وکړو، د جینئ په باره کښې څۀ خبر ملاؤ شوې دے؟ ریشم په قلاره شان جواب راکړو، نه

بیګم صاحبې! اؤ دې وئیلو سره یې زما ویښته کونسئ کول شروع کړل.

ما ته پته وه چې ریشم څوک چې په خپله هم مسیحی وه، نو هغې د قتل په باره کښې خبرې کول ولې نهٔ غوښتل. زما په شان هغې ته هم معلومه وه چې هغه جینئ چا وژلې ده ؟ هغه جینئ خپل مذهب اسلام پریښودې وو اؤ مسیحی شوې وه. نو د شرم دا داغ چې د هغې په کورنئ باندې لږیدلې وو، نو د دې په وجه د هغې ورور په غصه کښې راغلو اؤ په اسلامی قانون یې عمل وکړو. یعنی څوک چې اسلام پریږدی ( یعنی مرتد شی ) نو د هغوئ سزا مرګ دے. د اسلام دا فتوی ډیره سخته ده.

خو همیشه داسې جذباتی خلق موجود وی چې هغوئ لفظی معنې په عملی طور پوره کوی. هر چا ته دا معلومه وه چې دا جینئ چا وژلې ده. خو هیڅ کاروائی به پرې نهٔ کیده. ځکه چې همیشه هم داسې شوی دی. یو کال مخکښې یو عیسائی چې د یو مشنری په کور کښې یې کار کولو، په یو کنده کښې مړ پروت وو. هغه چا پانسی کړے وو. اؤ د دې د پاره هیڅ کاروائی نهٔ وه شوې. ما د خفګان دا قیصه د خپل ذهن نه وویستله اؤ د پاڅیدو د پاره تیاره شوم. زما خدمت ګارې د الماریٔ نه د ریښمو جامې ما له راوړې چې زهٔ په کښې د اچولو د پاره خوښې کړم. ما د یوې جوړې اړخ ته

اشاره وکړه اؤ هغه مې واچوله. اؤ خدمت ګاره ډیر په احترام سره زما د کوټې نه لاړه.

د نمر رڼا زما د خوب په کوټه کښې خپله رنګینی ښودله. په سنګار میز باندې د سور رنګ فریم کښې تصویر سره د نمر رڼا ځلیده. زۀ پاڅیدم اؤ دا تصویر مې را واخستلو. زۀ غصه وم. ځکه چې ما پرون دا تصویر په میز باندې کیښودې وو. خدمت ګارانو کښې به یوې دا دلته کیښودې وی. په دې فریم کښې د یوې سمبال شوې جوړې تصویر وو، کوم چې په لندن کښې یو زبردست هوټل کښې ویستلې شوې وو. د خپلې مرضۍ خلاف ما تصویر ته یو نظر بیا وکتل. زما حالت د یو داسې کس په شان وو چې د تکلیف ورکوؤنکی حقیقت د پټولو کوشش کوی. د تورو بریتو اؤ ځلیدونکو سترګو والا دا ځوان زما خاوند جنرل شیخ وو. ما دا تصویر خپل ځان سره ولې کیښودې وو. د نفرت یوه چپه زما وجود ته را دننه شوه. په یو وخت کښې چې کله ما دا محسوسول چې د هغۀ نه بغیر ژوند تیرول ګران دی، شپږ کاله مخکښې کله چې دا تصویر ویستلې شوې وو نو هغه وخت خالد د پاکستان وزیر داخله وو، اؤ د هغۀ سره ناسته دا ښائسته ښځه زۀ وم. زۀ د یوې مسلمانې کورنۍ نه وم.

زما د خاندان خلق د تیرو شوؤ اوؤ سوؤ کالو راسې د خیبر پختونخوا په یخه علاقه کښې اوسیدل، چې په یو وخت کښې ورته شمالی مغربی هندوستان وئیلې کیدو. ما په دنیا کښې د ډیرو سیاسی اؤ کاروباری خلقو میلمستیا کړې وه. په لندن اؤ پیرس کښې د اوسیدو په دوران کښې هیروډس Harrods اؤ روډی لاپیکس Rue De La Pix کښې مختلف څیزونه اخستل زما د معمول یوه حصه وه. ما په شیشه کښې وکتل اؤ دا خیال مې وکړو چې په تصویر کښې دا کومه ښځه خاندی نو دا اوس نشته. اوس د دې په بدن باندې د بوډا والی نخښې ښکاره کیدې. پنځۀ کاله وشو چې د خالد د تلو نه پس د تصویر دا دنیا ورانه شوې وه. ما په لندن، پیرس اؤ راولپنډۍ کښې د عیش اؤ عشرت ژوند پریښودو اؤ همالیه ته د خپل خاندان په جائیداد کښې اوسیدو د پاره راغلې وم.

په " واه " په دې علاقه کښې واړۀ واړۀ غرونه دی. دلته ما خپل د ماشوموالی ژوند تیر کړې وو." واه " د باغونو نه ډک وو.

دا باغونه زما پلار نیکونو لیګولی وو. د غتو غتو کاڼو نه جوړ شوے زمونږ کور د خپلو ټولو منارو سره داسې زوړ ښکاریدو لکه چې د واؤرې نه ډک غر چې د مغرب اړخ ته ښکاری، زما ترور هم په دې کور کښې اوسیده نو په دې وجه زۀ د یواځې اوسیدو د

پاره په یو وړوکی کور کښې اوسیدم، کوم چې زما کورنۍ د دې کور نه لږ شان بهر جوړ کړے وو.

په دولس ایکړه کښې دا جوړ شوے کور لکه د یو ملغلرې په شان ښکاریدو. زما د آرام د پاره په دې کور کښې هر یو سهولت موجود وو. ما چې د دې کور په هکله څنګه سوچ کولو نو دا زما د سوچ اؤ د امید نه هم زیات ښکلے وو. په دې کښې یو لوئ باغ وو اؤ هغه نور هم ډیر ښۀ شوے وو. دا د یو لوئ برکت وجه وه. ځکه چې ما د خپل غم زیاته حصه په دې زمکه کښې دفن کړې وه. په څۀ زمکه کښې مو فصل وکرلو، اؤ څۀ زمکه مو هم هغه شان قدرتی حالت کښې پریښوده. په قلاره قلاره دا باغ د ښکلو نغمو وئیونکو مرغو سره زما دنیا جوړه شوه. تردې پورې چې تر نولس سوه شپږ شپیتۀ پورې زۀ د یو داسې ښځې په طور مشهوره وم چا چې په تنهایئ کښې د ګلونو نه خپل کور جوړ کړے وی. ما تصویر ته یو ځل وکتل اؤ هغه مې واخستو اؤ په میز باندې مې کیښودو.

ما په کړکئ کښې د واه کلی نظاره کوله. د دې کلی د نوم مطلب د خوشحالئ کلمه وه. ډیرې پیړئ مخکښې یو مغل بادشاه چې نوم یې اکبر بادشاه وو هغه د خپلې قافلې سره په دې لاره تیر شوے وو. د هغۀ قافله د دې چینې خواته ودریدلې وه کومه چې

اوس زما د اوسیدو ځایٔ وو. د ونې لاندې آرام کولو په وخت هغهٔ ووئیل، واه ! اؤ دغه شان د دې ځایٔ نوم هم دا کیښودے شو.

خو د دې نظارې یادولو سره ما ته هیڅ آرام ملاؤ نهٔ شو. د تیر شوی ماښام هغه نا آشنا واقعه اوس هم زما په ذهن کښې وه اؤ زهٔ یې ډیره خفه کړې وم. بهرحال زهٔ کړکۍ سره خوا ته ولاړه وم اؤ دا کوشش مې کولو چې دا واقعه د خپل ذهن نه وباسم. دا دویم سحر وو اؤ ما خپل ځان ته ووئیل چې خپل ژوند یو ځل بیا هغه شان شروع کړم. دا تیره شوې واقعه حقیقی ښکاریده. خو د دې حقیقت د یو ویروونکی خوب په شان وو. ما د کړکۍ سپینې پردې لرې کړې اؤ د سحر د تازه هوا نه مې مزه واخسته.

د نوکر د صفایۍ کولو آواز راتلو. اؤ د سحر په فضا کښې د اوبو د ژرندې هم آواز راتلو. اؤ د دې نه علاوه په فضا کښې د سوزیدلی لرګی بوئ هم راتلو. ما ساه واخسته. اؤ دا واه وه. زما کور دلته کښې په حفاظت کښې وو.

دا هغه ځایٔ وو چرته چې شهزاده نواب محمد حیات د یو زمیندار په حیثیت اووهٔ سوه کاله مخکښې دلته اوسیدو. مونږ د دهٔ د نسل نه وو. اؤ په ټول هندوستان کښې زمونږه کورنۍ د واه د زمیندار په طور مشهوره وه.

ډیرې صدۍ مخکښې بادشاهان به په دې لاره تیریدل نو هغوئ به زمونږ پلار نیکونو سره ملاویدلو د پاره راتلل، اؤ کله چې زۀ په ښۀ بد پوهه شوم نو په هغه وخت کښې هم د یورپ اؤ د ایشیاء ډیر سیلانی خلق په دې لاره تیریدل. دا په هندوستان کښې د قافلو د پاره یوه زړه لار وه. خو اوس عام طور باندې صرف زما کورنۍ به زما خوا ته په دې لاره راتله. زما زیات وخت به اوس د خپلې کورنۍ د خلقو سره یو ځائ تیریدو، اؤ نورو کسانو سره د ملاویدو هم ما ته ضرورت نۀ وو. زما څوارلس خادمان وو اؤ د هغوئ په وجه به زما کور ډیر روښانه وو. هغوئ پیړئ په پیړئ زما د کورنۍ خدمت کړے وو. اؤ زما د ټولو نه لویه خوشحالی محمود وو.

زما نواسے محمود د څلورو کالو وو. زما درې بچی وو اؤ د محمود مور چې نوم یې ټونی وو هغه زما په بچو کښې د ټولو نه کشره وه. اؤ هغه ډیره ښائسته وه. ټونی په راولپنډۍ کښې په هولی فیملی هسپتال کښې ډاکټره وه. د هغې خاوند یو ډیر مشهور زمیندار وو. د هغې د وادۀ ژوند ښۀ نۀ وو. په قلاره د هغې د وادۀ ژوند د تباهۍ اړخ ته روان وو. کله چې به د هغوئ په مینځ کښې ډیرې جنګ جګړې پیدا شوې نو هغې به محمود زما خوا ته راولیږلو. یوه ورځ ټونی اؤ د هغې خاوند ما سره ملاویدو د پاره راغلل، اؤ ما ته یې ووئیل، چې آیا د یو کال د پاره محمود دلته ما

سره پاتې کيدے شی؟ تر څو چې زمونږ په مينځ کښې دا جنګ جګړې ختمې شوې نۀ وې. ما ورته په جواب کښې ووئيل، نه.... ما دا نۀ غوښتل چې د محمود حيثيت لکه د يو ټينس بال په شان وی. خو زۀ د دې خبرې د پاره راضی يم چې محمود د خپل ناسکه زوی په طور ما سره پاتې شی. د افسوس خبره ده چې د ټونی اؤ د هغې د خاوند خپلو کښې تعلق ښۀ نۀ شو. اؤ آخر کار خبره طلاق ته ورسيده. نو هغوئ ما له دا اجازت راکړو چې زۀ محمود د خپل ناسکه زوی په حيثيت ځان سره وساتم. اؤ دا هر څۀ ډير ښۀ ښکاريدل.

ټونی به اکثر محمود سره ملاويدو د پاره راتله اؤ مونږ درې واړه يو بل ته ډير نزدې اؤ ګران وو. خاص طور باندې په دې وجه چې زما نور بچی زما نه ډير لرې وو. د محمود ما سره درې کاله وشول. اؤ دا ښکلے د خړ رنګ سترګو واله ماشوم زما د خوشحالو مرکز جوړ شوے وو. د محمود د ماشوم والی خندا به زما يوائې ژوند روښانه کولو. ما دا فکر کولو چې زما غوندې د ښځې به د دې ماشوم په ژوند څۀ اثر کيږی. ما به د دې خبرې خيال ساتلو چې د هغۀ هر يو خواهش پوره کړم. درې خادمان مې د هغۀ د خيال ساتلو د پاره مقرر کړی وو. اؤ دا خادمان به هر وخت د هغۀ په خدمت کښې لګيا وو. د يو څو ورځو داسې محمود هيڅ هم نۀ

خوړل نو په دې وجه زۀ لږه فکرمنده وم. عجیبه خبره خو دا وه چې محمود به اکثر باورچی خانې (اشفاس خانې) ته لاړو اؤ خادمان به یې په خبرو کړل اؤ بسکټ وغیره به یې وخوړل. ما محمود په مینې سره خپل ځان سره کړو اؤ د هغۀ خادمانو نه مې تپوس وکړو چې هغۀ څۀ خوړلی دی کۀ نه ؟ نو خادمې په قلاره شان ووئیل، نۀ بیګم صاحبې هغۀ څۀ نۀ دی خوړلی. خو کله چې ما محمود د ډوډۍ خوړلو د پاره مجبوره کړو نو هغۀ ووئیل چې زۀ موړ یم. زۀ ډیره بې آرامه وم کله چې نورجهان زما خوا ته یواځې راغله اؤ په ویرې سره یې ما ته ووئیل چې محمود باندې پیریان دی، اؤ دې خبرې اوریدو سره زما سترګې د حیرانتیا نه کولاؤ پاتې شوې.

ما د هغې اړخ ته وکتل اؤ ما ته هغه تیره شوې واقعه رایاده شوه. آخر دا هر څۀ، څۀ دی. یو ځل بیا ما محمود د ډوډۍ خوړلو د پاره مجبوره کړو. خو دې هیڅ فائده ونۀ کړه. هغۀ د خپلې خوښې چاکلیټ هم نۀ خوړلو کوم چې ما خاص طور باندې د هغۀ د پاره راغوښتلی وو. کله چې ما هغۀ له چاکلیټ ورکړو نو هغۀ ما ته وکتل اؤ ما ته کتلو سره یې ووئیل چې ډوډۍ خو زما خوښه ده خو کله چې زۀ د دې د تیرولو کوشش کوم نو ما ته درد محسوسیږی. دې اوریدو سره په ما کښې ویره پیدا شوه چې یو وخت داسې وو کله چې دا ماشوم ډیر چالاک وو اؤ اوس په هغۀ کښې سستی پیدا

شوي وه، ما سمدستی خپل ډرائیور منظور راوغوښتلو اؤ هغۀ ته مې ووئیل چې ګاډے راوله.

په یوه ګینټه کښې مونږ راولپنډۍ ته د ډاکټر خوا ته ورسیدو. ډاکټر د محمود په ښۀ طریقې سره معائنه وکړه، اؤ مونږ ته یې ووئیل چې محمود ته هیڅ قسمه تکلیف نشته. نو کله چې مونږ واپس راتلو اؤ ما محمود دومره خاموشه ولیدو نو زۀ ډیره زیاته خفه شوم. ما ته د نورجهان خبره رښتیا ښکاره شوه.

آیا دا د فطرت په مطابق خبره وه؟ آیا په هغۀ باندې واقعی پیریان وو؟ ما هغه په خپله غیږ کښې واخستو. اؤ د داسې قسمه سوچونو کولو د پاره ما خپل ځان پورې وخاندل. ما ته یاد دی چې یو ځل زما پلار د یو مسلمان پیر په حقله وئیلی وو چا چې به معجزې کولې. ما هغۀ پورې ډیر زیات خاندلی وو. اؤ دې سره زما پلار خفه شو. اؤ د داسې قسمه خبرو په هکله زما خیالات اؤ سوچونه نن هم هغه شان وو.

خو کله چې ګاډے زمونږ د کور اړخ ته تاؤ شو نو ما سوچ وکړو چې آیا د محمود مسئله په باغیچه کښې د دې تورو وریځو په وجه خو نۀ ده؟ کله چې ما دا خبره نورجهان ته وکړه نو هغې ډیر په خفګان سره ما ته خواست وکړو چې کۀ ستا خوښه وی نو زۀ به د

کلی ملا راوغوارم چې هغه د محمود د پاره دعا وکړی اؤ په باغيچه کښې دم کړې اوبۀ وشيندې. ما د هغې په دې خبره باندې سوچ وکړو. ما د اسلامی بنيادی تعليم منلو خو د مونځ اؤ د روژې به مې دومره ډيره پابندی نۀ کوله. محمود سره زما مينه زما په شکونو باندې غالبه شوې وه. اؤ ما نورجهان ته ووئيل چې هغه دې د جماعت نه ملا راوغواړی.

بله ورځ سحر وختی زۀ اؤ محمود د کړکۍ سره نزدې ناست وو اؤ ډير په بې آرامۍ سره مو د ملا صاحب انتظار کولو. آخر کار ما هغه وليدو چې په پوړو را کوزيدو. نورجهان دا سړے راوستلو اؤ په خپله لاړه. محمود ناآشنا نظر سره هغۀ ته وکتل.

کله چې هغۀ قرآن مجيد کولاولو نو هغۀ د محمود په سر لاس کيښودو اؤ په خپل انداز کښې يې ووئيل،قل. ملا صاحب د قل تلاوت شروع کړو. اؤ ملا صاحب ما ته هم ووئيل چې قرآن مجيد ولولم. هغۀ ما ته سورة فلق اؤ سورة الناس ياد کړو چې دا ولولم کوم چې خلق د مصيبت اؤ تکليف په وخت لولی، اؤ هغۀ ما ته هم ووئيل چې زۀ هم دا ولولم. نو ما په زړۀ کښې دا ووئيل چې خدائ پاک زۀ هيره کړې يم اؤ ما هم خدائ پاک هير کړے دے خو کله چې ما هغه مشر سړی ته وکتل نو هغۀ ته کتلو سره زما رويه اؤ لهجه کښې نرم والے پيدا شو. آخر هغه زما په وينا باندې د محمود د ښۀ کولو د

پاره راغلے وو. ما قرآن مجید راواخستو اؤ د تلاوت کولو د پاره مې کولاؤ کړو. اؤ چې کله ما دا کولاؤ کړو نو زما مخې ته دا آیت راووتلو. حضرت محمد د اللّٰه پیغمبر دے اؤ څوک چې د هغهٔ سره دی هغوئ د کافرانو خلاف سخت دی. ( **سورة الفتح آیت ۲۹**).

دې سره ټولې تیرې شوې واقعې زما په خیالونو اؤ سوچونو کښې راغلې. زما ذهن ته دا خیال راغلو چې د دې ټولو واقعو زما اؤ د محمود د ژوند سره څهٔ حقیقی تعلق شته. زهٔ د ویرې نه ورپیدم. خو ملا صاحب په آرام اؤ سکون سره ناست وو.

زما د مصروفه اوسیدو باوجود هغه تر دریوؤ ورځو پورې په محمود د دم اچولو د پاره راتلو. د ځنی نورو نا آشنا واقعو نه پس د محمود صحت په خپله لږ شان ښهٔ شو. په دې ټولو واقعو کښې څهٔ راز وو، د دې حقیقت ډیر زر ما ته ښکاره کیدونکے وو. ځکه چې زما د پیژندلو نه بغیر څهٔ داسې واقعې راپیښې شوې وې کومو چې تیر شوے وخت تباه اؤ برباد کولو.

---

# دویم باب

## "عجیبه کتاب"

د دې تجربو نه پس زما توجو د قرآن مجید طرف ته شوه. کیدے شی چې په دې کښې د دې تعبیر وی اؤ دې سره زما باطنی کمے هم پوره کړی. یقینا چې د قرآن مجید په عربی ټکو کښې زما د کورنۍ د پاره د هغوئ د سوالونو جوابونه موجود وو.

یقینا چې ما قرآن مجید مخکښې لوستلے وو. ما ته ښۀ یاد دی چې کله زۀ د څلورو کالو اؤ څلورو میاشتو اؤ د څلورو ورځو وم نو ما د قرآن مجید لوستل زده کول شروع کړی وو. په هغه موقعه باندې یوه لویه میلمستیا وکړے شوه چې په کښې زمونږ ټول رشته داران شامل شوی وو. د دې نه پس په کلی کښې د ملا صاحب ښځې ما ته د قرآن مجید د عربۍ ټکی ښودل شروع کړل. خاص طور باندې ما ته فتح کاکا یاد دے. مونږ به هغۀ ته مشر کاکا وئیل. هغه زما څکه یعنی خپل ترۀ نۀ وو. خو د کورنۍ سره د ډیر نزدې تعلق لرلو په وجه به مونږ هغۀ ته کاکا وئیل. ما ته ښۀ یاد دی چې کله ما ته دا قیصه بیان کړے شوه چې حضرت جبرائیل فرښته

د حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم خواته راغله اؤ په ۲۱۰ء کښې یې هغۀ له د قرآن مجید تعلیم ورکول شروع کړل.

په اول ځل ما دا مقدس کتاب په اوؤۀ کاله کښې ولوستلو. خو کله چې ما د قرآن مجید ختم وکړو نو یو ځل بیا زمونږ په کورنۍ کښې د میلمستیا دعوت ورکړے شو. د دې نه مخکښې ما قرآن مجید د یو فرض په طور باندې لوستلے وو. خو دا ځل ما فیصله وکړه چې زۀ به ډیر په غور سره قرآن مجید د ترجمې سره لولم. د قرآن مجید هغه جلد کوم چې زما مور ما له راکړے وو ما د هغې لوستل شروع کړل. اؤ ما دا د اولنی آیت نه شروع کړو. ما هغه اولنے پیغام ولوستلو کوم چې حضرت محمد علیه السلام ته په غار حرا کښې ملاؤ شوې وو، کله چې هغه په غار حرا کښې یواځې ناست وو: "( اے محمد) د خپل پروردګار نوم واخله اؤ ولوله چا چې تۀ پیدا کړې. چا چې انسان د وینې نه پیدا کړو. ولوله ځکه چې ستا پروردګار ډیر کریم دے. چا چې د قلم په وسیله علم وښودلو." (سورة علق ۱_۴)

اول خو زۀ د دې ټکو په ښکلا کښې مشغوله شوم. خو بیا وروستو ځنې ټکی داسې وو چې زما د پاره د هیڅ قسمه تسلۍ سبب نۀ وو.

" اؤ بيا چې کله هغه خپل ميعاد ته نزدې شی نو يا خو هغه په ښۀ طريقې سره پريږدئ اؤ يا يې په ښۀ طريقې سره جدا کړئ." ( سورة الطلاق آيت ۲).

زما د خاوند په سترګو کښې د فولادو په شان سختی وه. کله چې هغۀ ما ته ووئيل چې هغه ما سره مينه نۀ کوی! کله چې هغۀ ما ته دا خبره وکړه نو زۀ په خپل باطن کښې په رپيدو شوم. هغه کالونه کوم چې مونږ يو ځائ تير کړی وو د هغې څۀ وشول؟ آيا هغه هم داسې ختمولے يا هيريدے شی. آيا د قرآن مجيد په مطابق زۀ خپل ميعاد ته رسيدلې وم.

بله ورځ سحر ما بيا قرآن مجيد راواخستو. زما اميد وو چې ما ته به هغه تسلی ملاؤ شی د کومې چې ما ته ډير زيات ضرورت وو، هغه سکون اؤ تسلی د کوم چې زۀ په لټون کښې ومه. هغه خو راته ملاؤ نۀ شو. خو ما ته دا ضرور معلومه شوله چې ژوندئ به څنګه پاتې کيږم اؤ د نورو عقيدو نه به څنګه خبرداره کيږم. د حضرت عيسی عليه السلام په باره کښې يو آيت وو چې د هغې پيغام د قرآن مجيد په مطابق اولنو عيسايانو په غلط انداز کښې پيش کړے دے. عيسی عليه السلام د پيغلې نه پيدا شو. خو هغه د خدائ زوئ نۀ وو. بهرحال قرآن مجيد د عيسائی عقيدې د تثليث نه د خبرداره کيدو د پاره ووئيل چې درې مۀ وايئ. ستاسو د پاره دا

ښه ده چې د دې نه راوګرځئ ځکه چې الله تعالی یو دے. څو ورځې د قرآن مجید د تلاوت کولو نه پس یوه ورځ غرمه ما قرآن مجید کیښودو اؤ پاڅیدم. اؤ د خپلې باغیچې اړخ ته لاړم. زما امید وو چې خطرې اؤ زاړهٔ یادونه به ما له څهٔ نه څهٔ سکون اؤ تسلی راکړی.

فطرت یو ښکلې نظاره پیش کوله اؤ هر اړخ ته شنهٔ ونو بوټو اؤ ګلونو خپله ښکلا اؤ رنګینی ښودله. ورځ ښه ګرمه وه. محمود په هغه لار باندې تلو په کومه چې به زهٔ په وړوکوالی کښې د خپل پلار سره تلم. زما په خیال کښې دا تصویر وو چې هغه زما سره روان دے. د حکومت د وزیر په شان هغهٔ به د برطانیې لباس اغوستے وو. اؤ اکثر به هغهٔ ما ته پوره نوم اخستلو یعنی "بلقیس سلطانه" ما ته به دې نوم آؤریدو سره خوشحالی ملاویده. ځکه چې بلقیس د شیبا د ملکې اولنے نوم وو اؤ هر چاته معلومه وه چې د سلطانه مطلب شاهی دے. اؤ مونږ به تر ډیر وخته پورې خبرې اترې کولے اؤ په آخری کالونو کښې مونږ د خپل نوی ملک پاکستان په باره کښې خبرو اترو کولو نه مزه اخستله. هغهٔ په دې ملک باندې ډیر فخر کولو. د پاکستان اسلامی سلطنت خاص طور باندې د جنوبی ایشیاء د مسلمانانو د پاره په وجود کښې راغلے وو. هغوئ به وئیل چې مونږ په دنیا کښې د ټولو نه لوئ اسلامی سلطنت یو چې په کښې اسلامی قانون دے. اؤ هغوئ به دا خبره هم کوله چې ۹۲

فيصده آبادي د مسلمانانو ده. اؤ باقی د عيسايانو، هندوانو، اؤ د بتانو د عبادت کوونکو خلقو ډلې دی.

په غرونو باندې د ليونډر ګلونو ته ما د خپلې باغيچې نه وکتل. ما ته به اکثر د پلار په موجودګئ کښې ډير سکون ملاويدو، اؤ د هغۀ په آخرى ورځو کښې خو زۀ د هغۀ ملګرې جوړه شوې وم. ما به اکثر په خپل ملک کښې د سياست د بدلون په حقله خبرې کولې اؤ د خپلو خيالاتو اظهار به مې کولو، اؤ هغه يو ډير نرم مزاجه اؤ عقل مند سړے وو. خو اوس هغه د دې دنيا نه رخصت شوے وو. ما ته ياد دی چې زۀ د هغۀ کولاؤ قبر ته ولاړه وم چې د لندن نه بهر بروک ووډ (Brook Wood) کښې د مسلمانانو په مقبره کښې دے. هغه لندن ته د آپريشن د پاره راغلے وو. خو شفا ورته ملاؤ نۀ شوه. د اسلامی رواج اؤ دستور په مطابق لاش په ثليريشت ګينټو کښې ښخول پکار دی. کله چې زۀ قبر خوا ته ورسيدم نو هغوئ لاش په قبر کښې کيښودو اؤ زما د پاره په دې خبره يقين کول ډير ګران وو چې زۀ به بيا خپل پلار ونۀ وينم. هغوئ زما د پلار مخ ښکاره کړو اؤ ما د خپل پلار آخرى ديدن وکړو. خو اوس په سپين کفن کښې انغښتې دا لاش زما د پلار نۀ ښکاريدو. هغه چرته لاړو. زۀ لکه د يو بت په شان ولاړه وم اؤ د تابوت سر واپس بند کړے شو. اؤ په تابوت چې کوم يو ميخ وهلے کيدو نو دا داسې وه لکه چې دا

زما په بدن ټکولے کیږی. اووۀ کاله پس زما مور هم د دې دنیا نه رخصت شوه.

تیارۀ راخوره شوې وه اؤ زۀ د ماښام په تیارۀ کښې ولاړه وم. اؤ زړو یادونو د سکون اؤ تسلئ په ځائ ما له درد اؤ تکلیف راکولو. اؤ د لرې نه د بانګ آواز راتلو چې ملا خلقو له د مونځ د پاره دعوت ورکولو. اؤ د هغه آواز اؤریدو سره ما ته خپل ځان نور هم یواځې ښکاره شو. د دعا په انداز کښې ما ووئیل "اے الله ! هغه آرام اؤ سکون چرته دے د کوم چې تا وعده کړې ده؟"

کله چې زۀ د اودۀ کیدو کوټې ته راغلم نو ما بیا قرآن مجید راواخستلو. اؤ کله چې ما تلاوت شروع کړو نو زۀ د عیسایانو اؤ د یهودیانو د کتابونو د حوالو نه متاثره شوم کوم چې د قرآن مجید نه مخکښې نازل شوی وو. ما دا خیال وکړو چې په دې کتابونو کښې خپل لټون جاری وساتم.

خو د دې مطلب به دا وی چې زۀ کتاب مقدس ولولم. کتاب مقدس مدد راکولے شی، خو اولنو عیسایانو دا بدل کړے دے. خو بیا هم د کتاب مقدس لوستلو د پاره زما خواهش زیاتیدو. په بائبل مقدس کښې د خدائ پاک تصور څۀ دے؟ دا د حضرت عیسی

مسيح په باره کښې څۀ وائی؟ زما په خيال ما له د دې لوستل پکار دی.

خو اوس مسئله دا وه چې کتاب مقدس چرته پيدا کړم. زمونږ په علاقه کښې په يو دوکان کښې هم کتاب مقدس موجود نۀ وو. کيدے شی ريشم سره کتاب مقدس وی. خو ما دا خيال هم پريښودو. کۀ هغې سره وی نو بيا هم هغه به زما په دې خبره باندې ډيره خفه شی. ځکه چې پاکستانيان صرف په دې وجه باندې قتل کړے شوی وو چې هغوئ يو مسلمان کس عيسائی کولو. ما د خپلو نورو عيسايانو نوکرانو په حقله سوچ وکړو. زما کورنئ ما ته وئيلی وو چې زۀ عيسايان خپل نوکران ونۀ ساتم، ځکه چې په هغوئ اعتبار کول ګران وی. خو ما د دې خبرې هيڅ پرواه نۀ کوله. ځکه چې تر کومې پورې هغوئ خپل کار په صحيح طريقې سره کولو نو ما ته تسلی ملاؤ وه. بې شکه چې هغوئ ډير مخلصه نۀ وو.

کله چې د بهر ملک مشنری برصغير هندوپاک ته راغلل، نو د کم ذاته خلقو عيسايان جوړول آسان وو. نو دغه شان ډير خلق څوک چې عيسايان شوی وو نو په هغوئ کښې زيات هم د دغه خلقو نه وو. په مسلمانانو کښې د دوئ هيڅ قدر نۀ وو. آيا د دوئ د عيسائی کيدو وجه هغه سهولتونه نۀ وو کوم چې هغه مشنريانو دوئ له ورکړی وو څوک چې د بهر ملکونو نه راغلی وو، اؤ په دې

سهولتونو کښې ډوډۍ، جامې اؤ تعلیم شامل وو. زمونږ په نظر کښې مشنریان ډیر سپک وو اؤ خندا به مو ورپورې کوله. خو هغوئ په هغه غریبانانو خلقو کښې ډیر زیات مشهور وو. یو ځو ورځې کیږی چې زما ډرائیور زما نه اجازت وغوښتلو چې هغه زمونږ د کور دا باغیچه یو مشنری ته ښودل غواړی. هغۀ ووئیل چې هغوئ د بهر نه دا باغیچه ولیده اؤ ډیر تعریف یې وکړو. ما هغۀ له اجازت ورکړو، اؤ ما دا خیال وکړو چې منظور غریب هغوئ داسې متاثره کول غواړی.

یو ځو ورځې پس ما په کړکۍ کښې کتل نو ما منظور د امریکې نه راغلې یوې جوړۍ سره ولیدو چې په باغیچه کښې ګرځیدل. منظور د هغوئ تعارف د پادری مچل اؤ مسزمچل په نوم سره وکړو. هغوئ دواړو د مغرب لباس اچولے وو. اؤ د هغوئ ویښتۀ تک سرۀ وو. ما سوچ وکړو چې دا خلق څنګه بې رنګه دی.

بهرحال ما مالی ته ووئیل کۀ چرې هغوئ تخم غواړی نو ورکړه، خو د هغوئ په باره کښې سوچ کولو سره ما ته د بائبل مقدس حاصلولو جواب ملاؤ شو. ما سوچ وکړو چې سبا به زۀ منظور ته ووایم چې هغه ما له بائبل مقدس راوړی. نو بله ورځ سحر ما هغه راوغوښتلو. هغه په سپینو جامو کښې د غریبۍ په حالت کښې زما په وړاندې ولاړ وو. په دې زۀ ډیره خفه وم. ما منظور ته

ووئیل ما له بائبل مقدس پکار دے. منظور په خفګان سره ووئیل"بائبل". ما ډیر په صبر سره هغهٔ ته ووئیل،"بې شکه بائبل" حالانکه منظور تعلیم نهٔ وو کړے نو په دې وجه ما ته معلومه وه چې هغهٔ سره به بائبل نهٔ وی. خو ما دا محسوس کړل چې هغه ما له بائبل مقدس پیدا کولے شی. خپل ځان سره هغهٔ څهٔ ووئیل چې زهٔ پرې پوهه نهٔ شوم. ما هغهٔ ته د حکم په طور ووئیل چې ما له بائبل مقدس پیدا کړه. هغه ډیر په احترام سره زما خوا نه لاړو. ما ته پته وه چې هغهٔ زما د دې غوښتنې په باره کښې ولې اعتراض کولو. د منظور طبعیت د ریشم په شان وو. هغوئ دواړه د هغه جینئ د قتل په وجه باندې ویریدل اؤ په دې ویره کښې وو چې د مالداره کورنو مسلمانانو له بائبل ورکول هغوئ په مصیبت کښې اچولے شی.

دوه ورځې پس منظور تونی سره د ملاقات د پاره زهٔ راولپنډئ ته بوتلم. منظوره! تر اوسه پورې بائبل ملاؤ نهٔ شو؟ ما وکتل چې د هغهٔ رنګ زیړ شو. بیګم صاحبې! زهٔ به تا له راوړم. درې ورځې پس ما هغه راوغوښتلو، اؤ ورته مې ووئیل منظوره! ما درې ځله تا ته د بائبل راوړلو د پاره ووئیل خو تا لاتر اوسه پورې نهٔ دے راوړے. زهٔ تا له یوه ورځ بله درکوم، کهٔ چرې په دې کښې دې بائبل ما له را نهٔ کړو نو ستا نوکری ختمه. هغه ډیر زیات حیران شو. هغهٔ ته معلومه وه چې زهٔ څهٔ وایم نو هغه کوم. د هغهٔ پښې ارجل برجل کیدے اؤ

زما له خوا نه لاړو. بله ورځ د ټونی د راتلو نه مخکښې يو وړوکے بائبل مقدس زما په کوټه کښې په ميز باندې پروت وو. ما هغه راواخستو اؤ په غور سره مې د هغې مشاهده وکړه. دا يو ساده شان د خړ رنګ بائبل وو چې په اردو ژبه کښې وو. يو سل اتيا کاله مخکښې يو انګريز د دې ترجمه کړې وه. اؤ زما د پاره داسې بې کاره جملو باندې پوهيدل ګران وو. يقينا چې دا به منظور د يو ملګری نه اخستے وی. دا بائبل غالبا نوے وو. ما د دې پاڼې واړولې اؤ بيا مې کيښودو اؤ دا زما نه هير شو.

څۀ موده پس ټونی را ورسيده. محمود ډير په خوشحالئ اؤ چغو سره د هغې اړخ ته منډه کړه. هغۀ ته پته وه چې د هغۀ مور به هغۀ د پاره د لوبو څيزونه راوړی وی. نو محمود د لوبو څيزونه واخستل اؤ بهر لاړو. مونږ دواړو چائ څښکله. په دې دوران کښې د ټونی نظر په هغه بائبل مقدس پريوتو کوم چې په ميز پروت وو. اوه، بائبل! ودريږه چې کولاؤ يې کړم اؤ وګورم چې په دې کښې څۀ ليکلی دی. زمونږ په کورنئ کښې به د هر يو مذهب د کتاب قدر کيدو. يو مقدس کتاب د فال په طور باندې کولاؤول يوه عامه خبره وه چې سترګې پټې کړی اؤ دا وګوری چې په کومه حصه باندې لاس کيږدی نو په هغې کښې څۀ نبوت شوے دے. بائبل مقدس يې کولاؤ کړو اؤ د هغې لفظونو ته يې کتل شروع کړل. بيا يوه واقعه

راپيښه شوه. زما توجو د ښی اړخ صفحې باندې پرېوته اؤ زۀ د هغې لوستلو د پاره ور مخکښې شوم.

" څوک چې زما امت نۀ وو، هغوئ ته به خپل امت ووايم، اؤ کوم قام چې زما محبوب نۀ وو، هغۀ ته به خپل محبوب ووايم. څکه چې په کوم ځائ کښې چې هغوئ ته دا وئيلې شوی وو چې تاسو زما امت نۀ يئ، هغوئ ته به د رب الحئ زامن ووئيلے شی." ( **رومیان ۹: ۲۵: ۲۶**).

زما بدن په رپيدو شو اؤ ما ساه اخستل بند کړل. ما ته دا نۀ وه معلومه چې دا آيت ولې ما دومره متاثره کوی څوک چې زما امت نۀ وو، هغوئ ته به خپل امت ووايم.... په کوم ځائ کښې چې هغوئ ته دا وئيلې شوی وو چې تاسو زما امت نۀ يئ، هغوئ ته به د رب الحئ زامن ووئيلے شی.

اؤ زۀ چې په کوم حالت کښې ناسته وم نو زما ملا هم هغه شان پاتې شوه. اؤ کله چې ما ټونی ته وکتل نو ټونی زما نه د څۀ اوريدو په انتظار کښې وه، چې ما څۀ وموندل. خو ما په اوچت آواز سره آيت ونۀ لوستلو. په هغې کښې زما د پاره دومره ژور والے وو چې صرف د مزې اخستلو د پاره د هغې لوستل زما د پاره ممکن وو. ټونی چې په کوم انداز سره ما ته کتل نو هغې دا پوښتنه کوله چې

موري ځۀ خبره ده؟ ما کتاب بند کړو اؤ په خاموشئ سره مې ووئیل چې اوس دا ټوقې پاتې نۀ شوې. هم دې سره ما د خبرو موضوع بدله کړه. د بل شوی اور په شان دا خبرې زما په باطن کښې بلیدې. اؤ د هغې انجام د هغه خوبونو تیاری وه کوم چې ما مخکښې کله هم نۀ وو لیدلی.

---

# دریم باب

## "خوبونه"

بله ورځ ما بیا کتاب مقدس راواخستو. کله چې ما د خبرو موضوع بدله کړه نو د هغې نه پس نۀ ټونی اؤ نۀ ما د بائبل مقدس په حقله څۀ ووئیل. خو تر ډیر وخته پورې د هغه حوالې ټکی زما په ذهن کښې موجود وو. بله ورځ سحر وختی زۀ په ډیرې تسلئ سره د بائبل مقدس لوستلو د پاره خپلې د خوب کوټې ته لاړم. ما بائبل مقدس راواخستو. اؤ خپلې ملا ته مې سپین بالختونه کیښودل اؤ کښیناستم. کله چې ما د بائبل مقدس پاڼې اړولې نو یوه بله د پریشانه کولو حواله زما مخې ته راغله.

**" خو بل پلو چې بنی اسرائیلو چې د شریعت په وسیله د خدائ سره د صادق کیدلو کوشش وکړو نو هغوئ کامیاب نۀ شول."** ( **رومیان ۹: ۳۱**).

ما سوچ وکړو واه! بالکل لکه څنګه چې قرآن مجید فرمائیلی دی چې یهودیانو خپل مقام بائیللے دے. کیدے شی چې د دې حوالو لیکونکے مسلمان وی. دا خبره په دې وجه زما خوښه شوه چې لیکونکی دا وئیل چې هغوئ د خدائ پاک صداقت ونۀ پیژندلو.

خو کله چې ما بله حواله ولوستله نو سکون راته ملاؤ شو. په مسیح د شریعت هدف انجام ته رسیدلے دے، د دې د پاره چې هر څوک چې پرې ایمان راوړی، د خدائ سره به صادق وی.

لږ وخت د پاره ما خپل نظر د کتاب نه واړولو. مسیح "د شریعت انجام دے. " ما بیا لوستل شروع کړل.

**"کلام درسره نزدې دے، دا ستا په شونډو اؤ ستا په زړهٔ کښې دے. دا د ایمان کلام دے چې مونږ یې بیانوؤ. ځکه چې ستا په خله دا اقرار وی چې عیسی مالک دے اؤ په زړهٔ کښې دې دا ایمان وی چې خدائ هغه د مړو نه راپاڅولو نو تهٔ به خلاصون بیا مومې."** ( **رومیان** ۱۰: ۸_ ۹).

ما خپل سر وخوزولو اؤ کتاب مې کیښودو. دا بالکل د قرآن مجید خلاف خبرې وې. مسلمانان دا ایمان لری چې حضرت عیسی مسیح صرف انسان وو اؤ دا انسان په سولئ نهٔ وو مړ شوے بلکه خدائ پاک هغه ژوندے آسمان ته اوچت کړو. اؤ د هغهٔ په شان بل کس د هغهٔ په ځائ په سولئ کړے شو. اؤ اوس هغه په لاندې آسمان کښې دے. اؤ هم دغه عیسی مسیح به یوه ورځ په دې دنیا باندې تر ځلویښتو کالو پورې بادشاهئ کولو د پاره راځی.

په حقیقت کښې ما آؤریدلی دی چې په مدینه کښې د هغهٔ د پاره یو ځائ موجود دے. په هغه ښار کښې چرته چې حضرت محمد دفن شوے دے. د قیامت په ورځ به عیسی مسیح راژوندے شی اؤ د نورو خلقو سره به د خدائ پاک د عدالت د تخت په وړاندې ولاړ وی. خو بائبل مقدس فرمائی چې حضرت عیسی مسیح د مړو نه راژوندے شوے دے، یا خو دا کفر دے. اؤ یا........ زما ذهن ګډوډ شو. ما ته معلومه وه چې څوک د الله تعالی نوم اخلی نو هغه به بچ کړے شی. خو دا خبره منل چې عیسی مسیح الله دے، زما د پاره یوه مسئله وه. حالانکه حضرت محمد آخری اؤ د ټولو نه لوئ پیغمبر وو. زهٔ په بستره کښې اوده شوم. اؤ زما لاسونه زما په سترګو پراتهٔ وو. ما سوچ وکړو، کهٔ چرې بائبل مقدس اؤ قرآن مجید د یو خدائ پاک زیرے ورکوی نو بیا په دې کښې دومره اختلاف ولې دے؟

پته نشته چې زهٔ څهٔ وخت اوده شوم. ما کله هم خوبونه نهٔ دی لیدلی. خو په دغه شپه ما خوب ولیدو. خوب د ژوند په شان وو اؤ واقعې دومره رښتینې وې چې زما د پاره دا منل ګران وو چې دا صرف یو خیال وو. زهٔ په خوب کښې وینم چې زهٔ یو سړی سره ډوډئ خورم. اؤ ما ته معلومه وه چې دا حضرت عیسی علیه السلام دے. هغه زما کور ته ما سره ملاویدو د پاره راغلے وو، اؤ تر دوؤ ورځو

پورې زما په کور کښې وو. د میز بل اړخ ته هغه ما ته مخامخ ناست وو، اؤ په اطمینان اؤ خوشحالئ سره مونږ ډوډئ وخوړه. ناڅاپه خوب بدل شو. اوس زۀ د غر په سر باندې د یو بل کس سره وم. هغۀ چوغه اؤ څپلئ اچولې وې.

دا څنګه ممکنه وه چې ما ته د هغۀ د نوم هم پته وه "یحیی بپتسمه ورکوونکے." څومره ناآشنا نوم وو. ما حضرت یحیی ته د عیسی مسیح سره د خپل ملاقات په حقله خبرې کولې. ما ورته ووئیل "مالک راغے اؤ تر دوؤ ورځو پورې زما میلمه وو. خو اوس هغه تلے دے. هغه چرته دے. دا لازمی ده چې زۀ د هغۀ لټون وکړم. یحیی کیدے شی تۀ ما ته هغه وښایې. دا خوب وو. اؤ کله چې زۀ پاڅیدم نو پاڅیدو سره مې په اوچت آواز دا نوم اخستلو، یحیی بپتسمه ورکوونکے، یحیی بپتسمه ورکوونکے."نورجهان اؤ ریشم په منډه زما کوټې ته راغلې. زما د چغو وهلو په وجه هغوئ لږې شان شرمنده شوې اؤ هغوئ داسې ظاهرول لکه چې هغوئ زما د غسل د پاره تیاری کوی. کله چې هغوئ په خپل کار کښې مصروفه شوې، نو ما هغوئ ته د خپل خوب بیانولو کوشش وکړو. نورجهان په خندا سره ما له د عطرو بوتل راکړو.

کله چې ریشم ما له سر ګومنځولو نو هغې په خاموشئ سره ووئیل، یقینا دا یو بختور خوب وو. زۀ په دې خبره حیرانه وم چې د

عیسائی کیدو په باوجود ریشم هیڅ قسمه خوشحالی ښکاره نهٔ کړه. ما د هغې نه د یحیی په حقله پوښتنه وکړه، خو بیا مې خپله سوچ وکړو چې ریشم خو یوه ساده کلي واله ښځه ده هغې غریبې ته به څهٔ پته وی چې یحیی څوک وو. تر کومې پورې چې ما د بائبل مقدس لوستنه کړې وه، نو ما ته د دې نوم پته نهٔ وه.

تر درېوؤ ورځو پورې ما د قرآن مجید اؤ د بائبل مقدس لوستنه جاری وساتله. کله به مې یو لوستلو اؤ کله بل. د قرآن مجید لوستل خو زما د پاره فرض وو. اؤ بیا دې سره سره ما د عیسایانو دا نوې کتاب د دې د پاره لوستلو چې کیدے شی په دې کښې ما ته هغه دنیا ملاؤ شی د کومې پته چې ما ته لړیدلې وه. کله چې به هم ما بائبل مقدس کولاؤ کړو نو ما ته به د جرم احساس کیدو. کیدے شی د جرم دا احساس زما د سخت تربیت کیدو په وجه وو.

کله چې زهٔ بالغه شوم نو بیا به هم زما پلار زما د لوستلو کتابونه کتل. یو ځل ما اؤ زما ورور په پټه باندې یو کتاب کوټې ته راوړے وو. اګرچه دا کتاب خراب نهٔ وو، خو بیا هم کله چې به مونږ هغه کتاب لوستلو مونږ به ډیر زیات ویریدو. اوس چې کله زهٔ بائبل مقدس کولاووم نو ما ته د هغه ویرې احساس کیږی.

---

# خلورم باب

## "مقابله"

منظور ګاډے سټارټ کړو اؤ ترڅو پورې چې زۀ نۀ وم راغلې نو هغه په ګاډی کښې ناست وو، د دې د پاره چې ګاډے ګرم وی. د هغۀ خړو سترګو تر اوسه پورې زما په فیصله باندې شک کولو. هغۀ په خله باندې هيڅ هم ونۀ وئیل. ما د ماښام په تیارۀ کښې ګاډے د خپل منزل اړخ ته روان کړو. اؤ ما سره خواته په بل سیټ باندې بائبل پروت وو. د واه په هغه کلی کښې هر چا یو بل پيژندل. د مسټر مچل کور په واه کښې د سیمنټو کارخانې سره نزدې وو. په هغه کارخانه کښې زمونږ د کورنۍ حصه وه. اؤ دا کارخانه د کلی نه تقریبا پينځۀ میله لرې وه. خو د یو وړې عجیبه معاشرې مرکز وو. کورونه لکه د فوجیانو د بیرکونو په شان وو. کوم چې د انګریزانو فوجیانو د پاره په دویم جنګ عظیم کښې عارضی طور باندې جوړ کړے شوی وو. اؤ د اوسپنی چتونه یې ځائ په ځائ دوباره مرمت کړی وو.

کله چې ما ګاډے چلولو نو په هغه وخت کښې زۀ په یو نا آشنا ویره اؤ توقعو کښې پرې وتم. د دې نه مخکښې زۀ کله هم د

عیسائی مشنری کور ته نۀ وم تلې. زما امید وو چې ما ته به د یحیی په باره کښې معلومه شی. بهرحال تر اوسه پورې زۀ په هغه ویره کښې وم، چې دا صرف د جواب ورکولو پیژندګلو نۀ وی. د یو عیسائی مشنری سره د ملاقات په حقله به زما رشته دار څۀ سوچ کوی. مثال په طور ما د خپل نیکۀ په حقله سوچ وکړو چې د افغانستان نه په جنګونو کښې د مشهور انګریز جنرل نکلسن سره وو. دا ملاقات زما د خاندان د پاره ځومره د بې عزتئ سبب ګرځیدے شی. زمونږ په نظر کښې د یو مشنری هیڅ اهمیت اؤ قدر نۀ وو. ما په خپل خیال کښې د خپل کاکا اؤ ترور سره خبرې وکړې اؤ د خپلو تلو مقصد اؤ مطلب مې ورته بیان کړو. اؤ دې نتیجې ته ورسیدم چې څوک داسې خوبونه وینی نو هغوئ د دې خوبونو تعبیر معلومولو د پاره هر ځائ ته تلے شی.

زۀ د ماښام په تیارۀ کښې د مچل کور ته ورسیدم. د لږ لټون نه پس ما ته د مچل کور ملاؤ شو. دا وړه شان بنګله وه. څلورو واړو اړخونو ته د شهتوت ونې وې. د خلقو د نظر نه د بچ کیدو د پاره ما سوچ وکړو چې ګاډے د هغوئ د کور نه لږ شان لرې ودروم. بیا ما سوچ وکړو چې زۀ د خپلې کورنئ نه د ضرورت نه زیاته ویره محسوسوم. بیا ما ګاډے د مچل د کور مخې ته ودرولو. بائبل مقدس مې راواخستو اؤ په تیزئ سره د مچل کور ته لاړم. د کور

غولے اؤ برآنډه صفا سترا وه. ناڅاپی دروازه کولاؤ شوه اؤ یو څو کلی والې ښځې چې د کلی والو په شان لباس یې اچولے وو خپلو کښې یې خبرې کولې اؤ راښکاره شوې. زۀ د ویرې نه وریپیدم. یقینا چې هغوئ به زۀ پیژندلې وم. اوس به هر ځائ دا خبرې وی چې بیګم یو عیسائی مشنری سره ملاقات د پاره تلې وه. کله چې هغه ښځو زۀ ولیدم نو زما د خیال په مطابق هغوئ چپ شوې، اؤ ما ته یې سلام وکړو اؤ کوڅې ته لاړې. د دې نه علاوه بله یو لار هم نۀ وه چې زۀ هغه دروازې اړخ ته لاړه شم چرته چې د مچل ښځې د ماښام په لړه لړه تیارۀ کښې ما ته د کړکئ نه کتل. ما هغه په کلی کښې مخکښې هم چرته لیدلې وه. د دې باوجود چې هغه د امریکې وه، خو هغې بیا هم د کلی د ښځو په شان لباس اچولے وو. کله چې زۀ هغې ولیدلم نو هغه ډیره حیرانه شوه. ډیر په حیرانتیا سره هغې خبرې شروع کړې، راځه راځه بیګم شیخ! زۀ ډیره خوشحاله وم چې زۀ د دروازې نه دننه وم اؤ د کلی ښځو زۀ نۀ لیدم. هغې زۀ کوټې ته بوتلم اؤ هلته یې کښینولم. اؤ په خپله ولاړه وه اؤ خپل لاسونه یې مروړل. ما هغه کرسو ته وکتل کومې چې په یو دائره شکل کښې پرتې وې. د مچل ښځې راته ووئیل چې ما اوس د کلی ښځو ته د بائبل مقدس ښودنه کوله. په ویرې سره هغې زما نه تپوس وکړو، تۀ به چائ څښکې؟ ما جواب ورکړو، نه. ډیره مننه. زۀ د یو سوال

جواب لټولو د پاره راغلي یم. ما اخوا دیخوا وکتل اؤ تپوس مې وکړو چې پادری مچل کور شته کۀ نه، خو کله چې ما دا خبره واؤریده چې هغه افغانستان ته تلې دے نو زۀ ډیره خفه شوم. زۀ په شک کښې وم چې آیا دا ځوانه ښځه به زما د سوالونو جوابونه راکولے شی؟ ما د مچل د ښځې نه پوښتنه وکړه چې آیا تا ته د خدائ پاک په باره کښې څۀ معلومات شته؟ هغه د کړکۍ سره خوا ته کرسۍ باندې کښیناسته اؤ په ناآشنا نظر سره یې ما ته کتل. په کوټه کښې صرف په مزه مزه د بلیدونکی اور شور وو. بیا هغې وفرمائیل چې زۀ د خدائ پاک په باره کښې ډیر څۀ خو نۀ پیژنم، خو خدائ پاک پیژنم. څومره اهم جواب وو. هغې داسې وئیلې شول چې هغه خدائ پاک پیژنی. د دې ښځې اعتماد سره زما اعتماد هم نور زیات شو.

د دې نه مخکښې چې زۀ دا معلومه کړم چې ما سره څۀ کیږی، ما په ناپوهۍ سره هغې ته خپل خوبونه بیانول، حضرت عیسی مسیح اؤ یوحنا ولې ما سره ملاؤ شول. د دې وئیلو په وخت زۀ هم هغه شان جذباتی وم لکه څنګه چې په غر باندې د یوحنا سره د ملاویدو په وخت وم، زۀ لږه شان ورمخکښې شوم اؤ د مچل ښځې ته مې ووئیل ما خو د حضرت عیسی مسیح په باره کښې اوریدلی دی. خو دا یوحنا څوک دے؟ د مچل ښځې د بې آرامۍ په نظر سره

ما ته وکتل. ما محسوس کړل چې هغې زما نه دا تپوس کول غوښتل چې آیا واقعی تا د دې نه مخکښې د یوحنا نوم نۀ دے اوریدلے؟ خو د تپوس کولو نه بغیر هغه وروستو شوه اؤ په کرسۍ کښې کښیناسته اؤ وې وئیل:

بیګم شیخ! یوحنا یو پیغمبر وو. اؤ د هغۀ کار د عیسی مسیح د راتلو خبر ورکول وو. هغۀ به خلقو له تعلیم ورکولو چې د بدۍ نه توبه وباسئ. یوحنا د حضرت عیسی مسیح اړخ ته اشاره کړې وه اؤ وئیلې یې وو چې وګورئ، د خدائ ګډورے چې د دنیا ګناه په ځان وړی. اؤ هم هغۀ حضرت عیسی مسیح له بپتسمه ورکړې وه.

د بپتسمې لفظ اوریدو سره زما زړۀ لږ بې آرامه شو. ما ته د هغه عیسایانو په باره کښې لږ شان علم وو. خو تقریبا ټولو مسلمانانو د بپتسمې د یو عجیبه رسم په حقله اوریدلی دی. زما په ذهن کښې د ډیرو هغه خلقو خیال راغلو څوک چې د بپتسمې اخستلو په سبب وژلې شوی وو. اؤ دا په هغه وخت کښې شوی وو کله چې د برطانیې راج وو اؤ د هر مذهب آزادی وه. د وړوکوالی داسې دا دوه حقیقتونه زما په ذهن کښې وو، چې کله هم یو مسلمان بپتسمه واخسته نو هغه خپل ژوند بائیلو. د مچل ښځې ما ته نوم واخستو اؤ وې وئیل چې مونږ د ډیر وخت نه خاموشه ناستې یو. ډیر په ګرانه سره ما ووئیل مسز مچل! د لږ وخت د پاره

دا هیر کړه چې زۀ مسلمانه یم. ما ته ووایه چې کله تا دا خبره وکړه چې "تۀ خدائ پاک پیژنې"،نو د دې نه ستا څۀ مطلب وو؟ نو د مچل ښځې راته په جواب کښې ووئیل، "زۀ عیسی مسیح پیژنم" اؤ ما ته معلومه وه چې هغې د خپل خیال په مطابق ماله جواب راکولو. بیا هغې ووئیل چې په انسانی شکل کښې خدائ پاک راغلو اؤ د ګناه ګار انسان اؤ د خپل ځان تر مینځه یې د جدایئ هغه دیوال لرې کړو. اؤ دا کار عیسی مسیح په سولئ باندې مړ کیدو سره وکړو. په کوټه کښې بیا خاموشی شوه. د بهر نه د ګاډو آوازونه راتلل. د مچل ښځې به ډیرې زیاتې خبرې نۀ کولې. خو آخر کار ما دې وئیلو سره خاموشی ختمه کړه چې مسز مچل د څۀ مودې داسې زمونږ په کور کښې عجیبه واقعې راپیښیږی. زۀ محسوسوم چې د ښۀ اؤ بد روحونو تر مینځه جګړه ده. ما ته د مدد ضرورت دے.

آیا تۀ زما د پاره دعا کولې شې؟ زما په دې خواهش باندې هغه ښځه حیرانه شوه. هغې ووئیل "آیا د دعا کولو د پاره ستا خوښه ده چې ودریږې یا په ګوډو شې. زۀ نۀ پوهیدم چې څۀ وکړم. زۀ د دې هر څۀ د پاره تیاره نۀ وم. خو کله چې مې هغه ولیده چې په ګوډو شوې ده نو زۀ هم د دعا د پاره په ګوډو شوم. د مچل ښځې په قلاره قلاره داسې دعا شروع کړه: اے د خدائ تعالی روحه ما ته معلومه ده چې رښتیا څۀ دی. مسز شیخ قائیله کیدے نۀ شی. خو

زۀ د دې د پاره ستا شکر کوم چې تۀ زمونږ د سترګو نه پرده لرې کوې اؤ حضرت عیسی مسیح زمونږ زړونو ته څرګندولے شې. اے روح القدوسه د بیګم شیخ د پاره داسې وکړه. آمین."

د دعا نه پس زما زړۀ ته عجیبه شان تسلی ملاؤ شوې وه.

آخر کار زۀ اؤ د مچل ښځه پاڅیدو اؤ هغې زما لاس کښې کتاب اړخ ته اشاره وکړه اؤ تپوس یې وکړو بیګم شیخ! دا بائبل مقدس دے؟ ما کتاب هغې ته وښودلو. هغې تپوس وکړو چې تا ته د دې نه څۀ ملاؤ شول. څۀ چې تۀ لولې نو آیا په دې پوهیږې؟ ما ورته ووئیل ډیره ښه پرې نۀ پوهیږم. دا زړه ترجمه ده. اؤ زما د پوهې نه بهر ده. هغه بلې کوټې ته لاړه اؤ یو کتاب یې راوړو. دا نوې د انګریزئ ترجمه وه. دا د فلپس ترجمه ده. ما ته د نورو نه دا ډیره آسانه ښکاری. آیا دا ستا خوښه ده؟ ما کتاب د هغې د لاس نه واخستو. اؤ هغې راته ووئیل چې د یوحنا د انجیل شریف نه شروع وکړه.

هغې کتاب کولاؤ کړو اؤ د نخښې په طور یې هلته کاغذ کیښودو. دا یو بل یوحنا دے. خو دا د یوحنا بپتسمه ورکونکے کار ډیر په واضحه طور سره بیانوی. ما د هغې شکریه ادا کړه اؤ دې

وئیلو سره پاڅیدم. اؤ هغې ته مې ووئیل چې اوس به زۀ لاړه شم، ما ستا ډیر وخت واخستو.

د مچل ښځې ووئیل چې دا ډیره د دلچسپئ خبره ده چې یو خوب تۀ دلته راوستلې. خدائ پاک اکثر د خپلو بچو سره په خوب یا رویا کښې خبرې کوی. کله چې هغې په کوټ اچولو کښې زما مدد کولو نو زما په ذهن کښې خیال راغلو چې آیا دا مناسبه ده چې زۀ خپل دویم خوب هم هغې ته بیان کړم. هغه خوب کوم چې د عطر خرڅوونکی په باره کښې وو. دا غیر معمولی ښکاریدو. خو لکه څنګه چې څو ځله مخکښې شوی وو، نو په دغه ورځ ماښام زۀ عجیبه طور باندې دومره زړۀ وره وم. ما ته معلومه وه چې یو طاقت ماله قوت راکوی. ما د مچل د ښځې نه تپوس وکړو چې آیا تۀ ما ته دا وئیلې شې چې د حضرت عیسی مسیح اؤ د عطرو په مینځ کښې څۀ تعلق شته؟ لږ وخت سوچ کولو نه پس هغې ووئیل چې زما په خیال هیڅ تعلق یې نشته. بهرحال ما له د دې په باره کښې د دعا کولو موقعه راکړه. کله چې زۀ د کور په طرف راروانه وم نو ما په دویم ځل هغه خوشبو محسوس کړه. کله چې په هغه ماښام زۀ کور ته ورسیدم نو ما د یوحنا د انجیل شریف هغه حصه ولوستله، چرته چې د یوحنا انجیل شریف د یوحنا بپتمسه ورکوونکی ذکر کوی. دا نا آشنا سړے به په بیابان کښې اوسیدو اؤ د اوښ د څرمنې

لباس به يې اچولے وو. اؤ خلقو له به يې دا تعليم ورکولو چې د خدائ پاک لاړ تياره کړئ. د خوب په کوټه کښې ناسته وم اؤ زما په ذهن کښې دا خيال راغلو چې يوحنا بپتمسه ورکوونکے چا چې د خدائ پاک له اړخ نه د حضرت عيسی مسيح څرګندونه کوله، آيا دا هغه سړے خو نۀ دے چې ما د حضرت عيسی مسيح اړخ ته راولی. ما دا خيال رد کړو اؤ اوده شوم.

په دغه شپه زۀ په ژور خوب اوده شوم. خو کله چې ملا د مونځ د پاره دعوت ورکړو اؤ زما سترګې کولاؤ شوې نو ما واقعې بيا په صفا طور وليدلې.

ټوله شپه زۀ څومره په خرابو خيالونو کښې ګيره وم. خو اوس چې ملا ما ته راياد کړل چې حقيقت چرته دے، نو ما خپل ځان د بې آرامه کوونکو مسيحی اثراتو نه محفوظ وګڼلو. په دې دوران کښې ريشم کوټې ته راغله. خو هغې چائ را نۀ وړه بلکه يو خط يې په لاس کښې نيولے راوړو. اؤ ما ته يې ووئيل چې دا اوس راغلو.

دا د مچل ښځې راليږلې وو. په دې کښې ليکلې شوی وو چې د کورنتيانو په نوم د دويم خط دويم باب اؤ د هغې څوارلسم آيت ولوله. لږ ساعت د لټون نه پس دا آيت ما ته ملاؤ شو. د دې په لوستلو باندې زۀ ډيره حيرانه شوم. په دې کښې ليکلی وو څوک

چې په مسیح کښې مونږ لکه د قیدیانو د فتحمندئ په جلوس کښې بیائی اؤ د هغۀ د علم خوشبوئی زمونږ په وسیله په هر ځائ خوروی. زۀ په کټ کښې ناسته وم اؤ دا حواله مې په دویم ځل ولوستله.

کوم خیالونه چې لږه شیبه مخکښې ما کړی وو نو هغه تباه برباد شول. د رښتیاؤ علم د خوشبویئ په شان خوریږی، په خوب کښې عطر خرخولو واله د سر رنګ مرتبان زما کټ سره خواته په میز باندې کیښودے وو اؤ وئیلې یې وو چې د دې عطرو خوشبو به په ټوله دنیا کښې خوریږی. اؤ سحر وختی هم په هغه ځائ ما بائبل مقدس پروت وموندلو، چرته چې مرتبان کیښودے شوے وو.

دا ټول هر څۀ لکه د روښانه ورځې په شان ښکاره وو، اؤ ما په دې باندې سوچ کول نۀ غوښتل. د معمول په مطابق ما چائ غوښتلو د پاره ټلئ ووهله، اؤ ما نۀ غوښتل چې په دې معامله کښې ډوبه شم.

اګر چه د مچل ښځې ما له د بیا راتلو دعوت راکړے وو. خو ما دا مناسب ونګڼل چې لاړه نۀ شم. ډیر په مصلحت سره زۀ دې نتیجې ته ورسیدم چې زۀ په خپله د بائبل مقدس لټون وکړم. یوه ورځ نورجهان زما کوټې ته په منډه راغله. اؤ د هغې سترګې د

حيرانتيا نه ډکې وې. هغې د ويرې په انداز کښې ووئيل مچل اؤ د هغۀ ښځه تا سره ملاويدو د پاره راغلی دی. زۀ حيرانه ووم چې هغوئ دلته څۀ له راغلل. بهرحال ما خپل ځان په قابو کښې وساتلو اؤ خدمت ګارې ته مې ووئيل چې هغوئ د ميلمنو په کوټه کښې کښينوه. د مسټر مچل طبعيت هم د خپلې ښځې په شان د خلوص اؤ مينې نه ډک ښکاريدو. هغه زما په ليدو دومره خوشحاله شو چې ما خپله بې آرامی هيره کړه. د مچل ښځې د لاس ملاوولو په ځائ ډيره په مينه ما سره تر غاړه وته. زۀ ډيره حيرانه شوم. زما په خاندان کښې زما نزدې رشته دارو هم چرې زۀ داسې نۀ يم ترغاړه ويستې. زۀ ډيره په نرمئ سره هغوئ سره پيش شوم. خو داسې ښکاريده چې د مچل ښځه د دې نه بالکل متاثره نۀ شوه.

د تير شوی وخت يادونو په مطابق ما ته په دې منلو کښې هيڅ شک نۀ وو چې په دې ملاقات باندې زۀ خوشحاله ووم. اوس زمونږ ملاويدل رښتينی طور سره وو، د خوشحالئ نه ډکې د امريکې په لهجه کښې ډيوډ مچل ووئيل، "د ګلونو واله ښځې" تا سره په ملاويدو خوشحاله شوم. ما د مچل ښځې اړخ ته وکتل نو هغې په خندا سره ووئيل چې دا ضروری ده چې زۀ تا ته ووايم چې کله تۀ زمونږ کور ته راغلې نو ما ډيوډ ته هم هغه وخت د تار په ذريعه خبر ورکړو. ځکه چې د کله نه هم د سپرلی په موسم کښې مونږ ستا د

کور باغیچه لیدلې وه، نو ستا ذکر خامخا کیږي. بهرحال زۀ به ستا اصلی نوم اخستلو نه ویریدم. د دې د پاره چې تا ته څۀ نقصان ونۀ رسی. ما دا سوچ کولو چې په تار کښې ستا نوم ولې واخلم. ما د کړکۍ نه هغه ګلونو ته وکتل. د کومو تخم چې ستا مالی ما له راکړے وو. اؤ زما په ذهن کښې دا نوم راغلو، "د ګلونو واله ښځه." تۀ ما ته بلقیس وئیلې شې. څۀ عجیبه ملاقات وو، ما دا ګمان کولو چې هغوئ به د خپل مذهب قبلولو د پاره په ما زور اچوی. خو داسې هیڅ خبره ونۀ شوه. د چائیو څښکلو په وخت مونږ خبرې اترې کولې. ما ته په دې خبرې اعتراض د ے چې تاسو عیسی مسیح ته د خدائ زوئ وایئ. د مسلمانانو د پاره دا لویه ګناه ده. په قرآن مجید کښې بیا بیا راغلی دی چې د الله تعالی هیڅ اولاد نشته. اؤ دا تثلیث یوه مسئله ده. آیا درې خدایان شته؟ په جواب کښې ډیوډ د خدائ پاک په حقله د نمر یو مثال راکړو، اؤ وې وئیل چې په نمر کښې درې قسمه قوتونه دی. مثلا ګرمی، رڼا اؤ شعاګانې. د دې دریوؤ وارو نه په شریکه نمر جوړیږی. اؤ بیا لږه شیبه وروستو هغوئ رخصت شول.

بیا یو څو ورځې ما د بائبل مقدس اؤ د قرآن مجید مطالعه کوله. ما قرآن مجید په خپل ژوند کښې د وفادارئ په طور باندې لوستلو اؤ د خپلې باطنی لوږې د پاره مې د بائبل مقدس لوستنه

کوله، خو بیا به هم کله نا کله ما بائبل مقدس په لاس کښې نۀ اخستلو. آخر کار زۀ دې نتیجې ته راورسیدم چې دا دواړه کتابونه مختلف دی. ځکه چې د دواړو کتابونو د پیغمبرانو په مینځ کښې اختلاف وو. خو کله چې به زۀ د بائبل راخستلو نه ویریدم کوم چې ما له د مچل ښځې راکړے وو، نو ما ته به په نا آشنا طور سره دا محسوسیدل چې زۀ د چا بې قدری کوم.

تیره شوې هفته زۀ په یوه ښکلې دنیا کښې وم. په یو داسې باغیچه کښې نۀ وم کومه چې زما په کور کښې وه. بلکه په یوه نالیدونکې باغیچه کښې وم. کومه چې زما د نوی روحانی پیژندګلو د پاره زما په باطن کښې وه. دې ښکلی ځائ ته اول زۀ د خپلو دوؤ خوبونو په وسیله داخله شوم. اؤ بیا زۀ دې دنیا ته دوباره په هغه شپه لاړم کله چې ما په خپله باغیچه کښې یوه داسې جلالی حضوری ولیده کومه چې د بیان نه بهر ده. اؤ ما دا په دویم ځل هغه وخت وپیژندله کله چې ما د هغه اشارې تابعداری وکړه کومې چې زۀ د مچل کور ته بوتلم.

بیا په راتلونکو یو څو ورځو کښې په قلاره قلاره اؤ ډیر په واضحه طور باندې ما دا معلومول شروع کړل چې خپلې دې ښکلې دنیا ته د واپس راتلو د پاره یوه لار موجوده ده. اؤ د دې مسیحی کتاب لوستلو نه داسې ښکاریدل چې زۀ به دوباره خپلې دې ښکلې

دنيا ته د راتلو موقعه حاصله نۀ کړم. بيا يوه ورځ محمود ماشوم په خپلو غوږونو لاسونه ايښودی وو اؤ زما خواته راغے. د دې د وجې نه په ژړا سره هغۀ ما ته ووئيل، مورې زما غوږ! زۀ هغۀ ته ورنږدې شوم اؤ ډير په احتياط سره مې د هغۀ د غوږ معائنه وکړه. د هغۀ رنګ زيړ شو، حالانکه محمود داسې ماشوم نۀ وو چې شکايت وکړی. ما د هغۀ په مخ باندې اوښکې وليدلې. ما هغه په کټ کښې څملولو. اؤ د هغۀ په سر مې لاس وهلو اؤ دا کوشش مې کولو چې هغه اودۀ شی. اؤ بيا کله چې هغه اودۀ شو نو ما راولپنډۍ کښې هسپتال ته ټيليفون وکړو. يو منټ پس ټونی ټيليفون خواته راغله. اؤ هغه په دې خبره رضامنده شوه چې بله ورځ د ماسپښين د محمود پوره معائنه وکړے شی. زۀ به محمود سره په کوټه کښې پاتې شم اؤ خدمت ګاره به په بله وړه کوټه کښې پاتې شی. تر ماښامه پورې د ځائ بندوبست وکړے شو. د ماښامی په وخت ټونی کار له نۀ وه تلې. اؤ هغې هغه وخت مونږ سره تير کړو. ډير زر محمود اؤ د هغۀ مور يو تصوير له رنګ ورکولو اؤ خپلو کښې ډير خوشحاله وو. محمود چې کوم کتاب له رنګ ورکولو نو هغه د هغۀ مور هغۀ له ورکړے وو. ما په کټ کښې ډډه لګولې وه اؤ د بائبل مقدس مطالعه مې کوله. ما قرآن مجيد هم ځان سره راوړے وو. خو تر اوسه پورې ما قرآن مجيد د يو مذهبی فرض په طور باندې لوستلو.

ناڅاپه په کوټه کښې رڼا وپړقیده اؤ تیارۀ شوه. د بجلۍ تلو سره تیارۀ جوړه شوه. ما چا ته ووئیل چې شمع راوړی. یو منټ پس یوې ښځې په خپل لاس کښې ډیوه نیولې وه اؤ کوټې ته راغله. هغې ډیر په ښکلی انداز سره ووئیل چې زما امید دے چې تاسو به نۀ خفه کیږئ. ډیر زر به د شمعو بندوبست وکړے شی. ما هغه وپیژنده. هغه ډاکټره سنیټی آګو وه. د هغې بدن غټ وو اؤ چشمې به یې اچولې. دا د فلپائن ډاکټره د ټول هسپتال مشره وه.

مونږ مخکښې هم یو بل سره ملاؤ شوی وو. اؤ ډیر زر یوه بله (نن) راغله اؤ شمعې یې راوړې. په کوټه کښې رڼا شوه. محمود اؤ ټونی په خپلو خبرو کښې مصروفه وو. اؤ ما ډاکټر سنیټی آګو سره خبرې اترې کولې. هغې زما بائبل مقدس ته په غور سره کتل. ډاکټر سنیټی آګو ووئیل، لږ وخت د پاره زۀ تاسره کښیناستے شم؟ ما هغې ته ووئیل چې آؤ تاسو کښینئ. هغه زما کټ سره خوا ته په کرسۍ کښې کښیناسته. چشمې یې وویستلې اؤ خپلې سترګې یې په رومال سره پاکولې اؤ خبرې یې شروع کړې. زما زړۀ د هغې د پاره صفا وو. مسلمانان همیشه داسې پاکو ښځو ته ډیر په قدر اؤ احترام سره ګوری څوک چې دنیا رد کړی اؤ د خدائ پاک اؤ د عقیدې خدمت کوی. کیدے شی د هغې عقیده صحیح نۀ وی. خو

د هغې خلوص یو حقیقت وو. د خبرو په دوران کښې ما ته معلومه وه چې د دې ښځې په ذهن کښې څۀ شته. اؤ دا بائبل مقدس وو.

ما هغه ولیده چې بائبل مقدس ته یې نیغ نیغ کتل اؤ په زړۀ کښې یې څۀ سوال وو. آخر کار هغه لږه شان رامخکښې شوه اؤ ډیر په اعتماد سره یې ووئیل بیګم شیخ! تۀ بائبل مقدس سره څۀ کوې؟ ما هغې ته په جواب کښې ووئیل، زۀ په اخلاص سره د خدائ پاک په لټون کښې یم، اؤ بیا مې اول لږ شان په ویرې سره خو بیا وروستو په ډیرې بهادرئ سره هغې ته د مچل اؤ د خپل ملاقات په باره کښې ووئیل اؤ د قرآن مجید اؤ د بائبل مقدس په مینځ کښې د فرق په باره کښې مې هم ورته ووئیل. ما ورته ووئیل، چې هر څۀ وی زۀ به د خدائ پاک لټون کوم. خو زۀ ستا د عقیدې په وجه لږه شان فکرمنده یم. زۀ پیژنم. په دې خبرو اترو کښې زۀ یوه خبره محسوسوم. ما ته پته نشته چې تۀ خدائ پاک دومره شخصی ولې ګڼې. نو هغې ووئیل چې بیګم شیخ! مونږ داسې ولې محسوسوؤ، د دې د پیژندلو صرف یوه لار ده. اؤ هغه دا چې تۀ په خپله د دې اندازه ولګوه. د هغې لهجه د جذباتو نه ډکه وه. کیدے شی چې دا تا ته عجیبه ښکاره شی خو تا ته به خپله لار وښائی. هغۀ سره د یو عزیز په حیثیت خبرې وکړه. زۀ په دې خیال کښې وم چې هسې نه هغه ما سره د تاج محل په حقله د خبرو اترو د پاره ونۀ وائی.

بیا ډاکټر سنیتي آکو یو داسې خبره وکړه چې د هغې په وجه زما په بدن کښې د بجلۍ په شان کرنټ پیدا شو. هغه لږه شان نوره هم رانژدې شوه اؤ زما لاس یې په خپل لاس کښې ونیولو، اؤ په سترګو کښې یې اوښکې وې، اؤ په خاموشه لهجه کښې یې ووئیل: "خدائ پاک سره خبرې وکړه. هغۀ سره داسې خبرې وکړه لکه چې هغه ستا پلار وی. " زۀ سمدستی نیغه کښیناستم. اؤ لکه د مرګ په شان خاموشی په کوټه کښې جوړه شوه. د ټونی اؤ محمود خبرې اترې په دې خیالونو کښې شاملې شوې.

ما ډیر په غور سره د شمعې په رڼا کښې د (نن) سترګو ته وکتل. آیا زۀ به خدائ پاک سره داسې خبرې کوم لکه چې هغه زما پلار دے! دې خیال کولو سره زما روح ولړزیدو. دا حقیقت ویرونکې اؤ اقرار کوونکے وو.

بیا ناڅاپه هر یو کس خبرې شروع کړې. ټونی اؤ محمود په خندا سره تصویر له رنګ ورکولو. ډاکټر سنیتي آکو په خندا سره پاڅیده اؤ مونږ سره یې په مخه ښه وکړل اؤ لاړه.

د دعا اؤ عیسائیت په باره کښې هیڅ هم نۀ وو وئیلې شوی خو بیا هم زۀ د شپې ډېره په ډېره آوریدم اؤ هم داسې مې هغه شپه تیره کړه. اؤ بله ورځ سحر زۀ خفه وم. دلته راتلل نور هم عجیبه شول، کله

چې ډاکټرانو د محمود معائنه وکړه نو هغوئ ووئيل چې په دې کښې هيڅ خرابی نشته اؤ محمود هم وئيل چې د هغهٔ په غوږونو کښې لږ شان درد هم نشته.

د ټولو نه اول خو زهٔ د دې ټول انتظام اؤ وخت ضائع کيدو د پاره خفه شوم. خو بيا زما په ذهن کښې دا خيال راغلو چې کيدے شی دا د خدائ پاک منصوبه وه چې زما ملاقات د ډاکټر سنيټی آګو سره وشی. بله ورځ سحر منظور مونږ په ګاډی کښې "واه" ته راوستلو. کله چې هغه د سړک نه د خپل کور لارې اړخ ته راتاؤ شو، نو ما ونو بوټو کښې د خپل کور د خړ رنګ چت ليدلو. د معمول په مطابق ما خپل کور په ټوله دنيا کښې د آرام اؤ سکون مرکز ګڼلو. خو نن کور هم مختلف وو. داسې ښکاريدل چې نن هلته کښې ما ته يوه خاص واقعه راپيښيدونکې ده.

کله چې کور ته ورسيدو نو منظور ګاډے ودرولو اؤ هارن يې وغږوله. نو نوکران په منډه راغلل اؤ د محمود په باره کښې يې تپوسونه شروع کړل. ما هغوئ ته ووئيل چې محمود بالکل روغ جوړ دے. خو زما ذهن کور ته د راتلو په خوشحالئ کښې نهٔ وو. بلکه زما ذهن اؤ سوچ په دې کښې وو چې خدائ پاک په نوې طريقې سره وپيژنم. زهٔ د خوب کوټې ته راغلم اؤ ما په ټولو واقعو باندې غور اؤ فکر وکړو. ما سوچ وکړو چې يو مسلمان هم الله پاک

ته پلار نۀ وائی. د ماشوم والی نه ما ته دا ښودلې شوی وو چې د اللّٰه پاک د پیژندلو ښه اؤ یقینی طریقه دا ده چې پنځۀ وخته مونځ وکړے شی اؤ قرآن مجید ولوستلے شی اؤ په دې باندې غور اؤ فکر وکړے شی، خو د دې هر څۀ په باوجود د ډاکټر سنیتهی آکو خبرې زما په ذهن کښې وې، "خدائ پاک سره خبرې وکړه." هغۀ سره داسې خبرې وکړه لکه چې هغه ستا پلار وی. په خپله کوټه کښې زۀ په سجده شوم اؤ خدائ پاک ته مې د پلار وئیلو کوشش وکړو خو ناکامه شوم. زۀ نوره هم مایوسه شوم. خدائ پاک ته پلار وئیل زما په خیال کښې د هغۀ بې عزتی کول وو. یو ګناه ګار انسان خپل خالق ته څنګه پلار وئیلې شی. په دغه شپه چې زۀ په کومو خیالونو اؤ سوچونو کښې اوده شوم نو د دې نه مخکښې کله هم په ما باندې دا هر څۀ نۀ وو تیر شوی.

کله چې مې سترګې وغړیدې نو ما ته معلومه شوه چې نیمه شپه تیره شوې ده. د دولسم دسمبر دا ورځ زما د پیدائښت ورځ وه. نن زۀ د اوۀ څلویښتو کالو وم. خو د مخکښې په شان دا ورځ به په خوشحالئ سره نۀ نمانځلې شی. کیدے شی یو څو ټیلیفونونه راشی اؤ بس........ د ماشوم والی ښکلی یادونه زما مخې ته وو. ما د خپل مور پلار په حقله سوچ وکړو اؤ زما د پاره دا د ټولو نه ښۀ سوچ وو. زما مور ډیره هوښیاره خوش اخلاقه اؤ ښائسته وه. ما په

خپل پلار ډیر فخر کولو. د هندوستان په حکومت کښې هغه په یو ښۀ عهده باندې وو. ما تر اوسه پورې په خپل خیال کښې د هغۀ هغه تیاریدل لیدلې شول، چې دفتر ته د تلو نه مخکښې به هغۀ په شیشه کښې خپل پټکے ټیک کولو. اؤ هر وخت به د هغۀ په مخ باندې خندا وه. اؤ هغۀ به هر وخت مطالعه کوله اؤ دا خیال زما ډیر زیات خوښ وو.

په یو داسې معاشره کښې د اوسیدو په باوجود چرته چې به هلکانو ته د جینکو په نسبت زیاته توجه اؤ غوره والے ورکولے کیدو، زما پلار داسې سوچ نۀ کولو اؤ نۀ یې په جینئ اؤ هلک کښې فرق کولو. اکثر د ماشومې جینئ په حیثیت به ما د هغۀ نه تپوسونه کول. د هغۀ دفتر ته به تلم. اؤ د هغۀ په کار کښې مداخلت کولو کښې به ما ته هیڅ ویره نۀ محسوسیده. اؤ اکثر به هغۀ زۀ لیدلم کله چې به ما داسې کارونه کول. نو هغۀ به قلم کیښودو اؤ په کرسئ کښې به نیغ کښیناستو اؤ وئیل به یې، "کیکا" نو ما به سر ټیټ کړو اؤ په قلاره به د هغۀ خوا ته روانه شوم. هغۀ به په خندا سره ما ته ووئیل چې راشه زما خوږې لورې اؤ دې خوا ته کرسئ کښې کښېنه. اؤ بیا به هغۀ زۀ په غیږ کښې واخستم اؤ ډیر په نرمه لهجه کښې به یې راته وئیل، خوږې لورې! زۀ ستا د پاره څۀ کولے شم؟ زما پلار به همیشه ما سره داسې سلوک ساتلو. کله چې

به ما د هغۀ په کار کښې مداخلت کولو نو هغه به نۀ خفه کيدو. کله چې به هم زما څۀ سوال يا مسئله وه نو هغۀ به د خپلو کارونو په باوجود خپله توجه ما له راکوله.

شپه د نيمې نه زياته تيره شوې وه، اؤ زۀ په خپل کټ کښې اوده وم اؤ د دې ښکلی يادونو نه مې مزه اخستله. ما ووئيل، "يا الله ستا شکر دے." سمدستی ما سوچ وکړو چې آيا زۀ خبرې کوم؟ د اميد رڼا راته ښکاره شوه. فرض کړئ چې الله تعالی د پلار حيثيت لری، اوس کۀ چرې زما جسمانی پلار زما خبرې له پوره توجه ورکولے شوه، نو ولې زما آسمانی پلار به ما له توجو نۀ راکوی څۀ! جذباتو ما له شکست راکړو اؤ زۀ د کټ نه راپاڅيدم. اؤ په زمکه په سجده شوم. آسمان طرف ته مې وکتل اؤ دې نوی سوچ اؤ نوې پوهې سره مې الله تعالی ته پلار ووئيل، اؤ ما ته چې په کومه طريقه جواب ملاؤ شو نو د هغې د پاره زۀ تياره نۀ وم.

---

# پینځم باب

## "چوک"

اے پلاره! زما پلاره، دې وئیلو سره ما په ویرې سره په اوچت آواز خدائ پاک ته پلار ووئیل. د الله تعالی سره خبرو کولو د پاره ما مختلفې طریقې استعمال کړې اؤ بیا داسې معلومیدل چې زما باطنی رشتې ماتې شوې اؤ په حقیقت کښې زما دا یقین وشو چې څنګه زما جسمانی پلار همیشه زما آواز آوریدلو، نو دغه شان زما آسمانی پلار زما آواز آؤرى.

ما نور هم په اعتماد سره خدائ پاک ته پلار ووئیل، د خپل کټ سره نزدې کله چې ما په دې لویه کوټه کښې دعا کوله نو زما آواز د نور کله نه لړ شان زیات تیز وو. سمدستی ما ته په کوټه کښې د خدائ پاک حضوری محسوس شوه. داسې ښکاریده چې چا زما په سر په مینې سره لاس ایښود ے وی. داسې ښکاریده چې زۀ د هغۀ د رحم اؤ د مینې نه ډکو سترګو ته کتلے شم. ما ته داسې محسوسیدل چې زۀ لکه د ماشومې جینئ په شان د خپل پلار په پښو کښې ناسته یم. په دې حالت کښې زۀ تر ډیر وخته پورې د هغۀ په بې پایانه مینه کښې ډوبه ووم. ما هغۀ سره خبرې کولې. ما دې

خبرې د پاره هغهٔ نه معافي غوښتله، چې ما مخکښې هغه ولې ونهٔ پېژندلو؟ يو ځل بيا د هغهٔ مينې په ما اثر وکړو.

اوس ما ته معلومه شوه چې دا هغه حضوري ده، د کومې سره چې زما ملاقات د غرمې نه پس په باغيچه کښې د خوشبو په شکل کښې شوې وو. ما ووئيل چې اے پلاره! دا ښه ده چې د دې خبرې فيصله اوس وشي. زهٔ د خپل کټ خوا ته نزدې ميز اړخ ته لاړم، چرته چې ما قرآن مجيد اؤ بائبل مقدس يو ځائ ايښودي وو. ما دواړه کتابونه راواخستل اؤ په دواړو لاسونو کښې مې هغه اوچت کړل اؤ ومې وئيل، "اے پلاره! په دې کښې ستا کتاب کوم يو دے؟ " اؤ بيا يوه اهم خبره راپيښه شوه، داسې زما په ژوند کښې مخکښې هيڅ کله هم نهٔ وو شوی. ځکه چې ما په خپل باطن کښې يو آواز واؤريدو. يو داسې آواز چې دومره واضحه وو چې هغه ما په خپل ذهن کښې دوباره بيانولے شو. هغه لفظونه تازه اؤ د مينې نه ډک وو. اؤ دې سره سره په هغې کښې د اختيار رنګ موجود وو.

په کوم کتاب کښې تهٔ ما د يو پلار په حيثيت مومې؟ ما جواب ورکړو، بائبل کښې! اوس زما ذهن يو اړخ ته شو.

ما ګړئ ته وکتل اؤ دې ليدو سره حيرانه شوم چې درې ګينټې تيرې شوې وې، خو بيا هم زهٔ نهٔ وم ستړې شوې. زما خواهش وو چې

په دعا کښې مشغوله اوسم. ما د بائبل مقدس مطالعه کول غوښتل. ځکه چې اوس ما ته معلومه وه چې د دې په وسيله به زما پلار ما سره خبرې کوی، زۀ صرف د خپل صحت ښۀ ساتلو په خاطر کټ ته راغلم. بله ورځ سحر ما خپلې خدمت ګارې له حکم ورکړو، تر څو پورې چې زۀ آواز در نۀ کړم نو تر هغې پورې زما کوټې ته مۀ راځه. اؤ هيڅ قسمه مداخلت ونۀ کړې. ما انجيل شريف د سر نه لوستل شروع کړل.

زۀ ډيره متاثره شوم چې څنګه خدائ پاک د متی د انجيل شريف په اولنئ حصه کښې پينځۀ ځله د خوب په وسيله کلام کړے دے. د بی بی مريم د پاره هغۀ يوسف سره په خوب کښې خبرې وکړې. اؤ هغۀ نجوميان يې د هيروديس نه خبر کړل چې د هغۀ څۀ منصوبه ده، اؤ درې ځله هغۀ يوسف د ماشوم عيسی مسيح د حفاظت په حقله خبردار کړو. د بائبل مقدس د مطالعې کولو خواهش مې نۀ ختميدو. بائبل مقدس زما مدد کولو چې ما نوره هم خدائ پاک ته نزدې کړی.

ما خپل ځان په يوه لوئ چوک کښې ولاړ وليدو. تر اوسه پورې زۀ په ذاتی طور باندې صرف د خدائ پلار نه خبر ووم. ما ته په خپل زړۀ کښې معلومه وه چې ما له په مکمل طور باندې خپل ژوند د

هغۀ زوی ته سپارل پکار دی اؤ یا په مکمل طور باندې د دې نه انکار کول پکار دی.

اؤ یقینا ما ته معلومه وه چې زما ټول رشته داران به ما له دا تعلیم اؤ حوصله راکوی چې زۀ عیسی مسیح رد کړم. زما په ذهن کښې زاړۀ یادونه راتازه کیدل، ما ته هغه ورځ رایاده شوه کله چې زما پلار زۀ خپل خاندانی جماعت ته بوتلې ووم. زمونږ نه علاوه هلته نور هیڅوک هم نۀ وو. مونږ د جماعت په ښائسته عمارت کښې داخل شو. زما پلار زما لاس نیولے وو اؤ په فخر سره یې ما ته ووئیل چې زمونږ خاندان د شلو نسلونو داسې دلته مونځونه کړی دی. اؤ بیا یې راته دا خبره وکړه چې دا څومره لویه مرتبه ده چې تۀ هم د دې پخوانی حقیقت یوه حصه جوړه شوې.

ما ته ټونی رایاده شوه. یقینا دا ځوانه ښځه د مخکښې نه د فکرونو اؤ سوچونو د بوج لاندې وه. اؤ بیا به زما د نورو بچو څۀ کیږی. اګر کۀ هغوئ ډیر لرې پاتې کیدل. خو بیا هم زما عیسائی کیدو سره به هغوئ ته تکلیف رسی. اؤ بیا ما د فتح کاکا په باره کښې سوچ وکړو چا چې په هغه ورځ ما ته ډیر په فخر سره کتلی وو کله چې زۀ د څلورو کالو څلورو میاشتو اؤ څلورو ورځو ووم، اؤ د قرآن مجید تلاوت ازده کول مې شروع کړل. اؤ بیا زما خوږه ترور آمنه اؤ زما نور رشته داران به څۀ سوچ کوی د چا شمیر چې سلو ته

نژدې وو. زۀ د يو ډېر لوئ خاندان حصه ووم. اؤ په دې کښې هر يو کس د نورو د ودې اؤ ترقئ ذمه وار وو. زۀ په ډېرو طريقو سره د خپل خاندان د پاره د نقصان سبب ګرځېدے شوم. زۀ د خپلو رشته دارانو د پيغلو جينکو په ودونو کښې يو خنډ جوړېدے شوم. د عيسائی کيدو په سبب به هغوئ له زما د دې فيصلې لاندې ژوند تيرول وی.

د دې نه علاوه زۀ د خپل نمسی محمود د پاره فکرمنده ووم. په هغۀ به څۀ تيرېږی. کله چې مې د محمود د پلار په باره کښې سوچ وکړو نو زړۀ مې خفه شو. د هغۀ دا عادت وو چې خپله مرضی به يې په نورو منله. اؤ کله چې زۀ مسيحی شم نو هغه به ما ته وائی چې تۀ يوه غير ذمه داره ښځه يې اؤ محمود به زما نه واخلی. زۀ په خپله کوټه کښې ناسته ووم مطالعه مې کوله اؤ په دې سوچونو اؤ فکرونو کښې ډوبه ووم. اؤ دې خيالونو اؤ سوچونو زما زړۀ ډېر بې آرامه کړے وو. ناڅاپی ما هغه درد محسوس کړو په کوم کښې چې ما نور خلق اچولے شول. ما دا دومره ډېر محسوس کړو چې زۀ د بې آرامئ په حالت کښې پاڅيدم. ما څادر د ځان نه چاپيره کړو اؤ د ژمی په موسم کښې د باغيچې اړخ ته لاړم. کومه چې زما د پناه ګاه په شان وه چرته چې ما په ښۀ طريقې سره سوچ کولے شو.

ما په تلو تلو کښې داسې دعا وکړه "اے مالکه خدايه! آيا واقعی تهٔ غواړې چې زهٔ خپل خاندان رد کړم؟ " آيا د خدائ پاک مينه دا غواړی چې زهٔ نور خلق په درد اؤ تکليف کښې واچوم؟ د خپلو سوچونو په توره تيارهٔ کښې هغه لفظونه زما په غوږو شو کوم چې ما لږه شيبه مخکښې د متی په انجيل شريف کښې لوستلی وو، "داسې يو سړے هم زما لائق نهٔ دے څوک چې د مور پلار سره زما نه زياته مينه ساتی، اؤ هغه سړے هم زما لائق نهٔ دے څوک چې زما نه زياته مينه د خپل زوی اؤ لور سره کوی....." (متی ١٠: ٣٧_ ٣٨).

د عيسی مسيح په دې خبرو کښې د ميانه روئ اؤ د خپل ځان سره د چا د مقابلې کولو خبره موجود نهٔ وه. د هغهٔ خبره اټل وه. کومه چې ما آوريدل نهٔ غوښتل. بهرحال زهٔ د دې قابله نهٔ ووم چې د دې فيصلې بوج برداشت کړم. زهٔ زر کور ته دننه راغلم اؤ منظور مې راوغوښتلو، اؤ خپلې خدمت ګارې ته مې ووئيل چې زهٔ راولپنډئ ته ځم. ما ورته ووئيل چې زهٔ د يو څو ورځو د پاره ځم. اؤ کهٔ چرې تاسو ته زما څهٔ ضرورت وی نو تاسو ما سره زما د لور په کور کښې رابطه کولے شئ. کله چې زهٔ راولپنډئ ته ورسيدم نو ما يو څو ورځې د مختلفو څيزونو اخستلو کښې تيرې کړې. دا د حيرانتيا خبره نهٔ وه څهٔ چې په خپل جسمانی مصروفياتو کښې زهٔ د خدائ

پاک نه لرې کیدم. په یو ځائ کښې چې کله یو دوکاندار ما ته کپړې ښودلې نو ما ته د سولئ شکل ښکاره شو. نو ما دوکاندار ته یو نظر وکتل اؤ بغیر د څۀ اخستلو نه د دوکان نه لاړم. بله ورځ سحر زۀ په "واه" کښې ووم. اؤ هیڅ قسمه فیصلې کولو ته ونۀ رسیدم.

بیا یوه ورځ ماښام د اور خوا ته ناسته ووم اؤ ځان مې ګرمولو نو ما په بې خبرئ سره بائبل مقدس راواخستو. محمود په کټ کښې وو. اؤ زۀ په بله کوټه کښې خاموشه ناسته ووم.

د کړکئ نه هوا راتله اؤ په کوټه کښې د اور د بلیدو لمبې اؤ آواز موجود وو اؤ د دې نه علاوه په کوټه کښې خاموشی وه. ما د څلور واړه انجیلونه اؤ اعمال د رسولانو خط لوستلی وو. اؤ په دغه شپه زۀ د بائبل مقدس آخری کتاب ته رسیدلې وم. اګر که ما دا ډیر کم ګڼلو خو بیا هم د مکاشفات د کتاب نه ډیره متاثره وم. د یو ناآشنا اعتماد سره راته داسې ښکاریدل چې څوک زما رهنمائی کوی. اؤ بیا ناڅاپه زۀ یوې داسې جملې ته ورسیدم کومې چې زما دنیا بدله کړه. اؤ دا جمله د مکاشفه د کتاب دریم باب اؤ شلم آیت وو:

**"ګوره زۀ په دروازه کښې ولاړ یم اؤ ور ټکوم اؤ کۀ څوک زما آواز واؤری اؤ ور خلاص کړی نو زۀ**

**به ورننوځم اؤ د هغۀ سره به ډوډۍ وخورم اؤ هغه به يې ما سره وخوری." **

اؤ د هغۀ سره به ډوډۍ وخورم، اؤ هغه به يې ما سره وخوری! زۀ حيرانه ناسته ووم اؤ کتاب زما په غيږ کښې پروت وو. دا زما خوب وو. يو داسې خوب چې په کښې عيسی مسيح ما سره ډوډۍ خوړه! هغه وخت ما ته د مکاشفه په نوم د هيڅ قسمه کتاب پته نۀ وه. ما خپلې سترګې پټې کړې اؤ عيسی مسيح مې د خوب په هغه تصوير کښې مخامخ په دسترخوان ډوډۍ ته ناست ليدلے شو. د هغۀ په خندا کښې ما د خپل ځان د پاره د هغۀ مينه محسوسولې شوه. د هغۀ په مخ د آسمانی پلار په شان جلال وو. د هغۀ په حضورۍ کښې دا جلال وو.

اوس ما ته معلومه شوه چې زما خوب د خدائ پاک له اړخ نه وو. لاره صفا وه. ما هغه قبلولے شو. يا مې هغه رد کولے شو. ما دروازه کولاوولے شوه، اؤ هغۀ ته مې د هميشه د پاره خپل دننه راتلو د پاره وئيلې شول، يا ما دروازه بندولے هم شوه. ما له خپلې فيصلې له آخری شکل ورکول وو اؤ خپل منزل راله غوره کول وو.

مضبوطې ارادې سره زۀ د اور خوا ته په سجده شوم اؤ داسې دعا مې وکړه. اوس نور انتظار مۀ کوه مهربانی وکړه زما په ژوند

کښې راشه. زما د ژوند هره یوه دروازه ستا د پاره کولاؤ ده. ما له د څۀ کوشش یا فکر کولو هیڅ حاجت نۀ وو چې څۀ به کیږی. ما یوه ښۀ فیصله کړې وه. ما ته معلومه وه چې عیسی مسیح اوس زما په ژوند کښې دے. دا زما د ژوند د ټولو نه ښکلې واقعې وې. په یو څو ورځې کښې زۀ د خدائ پلار اؤ خدائ زوی نه خبر شوم. زۀ پاڅیدم اؤ د اودۀ کیدو تیاری مې شروع کړه. زما ذهن په ګردش کښې وو. چې آیا ما د یو بل قدم اوچتولو جرأت کړے دے؟

ما ته یاد شول چې اعمال د رسولانو په کتاب کښې د پنتکست په ورځ مالک عیسی مسیح خپلو مریدانو له د روح القدس سره بپتسمه ورکړې وه. ما خپل سر په بالښت کیښود اؤ ومې وئیل، آیا ما له هم د هغوئ په لار باندې تلل پکار دی؟ ما دعا وکړه چې "اے مالکه ستا نه علاوه بل هیڅوک هم نشته چې ما ته لار وښائی. کۀ دا ستا مرضی وی چې زۀ د روح القدس نه بپتسمه واخلم نو په هر حال کښې زۀ هم داسې غواړم. څۀ چې تۀ غواړې. زۀ تیاره یم، اؤ دې پیېژندلو سره چې ما خپل ځان په مکمل طور هغۀ ته سپارلې دے، بیا زۀ اوده شوم."

په ۲۴ دسمبر ۱۹۶۲ باندې سحر وختی زما سترګې کولاؤ شوې. درې بجې وې. د دې په باوجود چې کوټه یخه وه نو زۀ په یخنئ کښې د کټ نه پاڅیدم اؤ په یخه زمکه باندې په قالین په

ګوډو شوم اؤ پاس کتلو سره راته داسې محسوس شوه لکه چې زۀ یوه عظیمه رڼا وینم. زۀ حیرانه وم. اؤ خپل خالق ته مې خپل لاسونه خوارۀ کړی وو اؤ چغې مې کړې "اے خدایه! ما له روح القدس سره بپتسمه راکړه."

ما خپل بائبل مقدس واخستو اؤ هغه ځائ مې راوویستو چرته چې عیسی مسیح فرمائیلی وو، "اؤ لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده چې یحیی به په اوبو بپتسمه ورکوله خو تاسو ته به په روح القدس بپتمسه درکړے شی اؤ دا به لږې ورځې پس وی." (اعمال د رسولانو ۱: **۵**)

ما ووئیل اے مالکه خدایه کۀ چرې ستا دا خبرې حق وی نو بیا هم اوس ما له دا بپتسمه راکړه. زۀ په یخه زمکه په سجده شوم. د سلګو وهلو په وخت ما دا وئیل چې تر څو پورې تۀ ما له دا بپتسمه را نۀ کړې نو زۀ به هیڅ کله هم د دې ځائ نه نۀ پاڅم. ناڅاپه زۀ د خوشحالئ اؤ ویرې د جذباتو نه معموره شوم. څکه چې سحر وختی ما د مالک مخ ولیدو د بجلئ کرنټ زما د بدن نه تیر شو. زما د روح لړزونکې دا چپې د یو سمندر په شان وې. د سپینو زرو په شان زما روح ویلې شوې وو. زۀ په پوره طور پاکه شوې وم. بیا د دې زورور کرنټ زور په کمیدو شو اؤ د آسمان سمندر ودریدو. زۀ

ډیره زیاته خوشحاله ووم. اؤ ما په اوچت آواز سره د هغهٔ حمد اؤ شکر شروع کړو.

د یو څو ګینټو داسې چې زهٔ په داسې حالت کښې ووم نو ما ته محسوس شول چې خدائ پاک ما ودروی. هغهٔ غوښتل چې اوس زهٔ پاڅم. ما په کړکئ کښې بهر وکتل اؤ راته معلومه شوه چې نمر په راختو دے.

کله چې زهٔ په خپل کټ کښې پرته وم نو ما ووئیل، اے مالکه خدایه د کوم جنت چې تا ذکر کړے دے، آیا هغه به د دې ښهٔ وی؟ ستا په پیژندلو کښې خوشحالی ده. ستا په عبادت کولو کښې حقیقی خوشحالی ده اؤ ستا په مینه کښې تسلی ده اؤ هم دا جنت دے.

کیدے شی په دغه ورځ سحر به زهٔ دوه ګینټې اوده شوې یم. لږه شیبه پس خدمت ګاره راغله. دا وړومبے سحر وو چې ما د سختې لهجې نه کار وانهٔ خستو. د نمر رڼا په کوټه کښې ځلیده. ریشم زما ویښتهٔ ګمنځول اؤ ځان سره یې سندرې وئیلې. مخکښې هغې کله هم داسې نهٔ وو کړی.

ټوله ورځ زهٔ د خدائ پاک په تعریف کولو کښې مصروفه ووم اؤ د خوشحالئ نه معموره شوې ووم اؤ په خپل کور کښې ګرځیدم.

د غرمې د ډوډۍ په وخت محمود زما طرف ته وکتل اؤ وې وئيل، "مورې! تۀ خو ډيره زياته خوشحاله ښکارې. د دې خوشحالۍ څۀ وجه ده؟ " ما لاس ور اوږد کړو اؤ د هغۀ خړ رنګ ويښتو له مې ور ورو. اؤ د دې جواب ورکولو په ځائ ما باورچی ته ووئيل چې هغۀ له نوره حلوا ورکړه. بيا ما محمود ته ووئيل چې مونږ به د مچل په کور کښې د کرسمس خوشحالی کوؤ. محمود په سواليه انداز کښې ووئيل، "کرسمس!" ما ورته ووئيل چې د روژې د مياشتې نه پس دا هم د اختر په شان د ښۀ ښۀ خوراکونو پخولو اؤ د خوشحالۍ کولو يوه ورځ ده. محمود پوهه شو. زما خيال صحيح وو. مچل په دروازه کښې مونږ ته هر کلے ووئيلو. زمونږ نه ګير چاپيره د ښۀ خوراکونو خوشبو وه. اؤ د کوټې نه د خندا آوازونه راتلل. هغۀ مونږ د ميلمانو کوټې ته بوتلو. دا کوټه يې ډيره ښکلې کړې وه. اؤ د مچل د دواړو بچو خندا د بلې کوټې نه راتله. دا ماشومان د محمود نه لږ مشران وو، خو بيا هم محمود ډير په خوشحالۍ سره د هغوئ سره په لوبو کښې مشغول شو.

زۀ د خوشحالۍ نه په جامو کښې نۀ ځائيدم. بغير د سوچ کولو نه ما ډيوډ ته ووئيل، "ډيوډ"! اوس زۀ مسيحی يم. ما د روح القدس نه بپتسمه هم واخسته.

هغۀ په حيرانتيا سره ما ته نيغ نيغ کتل اؤ تپوس يې وکړو، چې تا ته د روح القدس د بپتسمې په حقله چا وئيلی دی. د خدایٔ پاک تعريف کولو اؤ خندا سره هغۀ بيا تپوس وکړو، تا ته چا وئيلی دی؟ ما په خندا سره ووئيل، "عيسی مسيح ما ته وئيلی دی." ما په بائبل مقدس کښې اعمال د رسولانو په کتاب کښې لوستلی دی. ما د خدایٔ پاک نه روح القدس وغوښتلو اؤ هغۀ ما له راکړو. هغوئ دواړه ښځه اؤ خاوند حيران شول. د دواړو په سترګو کښې اوښکې وې. مونږ دريوو واړو د يو بل لاسونه نيولی وو اؤ هلته ولاړ وو. مونږ د هغه کار د پاره د خدایٔ پاک تعريف کولو کوم چې هغۀ کړے وو.

**په هغه شپه ما ډائری (روزنامچه) ليکل شروع کړل، په کومه کښې چې ما د هغه واقعو ذکر وکړو کومې چې زما په ژوند کښې خدایٔ پاک کړې وې. اوس ما سره د مرګ هيڅ ويره نۀ وه. کله چې دا خبره بهر خوره شی چې اوس زۀ عيسائی شوې يم. ما دا غوښتل چې دا زما ريکارډ دے. (په خپله کرسئ باندې ناسته خپل حالات ليکلو سره ما ته هيڅ پته نۀ وه چې هغه زما د تعليم د پاره تياری کوی.**

# شپږم باب

## "د هغهٔ په مینه کښې د اوسیدو سبق"

درې ځله د خدائ پاک د حضورئ د پیژندګلو نه پس تر راتلونکو څو ورځو پورې د حیرانتیا نه ډکې واقعې زما په انتظار کښې وې. اوس چې ما ته څهٔ تجربه وشوه نو هغه په دوارو خوبونو کښې مختلفه وه. دې تجربې زهٔ رابیداره کړم. یوه ورځ غرمه زهٔ په خپله بستره کښې ووم اؤ د خدائ پاک په خیالونو کښې ډوبه ووم، چې ناڅاپی ما محسوس کړل چې زهٔ په هوا کښې والوتم اؤ د کرکئ نه بهر لاړم. یقینا چې زهٔ اوده نهٔ وم. کله چې زهٔ په هوا کښې ووم نو ما د پاس نه زمکې ته وکتل اؤ زهٔ دومره ویریدم چې د ویرې د لاسه مې چغې شروع کړې اؤ سمدستی ما محسوس کړل چې زهٔ واپس خپل کټ ته راغلې یم. زهٔ د بې هوشئ په حالت کښې رپیدم. اؤ ما محسوسول چې زما پښې رپیږی. ما د خدائ پاک نه دعا وغوښته، اؤ ما د دې د مطلب تپوس وکړو اؤ بیا ماته معلومه شوه چې هغهٔ ما له یوه خاص تجربه راکړې ده، ما بخښنې غوښتلو سره ووئیل چې اے خدایه تا د داسې قسمه تجربه د پاره زهٔ بې زړیه ښځه خوښه کړې یم.

اؤ هم په هغه شپه د نیمې شپې نه وروستو دا تجربه یو ځل بیا ما حاصله کړه. خو فرق صرف دا وو چې د دې تجربې په وخت ما خدائ پاک ته وفرمائیل چې زهٔ نهٔ ویریږم. کله چې زهٔ په کړکئ کښې واپس راغلم نو ما دا ګمان وکړو چې زهٔ په روحانی طور آلوتم. ما د خدائ پاک نه د دې د وجې تپوس وکړو.

ما بائبل مقدس اړخ ته توجو وکړه اؤ د خدائ تعالی نه مې د دې په حقله معلومات شروع کړل، ځکه چې زهٔ ویریدم چې هسې نه دا د خدائ پاک د کلام خلاف وی. کله چې ما اعمال د رسولانو (٨: ٣٩) ولوستلو نو ما ته سکون ملاؤ شو ځکه چې کله فیلیپوس حبشی خواجه له بپتسمه ورکړه نو رب روح هغه د اشدود ښار ته بوتلو چې ډیر لرې وو. کله چې ما د پولوس د کورنتیانو په نوم د دویم خط مطالعه وکړه نو د دې نور تصدیق هم وشو. په دولسم باب کښې هغه د خدائ پاک له اړخ نه د رویا اؤ د مکاشفو ذکر کوی. هغهٔ د خپل ځان په حقله لیکلی دی چې هغه دریم آسمان ته پورته کړے شو. هغهٔ محسوس کړل چې صرف خدائ پاک ته معلومه وه چې دا حقیقی جسمانی تجربه وه. اؤ د دې نه پس پولوس رسول ولیکل چې "هغه سړی داسې خبرې واؤریدې چې د هغې وئیل د انسان د پاره روا نهٔ دی."

خو ما دا ټولې خبرې هیڅ کله هم نهٔ شوې هیرولې. اؤ هم داسې د یوې تجربې په دوران کښې ما ولیدل چې یو مینار د آسمان طرف ته اوچتیږی. اؤ ناڅاپی زما په وړاندې په سوؤنو جماعتونه جوړ شول. په دې کښې نوی زاړهٔ اؤ مختلف قسمه جوړ شوی جماعتونه شامل وو. بیا ما کلی اؤ ښارونه لیدل شروع کړل. چې په کښې هر قسمه کلی اؤ ښارونه شامل وو.

بیا کله چې ما په سور اس باندې سور یو کس ولیدو چې په ښی لاس کښې یې تیره توره نیولې وه، نو زهٔ ډیره زیاته ویریدم. نو هغه به کله وریځو ته تلو اؤ کله زمکې ته. ما په دې احساساتو باندې قابو نهٔ شوه ساتلې چې دا تجربې د یو خاص وخت د پاره ما له راکړے شوی دی، چې لاتر اوسه پوره زما په پوهه کښې نهٔ وو.

د بائبل مقدس د لوستلو په وخت ما دا محسوسول چې صرف د دې د لوستلو نه علاوه زهٔ لکه روزانه خپل ژوند تیروم. داسې ښکاریدل لکه چې زهٔ د دې صفحو اړولو سره د فلسطین هغه زړې دنیا ته لاړه شم چرته چې یخوا عیسی مسیح په کاڼیزه لار باندې سفر کولو. ما هغه په تعلیم ورکولو اؤ د هغه تعلیم په مطابق ژوند تیرولو سره ولیدو اؤ دا مې هم ولیدل چې هغهٔ به عجیبه عجیبه کارونه کول. آخر کار هغهٔ سولئ اوچته کړه اؤ په مرګ باندې غالب شو ما دا هم معلوم کړل چې زما د بائبل مقدس لوستلو اثر نورو

خلقو هم محسوسول شروع کړی دی. دا په هغه ورځ ما ته معلومه شوه کله چې زما نوکرې زما د غسل د پاره بندوبست کولو.

نورجهان په یو ډبی کښې ګومنځ اؤ برش کیښودو چې ناڅاپی دا تهول هرڅهٔ د هغې نه وغورزیدل. ډیر شور جوړ شو اؤ د هغې سترګې د حیرانتیا نه کولاؤ پاتې شوې. اؤ یقینا چې ما هغې ته بد رد وئیل شروع کول، خو ما خپل ځان په قابو کښې وساتلو. د دې په ځائ ما ورته ووئیل "نورجهان هیڅ فکر مهٔ کوه هیڅ هم نهٔ دی مات شوی."

بیا زما په ژوند کښې یو خاص قسم بهادری پیدا شوه. تر اوسه پورې ما چې به چا ته د عیسی مسیح په حقله د خپلې دلچسپئ خبره کوله نو زهٔ به ویریدم. زهٔ ویریدم چې خلق به راپورې خندا وکړی. زهٔ ویریدم چې خپل خاندان سره به زما تعلق ختم شی. کیدے شی د محمود پلار هغه زما نه بوځی. دې خیال کولو سره زهٔ نوره هم په ویره کښې شوم چې هسې نه یو مذهبی کس په خپل جوش اؤ جذبه کښې ما قتل نهٔ کړی. نو بیا ما نهٔ غوښتل چې خلق ما د مچل په کور کښې ووینی.

د ښځو هغه ډله کومه چې په وړومبئ شپه د مچل صاحب د کور نه راوتلې وه، هغه لا تر اوسه پورې زما په ذهن کښې وه. زما

نوکرانو ته معلومه وه چې یقینا زۀ په څۀ قسمه واقعاتو کښې راګیره یم. د دې ټولو خیالونو اؤ سوچونو په وجه به زۀ هر وخت د بې آرامۍ په حالت کښې ووم. پته نشته چې زما خلاف به دباؤ اؤ زور کله زیات شی.

خو زۀ درې ځله د خدائ پاک جلوه لیدلو نه پس یوه ورځ د حیرانتیا نه ډکې بهادرۍ نه معموره ووم. زما د عیسائی کیدو مسئله اوس څۀ پټه خبره نۀ وه. د بائبل مقدس په لفظونو کښې ما "په خپله خله د عیسی مسیح اقرار کولو." یوه ورځ د خوب په کوټه کښې زۀ د کړکۍ خوا ته ولاړه ووم اؤ خپل ځان ته مې ووئیل چې وګورم چې اوښ په کوم اړخ کښینی.

ما دومره زر د دې د نتیجې لیدو توقعو نۀ لرله. د ۱۹۶۶ د کرسمس نه سمدستی وروستو زما خدمت ګاره د خفګان په حالت کښې په پونډو لاندې راکوزه شوه اؤ ما ته یې ووئیل بیګم صاحبې! د مچل ښځه تا سره ملاویدو د پاره راغلې ده. لکه د نور کله په شان ما هغې ته ووئیل چې هغه دننه راوله. کله چې زۀ هغې ته د هر کلی وئیلو د پاره دروازې خوا ته لاړم نو زما زړۀ درزیدو. ما ووئیل ستا ملاقات زما د پاره ډیره د عزت خبره ده. ما ډیر په بهادرۍ سره دا خبره وکړه.

د مچل ښځې ما له د ډوډۍ دعوت راکولو د پاره راغلې وه. هغې ووئیل چې یو څو نور کسان به هم هلته کښې وی. اؤ زما یقین دے چې تهٔ به هغوئ سره ملاویږې. اؤ کله چې مې د خلقو په حقله واؤریدل نو زړو دیوالونو یو ځل بیا سرونه را اوچت کړل. یقینا چې هغې زما د ویرې اندازه به لګولې وی. نو په دې وجه هغې ووئیل چې یو څو انګریزان به وی اؤ څهٔ به د امریکې کسان وی، آیا تهٔ به راځې؟ ما د خپلې رضامندئ څرګندونه وکړه.

زهٔ حیرانه ووم چې اکثر ډیر عیسایان خپله د عیسائیت تجربه اؤ عقیده نورو خلقو ته د وئیلو نه ولې شرمیږی. ما محسوس کړل چې د کومو کسانو سره به زما ملاقات د مچل په کور کښې کیږی، هغوئ به د خپلې تجربې اؤ مسیحی عقیدې بیانولو نه نهٔ شرمیږی.

بله ورځ زهٔ د مچل په کور کښې وم. ډیوډ مچل اؤ د هغهٔ ښځې د زړهٔ د اخلاصه په خوشحالئ سره زما استقبال وکړو. اؤ د خپلو دوستانو سره یې زما پیژندګلو وکړه. ما ته په هغه وخت کښې پته نهٔ وه چې په هغوئ کښې ځنې کسان به زما په ژوند کښې اهم کردار ادا کوی. زما ملاقات د مسټر اؤ مسز اولډ سره وشو. مسټر اولډ سول انجنیر وو. هغه ډیر خوش طبیعته وو. هغه په خپله انګریز وو اؤ د هغهٔ ښځه ماری د امریکې وه اؤ نرسه وه. هغه هم ډیره خوش اخلاقه اؤ د ښهٔ طبیعت مالکه وه. اؤ نور کسان هم ډیر ښهٔ وو.

د ټولو توجو زما اړخ ته وه. هر یو کس زما د تجربو آوریدو د پاره بې قراره وو. دا به ډیره خاموشه میلمستیا وی. خو ډیر سوالونه اؤ جوابونه وشول. زما د توقعو په مطابق دا خاموشه میلمستیا نهٔ وه. ټولو په خاموشۍ سره زما خبرې اوریدې. تر دې پورې چې ماشومان هم چپ وو اؤ په غور سره یې زما خبرې اورېدې. کله چې میلمستیا ختمه شوه نو ډیوډ مچل د خوراک د پاره د خپلې ښځې مننه ادا کړه اؤ دې سره یې دا هم ووئیل چې زما د قیصې روحانی خوراک ډیر زیات روح تازه کوونکے وو. مسټر اولډ هم د دې خبرې اقرار وکړو. اؤ بیا یې ما ته مخ راواړولو اؤ وې وئیل، ما تهٔ مخکښې لیدلې یې. زهٔ به په واه کښې اوسیدم. سحر وختی به ستاسو د باغیچې خوا ته تیریدم اؤ ستاسو د باغیچې تعریف به مې کولو. کله کله به تهٔ په باغیچه کښې وې، خو زهٔ به درته دا وو ایم چې تهٔ ډیره بدله شوې یې.

ما یقینا محسوس کړل چې ما ته معلومه ده چې د دې څهٔ مطلب دے. یو څو میاشتې مخکښې بلقیس هیڅ قسمه خندا نهٔ لرله. د خبرو جاری ساتلو د پاره مسټر اولډ ووئیل تهٔ د یو داسې ماشوم په شان یې چا له چې ناڅاپه یوه تحفه ورکړے شوې وی. د دې تحفې حاصلولو سره زهٔ ستا په مخ باندې یو عظیم رعب وینم. دا خزانه د هغه ټولو څیزونه نه زیاته غوره ده کوم چې تا لرل، زهٔ د

هغهٔ د خبرو نه خوشحاله ووم. ما د نورو کسانو د خبرو نه هم مزه اخستله. اؤ ما ته معلومه شوه چې زهٔ په صحيح لاره روانه يم. دا عيسايان د هغه عيسايانو نه بدل وو د چا سره چې زما ملاقاتونه په نورو موقعو باندې شوی وو. د مابښام کيدو نه مخکښې هر يو کس په خپل ژوند کښې د خدائ پاک د کارونو ذکر کړے وو. د ښهٔ خوراکونو سره سره د خدائ پاک حضورئ سره حقيقي لوږه ختميده. داسې قسمه حالات ما مخکښې نهٔ وو ليدلی. اؤ ما دا خواهش لرلو چې افسوس داسې قسمه ميلمستيا مسلسل وی.

د تلو په وخت مسټر اولډ زما د مسيحی رفاقت لرلو د پاره ووئيل چې آيا تهٔ د اتوار په ورځ مابښام زمونږ کور ته راتلے شې؟ اؤ دغه شان د نورو عيسايانو سره زما د ملاقاتونو سلسله شروع شوه. د اتوار په ورځ مابښام زمونږ ملاقات د اولډ په کور کښې وشو. د ميلمنو په کوټه کښې ډير کسان راټول شوی وو. په دې کښې صرف دوه پاکستانيان وو. اؤ نور امريکنی اؤ انګريزان وو. زما ملاقات د ځنی نوؤ کسانو سره هم وشو. مثلاً ډاکټر اؤ مسز کرسټی. دا سړے د لوئ قد مالک وو اؤ په امريکه کښې د سترګو ډاکټر وو. د هغهٔ ښځه نرسه وه. دواړو په يو مقامی مشن هسپتال کښې کار کولو. په دې ملاقاتونو کښې به مونږ ګيتونه وئيل، بائبل مقدس به مو

لوستلو اؤ د یو بل د ضرورتونو د پاره به مو دعا کوله، اؤ ډیر زر دا ماښامونه زما د پاره ډیر عظیم جوړ شول.

بیا د یو اتوار په ورځ د څهٔ په وجه د تلو ضرورت راته نهٔ محسوسیدو. دا یوه وړه شان خبره ښکاریده. خو ناڅاپه زهٔ بې قراره شوم. دا څهٔ وو؟ ما د بې قرارئ په حالت کښې د نوکرانو د کار اندازه اخستله اؤ په کور کښې ګرځیدم. اګرچه هر یو څیز صحیح وو. خو بیا هم داسې ښکاریدل چې هر یو څیز بې ترتیبه کیښودے شوے دے.

زهٔ خپلې کوټې ته لاړم اؤ د دعا کولو د پاره په سجده شوم. لږه شیبه پس محمود راغلو. هغه کوټې ته دننه راغلو. هغه دومره په خاموشئ سره راغلو چې ما ته د هغهٔ د راتلو هډو اندازه هم ونهٔ لګیده. تر څو پورې چې ما د هغهٔ د وړو لاسونو لګیدل نهٔ وو محسوس کړی. هغهٔ تپوس وکړو، مورې! تهٔ ټیک یې؟ تهٔ خفه خفه ښکارې. ما وخاندل. اؤ هغهٔ له مې دا یقین ورکړو چې زهٔ بالکل روغه جوړه یم. هغهٔ ووئیل، تهٔ چې ګرځیدې نو یو خوا بل خوا دې کتل، داسې ښکاریده چې ستا نه څهٔ ورک شوی دی. بیا هغه په ټوپونو اؤ مستئ سره د کوټې نه بهر لاړو. ما ته داسې ښکاریدل لکه چې څهٔ ورک شوی وی. محمود صحیح وئیل اؤ ما ته معلومه وه چې زما نه څهٔ ورک شوی دی. زما نه د خدائ پاک د حضورئ احساس

ورک شوے وو. دا زما د لاس نه تلے وو. ولې؟ آیا د دې تعلق د اولډ کور ته د دعا د پاره زما د نهٔ تلو سره خو نهٔ وو. آیا د دې وجه دا خو نهٔ وه چې ما د تعلق ضرورت هیر کړو.

په دې خبره کښې څومره د ضرورت احساس وو. کله چې ما په ټیلیفون باندې کین ته ووئیل چې زهٔ به راتلونکې هفته کښې د اتوار په ورځ خامخا درځم. نو دې سره زما په روح کښې هغه جذبه بیا راغله. څهٔ خاص خبرې خو ونهٔ شوې، خو دې تعلق سره د خدائ پاک د حضورئ احساس تازه شو. د مسټر اولډ د وینا په مطابق ما ته د تعلق د ضرورت سبق ملاؤ شوې وو. د دې نه پس ما تر هغه وخته پورې د تلو پخه اراده وکړه تر څو پورې چې عیسی مسیح ما ته په خپله دا ونهٔ وائی چې مهٔ ځه.

د خدائ پاک په مینه کښې د تلو سره د خدائ پاک د کلام لوږه به ورځ تر ورځه زیاتیده. د بائبل مقدس مطالعه زما د دلچسپئ مرکز وو. بائبل زما د پاره یو ژوندے حقیقت وو. بائبل مقدس زما د قدمونو د پاره رڼا اؤ زما د لارې د پاره ډیوه وه. رښتیا خو دا وو چې بائبل مقدس زما د خوښې عطر وو. دلته کښې هم ما یوه عجیبه خبره ولیده.

یوه ورځ زۀ اؤ محمود د هغۀ مور سره ملاویدو د پاره لاړو. یوه شپه مخکښې زۀ ډیره ناوخته اوده شوې وم، اؤ د ستړی والی په وجه زۀ دې ته تیاره نۀ وم چې سحر وختی پاڅم اؤ د بائبل مقدس مطالعه وکړم. نو ما ریشم ته ووئیل چې د تلو نه لږ شان مخکښې د چائیو په وخت ما پاڅوه.

ټوله شپه مې ډیره په بې آرامۍ سره تیره کړې وه. اؤ ما خراب خوبونه هم لیدل. کله چې ریشم راغله نو زۀ ډیره ستړې وم. ټوله ورځ مې په مایوسۍ کښې تیره شوه. دا ځۀ وجه وه چې خدائ پاک غوښتل چې زۀ هره ورځ بائبل مقدس ولولم. دا دویم ځل وو چې زۀ د خدائ پاک د حضورۍ نه لرې کیدم.

خو دې تجربې سره ما ته یو عجیبه جذباتی احساس وشو. ځکه چې ما محسوس کړل چې ما ته معلومه هم نۀ ده اؤ په یو حقیقت باندې روانه یم. کله خو به ما ته د خدائ پاک د حضورۍ ډیر ژور احساس کیدو اؤ کله به ما دا احساس بائیلو.

ما له ځۀ کول پکار دی. د هغۀ په مینه کښې اوسیدو د پاره ما له ځۀ کول پکار دی. زما سوچ د هغه وختونو اړخ ته لاړو کله چې به هغه زما خوا ته وو. مثلاً زما خیال دې خوبونو اړخ ته لاړو اؤ د غرمې نه پس د هغه خوشبو اړخ ته لاړو کومه خوشبو چې د ژمی په

موسم کښې په باغیچه کښې وه. ما د دې نه د مخکښې وخت په حقله سوچ وکړو کله چې زهٔ د مچل کور ته تلې ووم. اؤ د دې نه وروستو وختونو باندې مې غور وکړو. کله چې به ما بائبل مقدس مسلسل لوستلو اؤ د اتوار په ورځ به د اولڼ کور ته د عبادت اؤ دعا د پاره تلم. غالبا داسې وختونه راغلی وو کله چې ما ته معلومه وه چې خدائ پاک ما سره دے. ما د دې نه علاوه د نورو وختونو په حقله هم سوچ وکړو. په هغه وختونو باندې مې سوچ وکړو کله چې به ما ته د هغهٔ حضوری نهٔ محسوسیده. بائبل مقدس دا څهٔ په دې رنګ بیانوی، اؤ د خدائ پاک روح مهٔ خفه کوئ. (افسیان **۴: ۳**).

آیا نوکرانو ته د بد رد وئیلو په وخت ما داسې نهٔ وو کړی څهٔ؟ د بائبل مقدس مسلسل نهٔ لوستلو سره ما خپل روح له مناسب خوراک نهٔ ورکولو. یا به مې د اولڼ کور ته تلو کښې سستی کوله. د هغهٔ په تعلق کښې د پاتې کیدو د پاره یوه خبره فرمانبرداری وه. کله چې به زهٔ فرمانبرداره ووم نو زهٔ به د هغهٔ په حضورئ کښې ووم. ما خپل بائبل مقدس راواخستو اؤ د یوحنا په انجیل شریف کښې مې لټون شروع کړو اؤ زهٔ دې آیت ته ورسیدم:

**" هغه څوک چې ما سره مینه کوی هغه به زما په کلام عمل کوی اؤ بیا به زما پلار هم د هغهٔ سره مینه کوی، اؤ پلار اؤ زهٔ به هغهٔ له ځو چې د هغهٔ سره اوسو." ( یوحنا ۱۴: ۲۳).**

ما چې د څهٔ وئیلو کوشش کولو نو بائبل مقدس هغه څهٔ په دې رنګ بیانول. زهٔ د دې کولو په کوشش کښې ووم. ما دعا وکړه اے پلاره ما ته د فرمانبردارئ ضرورت دے. د بائبل مقدس په وجه زهٔ ستا د خادمې جوړیدو خواهش منده یم. زهٔ به ستا حکمونه منم. خو دا څهٔ قربانی نهٔ ده، ځکه چې دې سره ما ته ستا مینه ملاویږی. ستا د نزدې والی حاصلولو د پاره څهٔ کول قربانی کیدے شی. زهٔ د دې عادت نهٔ وم چې کله مې هم د خدائ پاک آواز بغیر د څهٔ واسطې نه آوریدلې وو. خو زهٔ په دې خبره قائله ووم چې زهٔ د خدائ پاک آواز اؤرم. د خدائ پاک نه علاوه بل چا ما ته دا وئیلې شو چې خپل خاوند معاف کړم! ما ته دا آواز راتلو "بلقیس د خپل خاوند سره مینه کوه، هغه معاف کړه."

لږ ساعت د پاره زهٔ خاموشه اؤ بې حاله ناسته ووم. عامو خلقو د پاره د خدائ پاک حضوری محسوسول یو جدا خبره وه. خو دې

سړی سره مينه کول چا چې ما له دومره تکليفونه راکړی وو، دا بالکل جدا معامله وه.

اے پلاره دا زما د وس خبره نۀ ده. زۀ خو نۀ د خپل خاوند د پاره برکت غوښتلے شم اؤ نۀ هغه معاف کولے شم. ما ته ياد شول چې ولې يو ځل ما په ناپوهۍ کښې د خدائ پاک نه دا دعا غوښتې وه چې زما خدايه! خالد کله هم عيسائی نۀ کړې. ځکه چې ما نۀ غوښتل چې هغه هم هغه خوشحالی وپيژنی کومه چې ما حاصله کړې ده. اؤ اوس خدائ پاک ما له حکم راکولو چې هغه کس سره مينه وکړم. کله چې ما د خالد په باره کښې سوچ وکړو نو ما له ډيره زياته غصه راغله. اؤ ما دا کوشش وکړو چې هغه ډير زر د خپل ذهن نه وباسم. "اے خدايه کيدے شی زۀ هغه هير کړم، آيا دا کافی ده؟" د خدائ پاک حضوری راته په کميدو ښکاره شوه. ما بيا ووئيل اے خدايه! زۀ خپل خاوند نۀ شم معاف کولے. په ما کښې د داسې کولو همت نشته.

**ما ته د خدائ پاک خبرې رايادې شوې. " زما جغ په وړلو کښې پوست دے اؤ زما پنډ سپک دے." ( متی ۱۱: ۳۰ ).**

ما په چغو چغو ووئیل، "زۀ هغه نۀ شم معاف کولے." بیا ما هغه ټول تکلیفونه رایاد کړل کوم چې هغۀ ما له راکړی وو. دې سره زما زخمونه نور هم راتازه شول. داسې تکلیفونه اؤ پریشانئ مخې ته راغلې کومې چې ما خپل ذهن نه ویستلې وې. اؤ کله چې به ما د هغې په حقله سوچ کولو نو دې سره به هم ما ته درد اؤ تکلیف ملاویدو. په ما کښې د نفرت چینه رابرسیره شوه. اؤ اوس ما محسوسول چې زۀ په مکمل طور د خدائ پاک نه جدا یم. د یو ورک شوی ماشوم په شان ما د ویرې د لاسه چغې وویستلې. اؤ ډیر زر د یو معجزې په طور ما د خدائ پاک حضوری په خپله کوټه کښې محسوسولې شوه. زۀ په زمکه په سجده شوم اؤ د خپل نفرت اقرار مې وکړو اؤ د خپل نۀ معاف کولو دا ګناه مې قبوله کړه.

دا خبرې زما په ذهن کښې بیا راتازه شوې. " زما جغ په وړلو کښې پوست دے اؤ زما پنډ سپک دے." ډیر په بهادرئ سره ما خپل ټول بوج هغۀ ته وسپارلو. ما خپل نفرت، تکلیف اؤ درد هغۀ ته حواله کړل. ناڅاپې ما په خپل باطن کښې د سحر کیدو په شان رڼا محسوس کړه، تسلی راته ملاؤ شوه اؤ په تیزئ سره مې خپل سنګهار میز اړخ ته منډه کړه. تصویر مې را اوچت کړو کوم چې د سور رنګ په فریم کښې وو. اؤ د خالد مخ ته مې وکتل.

ما دعا وکړه اے پلاره! زما نه دا نفرت لرې کړه اؤ زما د مالک اؤ د خلاصوونکی عيسی مسيح په نامه زما په زړهٔ کښې د خالد د پاره مينه پيدا کړه. زهٔ تر ډير وخته پورې ولاړه ووم اؤ تصوير ته مې کتل. په قلاره قلاره زما د زړهٔ نه خراب احساسات په ختميدو شول. اؤ د دې په ځائ زما په زړهٔ کښې يوه داسې مينه پيدا شوه چې ما يې توقعو نهٔ لرله.

په تصوير کښې هغه سړی د پاره زما په زړهٔ کښې ښهٔ جذبات پيدا شول. اؤ په حقيقت کښې ما د خپل خاوند د پاره ښهٔ سوچونه اؤ خيالونه شروع کړل. اے مالکه خدايه! هغهٔ له برکت ورکړه. هغهٔ له خوشحالی ورکړه، اؤ هغه چې هر چرته وی نو هغه له خوشحالی ورکړه. دې سره تورې وريځې زما د زړهٔ نه لرې شوې. زما د روح نه يو بوج لرې شو. ما محسوس کړل چې زهٔ د اطمينان اؤ سکون نه معموره شوې يم. يو ځل بيا ما محسوس کړل چې زهٔ په هغه جلال کښې اوسيږم. اؤ يو ځل بيا زما دا خواهش وو چې زهٔ به د هغهٔ سره تعلق کله هم نهٔ پريږ دم. دې خواهش تازه کولو د پاره زهٔ په پوښو لاندې کوزه شوم. اؤ په خپلو دواړو لاسونو مې د صليب نخښې جوړې کړې. په يو حال کښې به هم په عقل اؤ پوهې سره د هغهٔ د حضورئ نه لرې نهٔ ځم.

زما يقين وو چې د هغهٔ په حضورئ کښې د اوسيدو د زده کولو د پاره ما له لږ نور وخت پکار وو. خو دا د تربيت وخت وو کوم چې ما ډير په خوشحالئ سره قبول کړو. اؤ بيا يوه شپه يوه ويرونکې تجربه ما ته راپيښه شوه.

# اووم باب

## "د اوبو اؤ اور سره بپتسمه"

په ۱۹۶۷ کال اؤ د جنورئ په میاشت کښې یوه شپه زهٔ ډیره په ژور خوب اوده ووم چې ناڅاپی زما کټ په تیزه تیزه په خوزیدو شو. زهٔ د پریشانئ په حالت کښې راپاڅیدم.

زلزله! زما زړهٔ په یو نامعلومه ویره کښې وو. اؤ د دې نه پس ما په خپله کوټه کښې د ویرونکی شیطانی قوت احساس وکړو یو داسې قوت کوم چې یقینا شیطانی وو.

ناڅاپی زهٔ د کټ نه ښکته وغورزولے شوم. نهٔ په بدن اؤ نهٔ په روح کښې دا ما ته معلومه وه. خو داسې ښکاریدل لکه چې د هوا یوې تیزې چپې یو د بوسو تیلے په هوا کښې اوچت کړے وی. د بجلئ په شان سمدستی د محمود مخ زما مخې ته شو. اؤ زما زړهٔ د هغهٔ د حفاظت د پاره چغې کړې. کله چې زما وجود رپیدو نو زما دا یقین راغلو چې زهٔ به ژوندئ پاتې نهٔ شم. یوه ویرونکې حضوری د تورې وریځې په شان زما نه چاپیره وه. ما خپل آقا له آواز ورکړو اے مالک عیسی مسیح! اؤ دې سره دومره په زوره زوره په رپیدو شوم لکه څنګه چې یو هوسئ د ښکاری په ګرفت کښې راشی اؤ

هغه ریږدی. په خپل روح کښې مې چغې وهلې اؤ خدائ پاک نه مې دعا وغوښتله چې اے مالکه خدایه! آیا ما د عیسی مسیح په رابللو کښې څۀ خطا کړې ده څۀ؟ دې سره یو عظیم قوت په ما کښې داخل شو، اؤ ما، عیسی، عیسی چغې ویستل شروع کړې.

دې سره د زورور ښکاری زور کم شو. ما هلته د خدائ پاک حمد و ثنا وئیله. بهرحال د شپې درې بجې وې چې زما سترګې په خوب ورغلې. اؤ زۀ اوده شوم.

کله چې سحر شو نو ریشم د چائیو په وخت زۀ راپاڅولم، ما په کټ کښې یو قسم آرام محسوسولو. خو کله چې ما په دعا کښې خپلې سترګې پټې کړې، نو ما حضرت عیسی مسیح خپلې مخې ته ولاړ ولیدو. هغۀ سپینه چوغه اؤ ارغوانی ټوپۍ اچولې وه. ډیر په مینه یې وخاندل اؤ وې وئیل، ویریږه مه! داسې به بیا نۀ کیږی.

دغه وخت ما محسوس کړل چې زما دا ویرؤونکې تجربه شیطانی تجربه وه. دا یو قسم آزمیښت وو، کوم چې زما د فائدې د پاره وو. ما ته هغه آواز رایاد شو کوم چې زما د باطن نه راغلے وو. هغه آواز دا وو. زۀ به د هغۀ نوم یادوم. زۀ به د مالک عیسی مسیح نوم اخلم.

زما مالک لاتر اوسه پورې زما مخې ته ولاړ وو. هغۀ وفرمائیل "بلقیس وخت راغلے دے چې تۀ په اوبو سره بپتسمه واخلې. " اوبو سره بپتسمه، دا ټکی ما ډیر په واضحه طور سره آوریدلی وو اؤ څۀ چې ما آوریدلی وو هغه زما خوښ نۀ وو.

څومره زر چې کیدے شوه ما جامې بدلې کړې، اؤ ریشم اؤ نورجهان ته مې ووئیل چې د غرمې تر ډوډۍ پورې ما یواځې پریږدی. زۀ په سوچ کښې ډوبه ووم اؤ د کړکۍ خوا ته ولاړه ووم. د سحر هوا یخه وه اؤ په باغ کښې د چینو نه بخارات په بره ختل. ما ته معلومه وه چې د بپتسمې مطلب مسلمانانو د پاره واضحه دے. خو د بپتسمې رسم یوه مختلفه خبره وه، د یو مسلمان د پاره دا یوه د ګناه نخښه ده چې یو کس اسلام پریښودو اؤ عیسائیت یې قبول کړو. د مسلمانانو د پاره بپتسمه د اسلام نه اؤړیدلو یوه نخښه ده.

بیا دلته کښې د یو سخت آزمیښت مرحله وه. نتیجه څرګنده وه، آیا زۀ د عیسی مسیح فرمانبرداری وکړم اؤ په نتیجه کښې د یو شودر اؤ غدار نه خراب ژوند تیر کړم. د ټولو نه اول ما له دا یقین کول وو چې په حقیقت کښې زۀ د خدائ پاک پیروی کوم. زۀ دومره کلکه مسیحی نۀ وم چې په صحیح طریقې سره په آوازونو کښې فرق وکړم. زۀ د خپل بائبل مقدس اړخ ته لاړم. اؤ په کښې مې ولوستل چې عیسی مسیح په خپله د اردن په سیند کښې بپتسمه

اخستې وه. بیا ما د رومیانو خط باندې نظر وکړو چرته چې بپتسمه د مرګ اؤ د ژوند مطلب ورکوی. یعنی زوړ انسان مړ شی. اؤ نوې سړے خپل ټول ګناهونه پریږدی اؤ راژوندے شی، نو هم دا د هغې مطلب وو. کۀ چرې مالک عیسی مسیح بپتسمه اخستې وی اؤ بائبل مقدس هم مونږ ته د بپتسمې په حقله وائی نو بې شکه زۀ به تابعداری کوم.

په دې دوران کښې ما ریشم له آواز ورکړو. ما ووئیل چې منظور ته ووایه چې ګاډے رابهر کړی ځکه چې د غرمې د ډوډۍ نه پس به زۀ مسټر اولډ سره ملاقات د پاره ځم.

لږه شیبه وروستو زۀ د مسټر اؤ مسز اولډ په کور کښې وم. ډیر په سادګۍ سره ما هغوئ ته ووئیل چې ولې خدائ پاک ما ته د بپتسمې اخستلو د پاره وئیلی دی. هغۀ خپلې سترګې پورته کړې اؤ ما ته یې نیغ نیغ کتل. کیدے شی چې هغۀ زما د ارادې د اندازې اخستلو کوشش کولو. بیا مسټر اولډ رامخکښې شو اؤ وې وئیل" بلقیس"معامله ډیره سنجیده ده. آیا تۀ د دې د انجام نه خبر یې، "آؤ!" ما جواب ورکړو. اؤ د دې نه مخکښې چې زۀ نور څۀ ووایم، مسټر اولډ په قلاره ووئیل، بلقیس ! آیا تۀ به دا برداشت کړې چې خپل خاندان نه جدا شې. آیا تا ته معلومه ده چې د دې نه پس به تا ته بیګم شیخ نۀ شی وئیلې، څوک چې د یوې عزتناکې اؤ

مالداره زمیدارې کورنئ سره تعلق لری. د دې نه پس به دلته اوسیدونکو عیسایانو سره ستا تعلق وی؟ ما په جواب کښې ورته ووئیل، ما ته د دې هرڅۀ پته ده. د هغۀ خبرې نورې هم سختې وې. ما هغۀ ته په داسې نظر سره وکتل چې په کښې کلکه اراده وه. هغۀ خپله خبره جاری وساتله اؤ وې وئیل، اؤ آیا تا ته معلومه ده چې د محمود پلار هغه ډیر په آسانئ سره ستا نه اخستلې شی. هغه په تا باندې ډیر په آسانئ سره دا الزام لګولے شی چې تۀ یوه غیرذمه داره ښځه یې.

زما په زړۀ لکه چې چا ګزار کړے وی. زۀ د هغۀ په حقله فکرمنده شوم. کله چې مې د مسټر اولډ نه دا واؤریدل نو زما وسوسې نورې هم مضبوطې شوې. د کمزورئ په حالت کښې ما ووئیل، ما ته معلومه ده چې خلق به دا ګمان کوی چې زۀ یو جرم کوم. خو زۀ بپتسمه اخستل غواړم. ما له ضرور د خدائ پاک فرمانبرداری کول پکار دی. زمونږ خبرې اترې د مسټر مچل د ناڅاپه راتلو په وجه نیمګړې پاتې شوې. مسټر اولډ هغۀ ته سمدستی ونۀ وئیل چې مونږ په یو اهم مسئله باندې خبرې کولې. هغۀ ورته ووئیل، "بلقیس بپتسمه اخستل غواړی. " لږ وخت د پاره په کوټه کښې خاموشی شوه.

ډیوډ ووئیل، چې زمونږ په کور کښې خو تالاؤ نشته. ماری تپوس وکړو! د پیښور په جماعت یعنی کلیسیاء کښې چې کوم تالاؤ دے نو د هغې په حقله ستاسو څۀ خیال دے. د پیښور نوم اؤریدو سره زما زړۀ وویریدو. پیښور یو داسې ښار دے چې په هغې کښې ډیر زیات مذهبی مسلمانان اوسیږی. چې په جوش کښې د هوش نه کار نۀ اخلی. ما سوچ وکړو چې یقینا دا راز به خلقو ته معلوم شی. په یو ګینټه نیمه کښې به ټول کلی خبر شی. پیښور ته د تلو زمونږ ټول انتظام مسټر اولډ ته په حواله شو. یو دوه ورځې کښې به پادری مونږ له خبر راکړی.

په هغه ماښام ما ته ټیلیفون راغلو. دا زما د کاکاجی فتح د طرف نه وو. ما به د دې مشر ډیر قدر اؤ عزت کولو. هغۀ به همیشه زما په مذهبی وده اؤ ترقئ کښې ډیره دلچسپی اخستله. " بلقیس" د کاکاجی دې تریخ آواز زۀ ډیره پریشانه کړم. آؤ کاکاجی! " آیا دا رښتیا دی چې تۀ د بائبل مطالعه کوې؟". " آؤ." زۀ ډیره حیرانه ووم چې هغۀ ته د دې خبرې څنګه پته ولږیده. فتح کاکا په غصه کښې ووئیل چې دې عیسایانو سره کله هم د بائبل مقدس په حقله خبرې مۀ کوه. تا ته معلومه ده چې دوئ څومره بحث کوی. اؤ د دوئ بحث اکثر د خفګان سبب ګرځی. اؤ په زوره سره یې ما ته ووئیل چې زما د مشورې نه بغیر کله هم هغوئ له خپل کور ته دعوت مۀ ورکوه. کۀ

چرې تا داسې ونۀ کړل نو یاد ساته چې په کورنۍ کښې به هیڅوک هم ستا دا غلطی قبوله نۀ کړی. د فتح کاکا ساه ګډه وډه شوې وه. اؤ کله چې هغه ساه اخستلو د پاره لږ شان خاموشه شو، نو ما ورته ووئیل "کاکاجی زما خبره واؤرئ." بل اړخ ته په ټیلیفون باندې خاموشی وه.

ما ووئیل چې کاکاجی ستاسو به یاد وی چې زما کور ته د دعوت نه بغیر څوک هم نۀ دی راغلی. زما امید دے چې کاکاجی به دا یاد ساتی. زۀ دې خبرې د پاره مشهوره ووم چې څوک اول ما له ملاقات د پاره دعوت را نۀ کړی نو زۀ به هغوئ سره ملاویدو د پاره تیاره نۀ ووم. د فیصلې په انداز کښې ما ووئیل، چا سره چې زۀ غواړم نو هغوئ سره به ملاقات کوم، د خدائ په آمان. ټیلیفون زما په لاس کښې وو. آیا زما د کورنۍ له طرفه د راتلونکو خبرو هر کلے وو. کۀ چرې فتح کاکا صرف دې اوریدو سره بې قراره وو چې زۀ بائبل مقدس لولم، نو کله چې زما باقی خاندان زما د بپتسمې په حقله واؤری نو د هغوئ به څۀ حال وی.

ما په دې باندې سوچ کول نۀ غوښتل. په دغه وخت کښې د بپتسمې اخستو خواهش مې نور هم زیات شو. زما دا یقین نۀ وو چې زۀ به د خپلو ټولو رشته دارانو اړخ نه د راتلونکی دباؤ اؤ بوج

مقابله وکړے شم یا نه. د مسټر اولډ له طرفه هیڅ پیغام نۀ وو راغلے.

بله ورځ سحر ما په کلام مقدس کښې د حبشی خواجه قیصه لوستله چا له چې فیلیپوس د خدائ پاک پیغام ورکړے وو. کله چې هغوئ په لاره روان وو نو چې اوبو خوا ته ورسیدل نو حبشی خواجه بپتسمه واخسته. داسې ښکاریده لکه چې خدائ پاک ما ته بیا بیا وائی چې بپتسمه واخله. ما محسوس کړل چې د دې مطلب دا دے چې کۀ چرې زۀ نور انتظار وکړم نو کیدے شی څۀ مشکلات یا څۀ خنډ پیدا شی. ما زر تیاری وکړه اؤ د مسټر مچل کور ته لاړم. په دروازه کښې ما د مسټر مچل نه پوښتنه وکړه چې د پیښور نه څۀ جواب راغلے دے کۀ نه؟ هغۀ ووئیل، نه! ما ورته ووئیل چې تۀ ما له دلته بپتسمه نۀ شې راکولے؟ "نن! اؤ هم اوس." مسټر مچل ووئیل چې د دومره لوئې فیصلې د پاره مونږ له تیزی کول نۀ دی پکار. ما هغۀ ته ووئیل چې خدائ پاک غواړی چې زۀ زر تر زره بپتسمه واخلم. اؤ زۀ غواړم چې د څۀ قسمه مشکل یا تکلیف راتلو نه مخکښې زۀ د خدائ پاک تابعداری وکړم.

د بې بسئ په حالت کښې ډیوډ خپل لاسونه خوارۀ کړل اؤ د خپلو مصروفیاتو ذکر یې شروع کړو اؤ وې وئیل چې ما له پکار دی چې زۀ سینوډ د غرمې نه پس ایبټ آباد ته بوځم اؤ بیا یې ما ته

ووئیل چې تۀ صبر وکړه. اؤ وې وئیل "زما یقین دے چې صبا به مونږ له د پیښور نه خبر راشی." زۀ د مسټر اولډ کور ته لاړم، اؤ څنګه چې اولډ اؤ ماری زما ملاقات د پاره بهر راغلل نو ما په زوره زوره ورته ووئیل، چې آیا داسې څۀ طریقه شته چې زۀ هم اوس بپتسمه واخلم. هغوئ زۀ د لاس نه ونیولم اؤ د کوټې اړخ ته یې بوتلم اؤ مسټر اؤ مسز اولډ راته ووئیل، مونږ خپل پادری ته وئیلی دی، هغه وائی چې دا ټوله معامله به په ترتیب سره سر ته رسی. ما د پریشانئ په حالت کښې تپوس وکړو، په ترتیب سره؟ هغۀ ووئیل چې زما پادری د بپتسمې درکولو د پاره رضامند دے. خو هغه به د کلیسیاء یعنی د جماعت د مشرانو نه اول اجازت اخلی. اؤ هغۀ دا هم ووئیل چې په دې کښې یو څو ورځې لګیدے شی.

اؤ په دې دوران کښې څۀ هم کیدے شول. اؤ ما په هغه ټولو حالاتو باندې سوچ کولو کوم چې ما ته راپیښیدے شو. بیا مسټر اولډ ما ته عجیبه خبره وکړه. د نیمې شپې په وخت هغۀ د یو کس آواز واؤریدو چا چې هغۀ ته ووئیل چې په بائبل مقدس کښې شپږ سوه اؤ څلور پنځوسمه صفحه کولاؤ کړه. هغۀ سوچ وکړو چې د بائبل مقدس د حوالې ورکولو څومره عجیبه انداز دے. دا د ایوب د کتاب دیارلسم اؤ څوارلسم باب وو. اؤ دا آیت په دې حواله کښې وو. هغۀ هغه آیت ولوستلو، کوم چې د هغۀ د پاره د برکت سبب وو،

اؤ د هغې زما د پاره مطلب واضحه وو، په هغې کښې څۀ داسې لیکلی وو:

"زۀ خپله غوښه په خپلو غاښونو سره ولې میده کړم، اؤ خپل ژوند په خپل لاس کښې ولې کیږدم؟ ګوره! هغه به ما وژنی زۀ به انتظار نۀ کوم. زۀ به د خپلو لارو تائید د هغۀ په حضور کښې کوم."

ما سوچ کولو چې آیا زۀ د دې هم قابله یم. آیا زما بروسه دومره مضبوطه ده. زۀ پاڅیدم اؤ د مسټر اولډ لاس مې ونیولو اؤ ورته مې ووئیل ما له هم اوس په اوبو کښې بپتسمه راکړه. اؤ کۀ هغوئ ما قتل هم کړی، نو زۀ د دې د پاره تیاره یم. د خپل مالک خدائ پاک سره په آسمان کښې اوسیدل زما د پاره غوره دی.

د بې بسئ په حالت کښې مسټر اولډ په کرسئ کښې کښیناستو. ما هغۀ ته د خپل خفګان په حقله ووئیل، اؤ دا مې هم ورته ووئیل چې خدائ پاک وئیلی دی چې زۀ هم اوس بپتسمه واخلم. په دې معامله کښې به آیا تۀ زما مدد کوې کۀ نه؟ مسټر اولډ په کرسئ کښې ډډه ولګوله اؤ کښیناستو اؤ په خپلو سرو ویښتو کښې یې لاس وهلو. د ماری طرف ته یې وکتل اؤ وې وئیل"کۀ ستاسو خوښه وی نو مونږ به د مچل کور ته لاړ شو." اؤ دا به معلومه کړو چې مونږ څۀ کولے شو! د واه په کږو وږو لارو باندې

مونږ واپس د مچل کور ته لاړو. د لږ وخت د پاره مونږ د مچل د دعا په کوټه کښې خاموشه ناست وو. بیا مسټر اولډ په سنجیدګئ سره مونږ ته ووئیل، زما یقین دے چې مونږ ټول دا خبره منو چې تر اوسه پورې خدائ پاک د بلقیس په یو خاص طریقې سره راهنمائی کړې ده. اؤ کۀ چرې هغه د خپلې بپتسمې په اهمیت باندې زور اچوی، نو دا خبره هم د خدائ له طرفه ده. نو ښه به دا وی چې مونږ په دې کښې خنډ جوړ نۀ شو. هغۀ د مسټر مچل اړخ ته وکتل اؤ وې وئیل "تۀ خو هسې هم ایبټ آباد ته روان یې، نو ماری اؤ بلقیس به د ځان سره کړم اؤ هلته به تاسره ملاؤ شو. اؤ د غرمې نه پس به د بلقیس د بپتسمې بندوبست وکړو. اؤ پیښور ته د تلو پروګرام به ختم کړو."

داسې ښکاریده چې دا فیصله صحیح ده. بس مونږ ټولو تیاری شروع کړه. زۀ زر کور ته لاړم، ریشم ته مې ووئیل چې هغه زر ما له یو جوړه جامې په بیک کښې واچوی. ځکه چې مسټر اولډ راته وئیلی وو چې دا جامې به پکار راځی. د دې ټولو خبرو په دوران کښې ما بې آرامی شان محسوسوله. د خدائ پاک نه مې د لرې والی احساس محسوس کړو. خدائ پاک په واضحه طور ما ته دا وئیلی وو چې سمدستی بپتسمه واخلم. اؤ دا فیصله ما ډیره اوږده

کړه. د خپل کوشش په باوجود هم د سمدستی بپتسمې اخستلو دا خیال ما د خپل ذهن نه ونۀ ویستلو.

چې بله یوه اسره هم پاتې نۀ شوه نو ما خدائ پاک نه پوښتنه وکړه چې آیا زما هم اوس بپتسمه اخستل صحیح دی؟ نو دغه شان په ۲۴ جنورئ ۱۹۲۷ کښې د یوې خاص بپتسمې شروع وشوه. ما بیا ریشم له آواز ورکړو اؤ ورته مې ووئیل چې ټب د اوبو نه ډک کړی اؤ هغې خو زما حکم ومنلو خو لږه شان پریشانه وه، ځکه چې دا زما د غسل وخت نۀ وو.

ریشم ما ته ووئیل چې ټب یې د اوبو نه ډک کړے دے اؤ ما هغې ته ووئیل چې تۀ اوس لاړه شه. زما دا عمل د علم الهیات په رڼا کښې غلط کیدے شو خو زما په وړاندې د علم الهیات اصطلاح نۀ وه. ما د حکم د منلو کوشش کولو. د څۀ وروستو چې د خدائ پاک کلام وو. دا ضروری وه چې زۀ هم اوس بپتسمه واخلم. اؤ اګر کۀ دا د علم الهیات خلاف کار وو. خو بیا هم زۀ دې ته تیاره نۀ وم چې تر ماسپښینه انتظار وکړم.

اؤ بله دا چې په دې دنیا کښې مې د ټولو نه زیات خواهش دا وو چې زۀ د خپل خدائ پاک په حضورئ کښې پاتې شم اؤ دا خواهش صرف په فرمانبردارئ سره پوره کیدے شو. زۀ د غسل

خانې اړخ ته لاړم اؤ د اوبو نه ډک یو ژور تهب ته ورکوزه شوم. کله چې زۀ په اوبو کښې کښیناستم نو اوبۀ زما تر اوږو پورې راتلې. ما خپل لاس په خپل سر کیښودو اؤ په اوچت آواز سره مې ووئیل، بلقیس زۀ تا له د پلار، زوی اؤ روح القدس په نامه بپتسمه درکوم. ما لاس سره خپل سر په اوبو کښې ډوب کړو اؤ دغه شان زما ټول بدن په اوبو کښې پټ شو. د خدائ پاک تعریف کولو سره زۀ د اوبو نه رابهر شوم. اے پلاره ستا شکر دې وی، زۀ څومره خوش نصیبه یم. ما ته معلومه وه چې زما ګناهونه ووینځلې شول اؤ زۀ د خدائ پاک په نظر کښې قبوله شوم. نۀ ریشم د دې په حقله پوښتنه وکړه اؤ نۀ ورته ما د وئیلو کوشش وکړو. لږه شیبه پس مې جامې بدلې کړې اؤ ایبټ آباد ته د بپتسمې اخستلو د پاره د اولډ د راتلو په انتظار کښې ووم. ما ته په هغه ځائ کښې د خدائ پاک د علم اؤ پوهې پته نۀ وه.

زما خو صرف خپل مقصد سره غرض وو. هغه عیسایانو ملګرو زما په مدد کولو کښې زما ډیر خیال ساتلے وو. هغوئ زما د پاره ډیر څۀ کړی وو. اؤ ما نۀ غوښتل چې دا خبره ډیره ګرانه شی. اګر کۀ زما د زړۀ نه دا آواز راتلو چې ما د خدائ پاک فرمانبرداری کړې ده، خو بیا هم زۀ د بپتسمې اخستلو د پاره لاړم. ما د بائبل مقدس لوستلو کوشش وکړو. خو زما روح دومره خوشحاله وو چې

ما دې له پوره توجو ور نۀ کړے شوه. زۀ د خدائ پاک په حضورئ کښې داسې ووم لکه څنګه چې د هغۀ د حکم منلو نه مخکښې ووم. اؤ د هغۀ حکمونه په بائبل مقدس کښې څرګند وو.

ریشم ما ته ووئیل چې مسټر اولډ اؤ د هغۀ ښځه راغلی دی. ما محمود ته ووئیل چې تر ماښامه پورې به زۀ په کور کښې نۀ یم. ما هغۀ ته دا ونۀ وئیل چې ولې. ما نۀ غوښتل چې هغه په دې خبرو کښې پریوځی. د دې نه پس زۀ مسټر اولډ اؤ د هغۀ ښځې سره ملاؤ شوم.

ایبټ آباد ته د دوؤ ګینټو سفر وو. د سړک دواړو غاړو ته د صنوبر ونې وې. په واه کښې ما د خپلې بپتسمې ذکر ونۀ کړو. اؤ په مختلفو موضوګانو باندې خبرې اترې شروع وې. ما ته هغه وخت رایاد شو کله چې به مې د سامان نه ډکو ګاډو سره په دې لاره سفر کولو. لږ وخت د پاره ما دا ګمان وکړو چې زۀ د زړو روایاتونو سره بې وفائی کوم. کله چې مونږ خپل منزل ته ورسیدو نو هلته کښې مسټر مچل اؤ د هغۀ ښځه اؤ د کنیډا یو ډاکټر چې نوم یې بوب وو اؤ د هغۀ ښځه چې زمونږ میلمستیا به یې کوله، زمونږ په انتظار کښې وو. هغوئ سره یو پاکستانے هم ولاړ وو. د مچل ښځې راته ووئیل چې دا سړے پادری بهادر دے چې تا له به بپتسمه درکوی. اؤ په نورو کسانو کښې هم یو پاکستانے پادری اؤ یو ډاکټر وو. د

مچل ښځې ووئیل "بلقیس! دا یوه ډیره عظیمه ګواهی ده. کیدے شی ستا په وجه د مخکښې نه عیسایان یو بل ته نزدې شی ځکه چې په پاکستان کښې کیدے شی په اول ځل د مختلفو ډلو خلق یوځائ بپتسمې اخستلو له راغلی دی."

د هر یو کس په مخ خوشحالی وه. دروازې بندې وې. اؤ پردې راځوړندې وې، اؤ ما دا سوچ کولے شو چې څنګه به په اوله صدئ کښې عیسایانو د روم د حکومت په وجه په غارونو کښې په پټه بپتسمې اخستلې. د بپتسمې د تیارئ د پاره ما چاپیره نظر وکړو اؤ تپوس مې وکړو چې تالاؤ چرته دے؟ ما ته معلومه شوه چې د اوبو تالاؤ نشته. مسټر اولډ ووئیل چې ما له به د اوبو شیندلو سره بپتسمه راکوی. ما ورته ووئیل چې عیسی مسیح خو د اردن په سیند کښې په اوبو کښې ډوبیدو سره بپتسمه اخستې وه.

دلته را رسیدو نه مخکښې مونږ د یو دریاب په پل باندې تیر شوی وو. ما ورته ووئیل چې تاسو ما دریاب ته واپس ولې نۀ بوځئ. خو بیا ما ته یاد شول چې ډیره زیاته یخنی ده. اؤ نور کسان به هم ما سره اوبو ته کوزیږی. په دې وجه ما په دې خبره ډیر زور ونۀ لګولو. خاص طور باندې ځکه چې زما یقین وو چې ما د هغه مقدس حکم فرمانبرداری کړې ده. کیدے شی په دې وجه ما له په دویم ځل د اوبو شیندلو دا بپتسمه راکړے شوه. کله چې یې په ما اوبۀ

راشيندلې، نو زما په ذهن کښې دا خيال راغلو چې خدائ پاک به يقينا د دوئ په دې عمل باندې خاندی. د دې رسم پوره کولو نه پس چې کله ما چاپيره نظر وکړو نو ما ته معلومه شوه چې د هر يو کس سترګې د اوښکو نه ډکې وې. ما په خندا کښې ووئيل چې يقينا دا ژړا زما د حوصلې د پاره نۀ ده. ډير په خوشحالئ سره د مچل ښځې زما نوم واخستلو اؤ ما ته را ترغاړه وته. اؤ د جذباتو په وجه يې نور هيڅ هم ونۀ وئيل.

اؤ نورو ټولو کسانو ما له مبارکی راکړه. د خدائ پاک د تعريف د پاره مونږ يو زبور شريف ولوستلو اؤ د واپس راتلو د پاره تيار وو. سفر ډير په خاموشئ سره تير شو. ما ته داسې ښکاريدل لکه چې زۀ د خپلې کورنئ په خلقو کښې يم. د ژړا په حالت کښې مونږ يو بل نه رخصت واخستو اؤ د يو بل نه جدا شو.

اؤ کله چې زۀ د دروازې نه ننوتم نو زما ټول سکون تباه برباد شو. ډير په پريشانئ سره څوکيدار زما اړخ ته رامنډه کړه. اؤ وې وئيل، بيګم صاحبې! ستا کورنئ ستا په حقله پوښتنه کوله. هغوئ وئيل چې تۀ د عيسايانو سره ملاويږې. ما خپل لاس اوچت کړو اؤ هغۀ ته مې ووئيل چې چپ شه. ما په قلاره د هغۀ نه تپوس وکړو، "څوک څوک راغلی وو." څوکيدار د هغه ټولو کسانو نومونه واخستل څوک چې هغه ورځ زما کور ته راغلی وو. زۀ په يو نوی

خفګان کښې اخته شوم. دا زما د کور مشران خلق وو. یعنی زما کاکاجی اؤ ترور. ماما اؤ مامی اؤ زما د کاکاجی مشر ورور. اؤ دا کسان به زما کور ته په هغه وخت کښې ټول په یو ځائ راټلل کله چې به څۀ خاص مسئله وه. زما زړۀ ډیر خفه شو. په هغه شپه ما د محمود سره ډوډئ وخوړه. ما دا کوشش کولو چې هغۀ ته زما د دې وسوسو په حقله پته ونۀ لږی. کله چې هغه اودۀ شو نو زۀ خپلې کوټې ته راغلم. د ژمی په موسم کښې په دغه شپه ما د سپوږمئ په رڼا کښې د خپل کور باغیچه په واضحه طور لیدلې شوه. کومې سره چې ما ډیره مینه کوله. اؤ د خپل کور سره زما ډیره مینه وه.

آیا زۀ به اوس په خپل کور کښې د اوسیدو قابله یم یا نه؟ دا یو ډیر عجیبه خیال وو. ځکه چې همیشه د خپل خاندان حفاظت اؤ عزت په دې کور کښې زما د پاره ټول هر څۀ وو. بې شکه ما محسوس کړل چې دا خیال یو نبوت دے. هغه قوتونه کوم چې زما خلاف وو، اؤ د مخکښې نه یې خپل ځان زما په کورنئ کښې څرګندول شروع کړی وو، ما ته د هغې پته وه. کۀ چرې دا ټول قوتونه په شریکه زما خلاف شی نو بیا به څۀ کیږی؟

یقینا په دې وجه خدائ پاک ما له د سمدستی بپتسمې اخستلو د پاره زورنه راکوله. هغۀ ته زما په حقله پته وه چې زۀ چرته په حفاظت کښې نۀ یم. زۀ د کړکئ سره ولاړه وم اؤ بهر مې کتل. د

خوزیدونکو ونو سوری په کړکۍ لګیدل. ما دعا وکړه، "اے خدایه! زما ټول رشته داران زما کور ته یو ځائ مۀ راوله. زۀ تا ته خواست کوم چې هغوئ کله هم زما کور ته راځی نو جدا جدا دې راځی."

څنګه چې ما دعا ختمه کړه نو دروازه چا وټکوله. د پوښو لاندې یوه نوکره ولاړه وه اؤ په لاس کښې يې یو پیکټ نیولې وو. هغې ووئیل چې دا اوس راغے. ما سمدستی هغه پیکټ کولاؤ کړو. په دې کښې بائبل وو. د هغې د پاسه لیکلی وو، "زمونږ د خوږې خور د پاره د هغې د سالګرې تحفه." اؤ مسټر اولډ اؤ د هغۀ د ښځې دستخط پرې شوې وو. ما د داسې ښۀ دوستانو د پاره د خدائ پاک شکر وکړو اؤ دا مې د سینې سره نزدې کړو. بیا ما دا کولاؤ کړو اؤ زما توجو په یوه صفحه پریوته، چې په هغې باندې دا ټکی لیکلی وو. زۀ بۀ هغوئ خوارۀ وارۀ کړم، په هغه وخت کښې د دې ټکو مطلب زما د پاره یو راز وو.

# اتم باب

## "آیا زهٔ محفوظه وم"؟

بله ورځ سحر چې زهٔ پاڅیدم نو په دې سوچ کښې ووم چې نن به بیا زما د کورنئ خلق راځی. یا به په جمع راځی اؤ یا به یو یو کس جدا جدا. خو زهٔ د هغوئ سره مخامخ کیدو نه نهٔ ویریدم. زهٔ د الزامونو، غصې، اؤ رټلو نه ویریدم.

د دې نه علاوه ما هغوئ له نقصان یا تکلیف ورکول نهٔ غوښتل. زما پوره یقین نهٔ وو چې خدائ پاک به زما د دعا په مطابق هر څهٔ کوی. ما ریشم ته ووئیل چې زما د ټولو نه ښکلې جامې راوړه. ما د ټولو نه ښکلې جامې واچولې. څوکیدار ته مې حکم ورکړو چې نن هر څوک راځی نو زهٔ به ورسره په خوشحالئ ملاویږم. اؤ بیا زهٔ د میلمنو د کوټې په طرف لاړم. هلته زهٔ په کرسئ کښې کښیناستم اؤ مطالعه مې شروع کړه. محمود ما سره خوا ته په قالین باندې لوبې کولې. ورو ورو وخت تیریدو، تر دې پورې چې غرمه شوه. ما سوچ وکړو، داسې ښکاری لکه چې هغوئ به ما سره د غرمې نه پس ملاویږی. د غرمې ډوډئ خوړلو نه پس محمود د اودهٔ کیدو د پاره لاړو، اؤ ما انتظار کولو. آخر کار ماسپښین درې

بجې ما بهر د ګاډی د ودریدو آواز واؤریدو. زۀ په آرام سره کښیناستم. کله چې ګاډے واپس لاړو نو ما د نوکرانو نه تپوس وکړو چې څوک وو؟ هغوئ جواب راکړو چې چا څۀ سامان راوړے وو.

د ماښامی وخت وو. اونیمې بجې ټیلیفون راغلو. د اولډ ښځې په ټیلیفون ما سره خبرې کولې اؤ داسې ښکاریده چې هغه فکرمنده وه. زما د رشته دارانو د رویې نه دا ښکاره وه چې زما د عیسائی کیدو خبر به د مخکښې نه خور شوې وی. د اولډ ښځې چې کله زما نه د خیر خیریت پوښتنه وکړه نو بیا یې راته د خپلې فکرمندئ په باره کښې ووئیل. ما هغې ته ووئیل چې زۀ بالکل خیر خیریت سره یم. اؤ بیا مې د هغې د فکرمندئ وجې معلوملو د پاره د هغوئ کور ته د تلو تیاری وکړه. زما خیال وو چې اوس به زما د کورنئ نه هیڅوک هم ما سره ملاویدو د پاره نۀ راځی. دا ډیره عجیبه خبره وه چې ټوله ورځ نۀ خو هغوئ ټیلیفون وکړو اؤ نۀ په خپله راغلل.

ما د مسیحی کورنئ نه دا معلومول غوښتل چې آخر څۀ چل شوے دے، د اولډ ښځې ولې ما ته پټ ټیلیفون کړې وو؟ زۀ په ګاډی کښې د مسټر اولډ کور ته لاړم، اؤ دې لیدو سره حیرانه شوم چې په کور کښې تیارۀ وه.

بیا زۀ ډیره زیاته په ویره کښې شوم. اؤ کله چې په هغه دروازه کښې ودریدم کومه چې د هغوئ د صحن اړخ ته تله، نو زۀ ډیره زیاته په ویره کښې ووم. د صحن د تیارو نه زما په ذهن کښې د تیارو نه ډک خیالونه راتلل. یقینا چې ما د بې وقوفئ کار کړے دے چې د شپې یواځې راغلم. زما زړۀ ډیر زیات درزیدو. زۀ واپس تلو د پاره راتاؤ شوم. ما د ویرې نه منډه کوله خو ما داسې ونۀ کړل! ما له داسې کول نۀ وو پکار. کۀ چرې زۀ د خدائ پاک په بادشاهئ کښې یم، نو د بادشاه په حفاظت کښې راتلل زما حق دے. په تور تم کښې زۀ ولاړه ووم اؤ لاتر اوسه پورې ویریدم. ما ډیر په بهادرئ سره خپل ځان د بادشاهانو د بادشاه لاسو ته حواله کول وغوښتل. ما بیا بیا عیسی، عیسی وئیل شروع کړل. سمدستی ویره ختمه شوه. اؤ د هغۀ راتلو سره ټوله ویره لرې شوه. زۀ آزاده ووم.

نو بیا زۀ په خندا سره د مسټر اولډ د کور په لوری روانه شوم. چې یو څو قدمه مې واخستل نو ما د کړکئ په پرده کښې لږه شان رڼا ولیده. ما دروازه وټکوله. په قلاره مې دروازه کولاؤ کړه. زما مخې ته د اولډ ښځه ولاړه وه. کله چې هغې زۀ ولیدم نو هغې ته تسلی ملاؤ شوه. اؤ زر ما ته را تر غاړې وته، هغې مسټر اولډ له آواز ورکړو اؤ ډیر زر هغه هم راغلو. د هغې د خلې نه دا ټکی

راووتل، "اے خدایه ستا شکر دے." مونږ ستا د پاره ډیر فکرمند وو.

مسټر اولډ ما ته ووئیل چې زما د بپتسمې اخستلو په موقعه باندې پاکستانی پادری زما د حفاظت په حقله ډیر زیات فکرمند وو. اؤ هغهٔ ووئیل چې مونږ ډیره زیاته غلطی کړې ده چې تهٔ مو یواځې پریښودې یې. ما خپله ویره په زړهٔ کښې وساتله اؤ په خندا شوم. اؤ دا مې ووئیل، "نو ځکه تهٔ په ټیلیفون باندې دومره فکرمنده وې. زما یقین دے چې ډیر زر به زما د عیسائی کیدو خبر په ټول ملک کښې خور شی."

خو زهٔ ستاسو ډیره زیاته شکر ګزاره یم. لا تر اوسه پورې خو هیڅ نهٔ دی شوی، تر دې پورې چې زما خاندان هم هیڅ توجو دې اړخ ته نهٔ ده ورکړې. اؤ تاسو ته به کیدے شی دا نهٔ وی معلومه چې زهٔ د خپلې دعا د جواب د پاره څومره شکرګزاره یم. د مسټر اولډ د وینا په مطابق مونږ ټول د دعا د پاره د هغهٔ کوټې ته لاړو.

مونږ د تیرو شوؤ ورځو حفاظت د پاره د خدائ پاک شکر وکړو، اؤ راتلونکې ورځې مو د خدائ پاک لاسونو ته وسپارلې.

زهٔ ډیره په خوشحالئ سره کور ته راغلم. د ویرې په موقعه باندې ما د عیسی مسیح د نوم قدرت اؤ طاقت ولیدو. نوکرانو

راته ووئیل چې مابښام د هیچا ټیلیفون نۀ وو راغلے. کله چې مې د اودۀ کیدو تیاری کوله نو ما سوچ وکړو چې صبا به څۀ کیږی. بیا مې ټوله ورځ د میلمنو په کوټه کښې انتظار وکړو. اؤ دا ټول وخت مې په دعا کولو اؤ سوچ اؤ فکر اؤ مطالعه کولو کښې تیر کړو. خو د هیچا له اړخ نه هیڅ قسمه پیغام را نۀ غلو. زۀ په دې باندې ډیره حیرانه وم. کله چې مې د نوکرانو نه تپوسونه وکړل نو هغوئ راته ووئیل چې ټول کسان په عجیبه طور سره په خپلو کارونو کښې مصروفه شوی دی.

زما د دعا په نتیجه کښې اؤ د خپلې وعدې په مطابق مالک خدائ پاک دا ټول کسان خوارۀ وارۀ کړی وو. ما په خپل زړۀ کښې د مالک خدائ خوشحالی محسوسوله. ما محسوس کړل چې زما د خاندان خلق به ما هم په دې حال پریږدی، اؤ کیدے شی چې یو یو کس راشی.

اؤ هم داسې وشول. د ټولو نه اول زما ترور راغله. د هغې عمر تقریبا اویا کاله وو. زۀ هغې سره د میلمنو په کوټه کښې کښیناستم. ما د مینې اؤ بروسې په وجه هغې سره ډیر نزدې تعلق لرلو. خو دا ځل د هغې مخ نه داسې معلومیده چې هغه ډیره زیاته خفه وی. لږ وخت د پاره مونږ عامې خبرې اترې وکړې، خو آخر کار هغې د خپل راتلو اصلی مقصد بیانول شروع کړل. ټوخے یې وکړو

اؤ خپله مرئ یې صفا کړه اؤ وې وئیل، بلقیس ما اوریدلی دی چې تۀ مسیحی کیږې. آیا دا خبره رښتیا ده؟ خو ما هیڅ جواب ور نۀ کړو بلکه صرف ومې خاندل.

د بې قرارئ په حالت کښې هغه په کرسئ کښې په بل اړخ تاؤ شوه اؤ وې وئیل، "زما گمان وو چې خلق ستا په حقله د دروغو خبر خوروی." هغې ما ته وکتل اؤ دا توقعو یې لرله چې زۀ ورته ووایم چې آؤ دا ټول هر څۀ دروغ دی. ما ورته ووئیل، " آمنه تروري! دا رښتیا دی چې ما خپل ژوند عیسی مسیح له ورکړے دے. ما بپتسمه هم اخستې ده. اؤ اوس زۀ عیسائی شوې یم."

هغې خپل دواړه لاسونه په خپل مخ کیښودل اؤ په چغو یې ووئیل، دا دې ډیره لویه غلطی کړې ده. لږ وخت د پاره هغه خاموشه ناسته وه اؤ هیڅ یې هم ونۀ وئیل. اؤ بیا یې په قلاره شان خپل څادر راواخستو اؤ ډیره په غصه کښې زما د کور نه رخصت شوه.

زۀ ډیره زیاته پریشانه ووم. خو ما د خدائ پاک نه دعا وکړه چې خدائ پاک هغه د هر قسمه نقصان نه په آمان کښې وساتی اؤ نیغه لار ورته وښائی. ما د خپل خاندان د پاره د خیر اؤ برکت دعا وغوښته. ما د خدائ پاک شکر هم ادا کړو. ما دعا وکړه چې افسوس زما خاندان ما په صحیح طور سره وپیژنی.

بله ورځ مې بيا هم دا دعا وکړه. اؤ داځل مې دا دعا د اسلم د پاره وکړه. اسلم زما د کاکاجی مشر زوئ وو. چې ما سره ملاويدو د پاره راغلے وو. هغه وکيل وو اؤ د واه نه پينځۀ څلويښت کلوميټره فاصلې باندې اوسيدو. زما د ترۀ د زوی په حيثيت هغۀ ته ډيرې خبرې زما د پلار نه په وراثت کښې ملاؤ شوې وې. لکه څنګه چې به زما پلار هر وخت خاندل اؤ توقې به يې کولې نو دغه شان په دې وجه دې هم زما په دې خبرو باندې خوښ وو. د هغۀ د رويې نه زما دا يقين وشو چې هغۀ زما د مسئلې په حقله ټولې خبرې نۀ دی اوريدلی. مونږ لږه شيبه ډيرې په خوشحالئ سره خبرې وکړې. بيا اسلم ووئيل چې زمونږ خاندان به کله يوځائ راجمع کيږی؟ زۀ به تا پسې راشم نو مونږ به يو ځائ لاړ شو. ما توخې وکړو اؤ ومې وئيل اسلمه ما ته نۀ ده معلومه چې زمونږ خاندان کله را يوځائ کيږی. خو ما ته دا پته ده چې ما له به دعوت نۀ راکوی. ځکه چې دا راجمع کيدل به زما خلاف وی. هغه ډير زيات خفه شو. ما ته معلومه وه چې زۀ به هره يوه خبره بيانوم. خو ما ورته ووئيل، "اسلمه" زما خبرې اوريدو نه پس به تۀ خامخا هغوئ سره راځې. کيدے شی چې تۀ په مناسبو خبرو سره زما په حقله هغوئ ته ووايې. هغه په خفګان سره زما د کور نه روان شو. ما سوچ وکړو چې خبره نوره هم زياتيږی. نو دا ضروری ده چې زۀ راولپنډئ اؤ لاهور ته لاړه شم. ما

نهٔ غوښتل چې ټونی اؤ زما زوئ خالد په بله طریقه باندې زما په حقله غلط خبر واؤري.

ما خو د خپلې لور خالده په حقله باندې هیڅ نهٔ شو وئیلې، ځکه چې هغه په افریقه کښې اوسیده. خو ما د ټونی اؤ خالد سره ملاقات کولے شو. بله ورځ زهٔ لاهور ته روانه شوم. د خالد په حقله راته معلومه وه چې د هغهٔ تجارت ډیر ښهٔ په وده روان دے. په یو کلی کښې د هغهٔ ډیره ښکلې بنګله وه. اؤ په دې کښې د ضرورت هر یو څیز موجود وو.

مونږ په دروازه دننه لاړو اؤ ګاډے مو هلته ودرولو اؤ د لوئې برآنډې په طرف روان شو. خالد چې د خاندان په وجه اؤ په ټیلیفون باندې ما سره د خبرو کولو په وجه خبر شوې وو، هغه سمدستی ما ته هر کلی وئیلو د پاره بهر راغلو. هغهٔ ووئیل ! مورې تا سره په ملاویدو باندې ډیر زیات خوشحاله شوم. ما محسوس کړل چې کله هغهٔ ما ته پخیر راغلې وئیل نو لږه شان ویره یې محسوسوله. ما چې هغهٔ ته څهٔ وئیلی وو نو د غرمې نه پس مو په هغې خبرې شروع کړې. خو کله چې مونږ خبرې ختمې کړې نو ما ته معلومه شوه چې هغه په هیڅ هم پوهه نهٔ شو.

اوس ټونی سره د ملاویدو نمبر وو. زۀ راولپنډۍ ته راروانه شوم. اؤ نیغه هسپتال ته لاړم اؤ ټونی سره مې د ملاویدو د پاره اجازت وغوښتلو. کله چې مې انتظار کولو نو ما دا سوچ کولو چې هغه ولې د دې معاملې نه خبر کړم. بې شکه چې هغې به د مخکښې نه دا قیصۍ آوریدلې وی. هغې ته د مخکښې نه معلومه وه چې زۀ د بائبل مقدس مطالعه کوم. کیدے شی چې کیتهولک ډاکټر سره د خبرو اترو کولو په حقله هم هغه خبر وی، کومې چې په هغه وخت کښې شوې وې کله چې محمود په دې هسپتال کښې داخل وو، خو د یوې خبرې نه هغه نۀ وه خبر چې ډاکټر سینټهوآګو سره یو ملاقات څنګه ژوند بدلولے شی. هم دې ډاکټرې ما له دا همت اؤ حوصله راکړې وه چې زۀ خدائ تعالی ته پلار ووایم.

ټونی زما اړخ ته راروانه وه اؤ زر یې ما له آواز راکړو، مورې! په سپینو جامو کښې هغه ډیره ښکلې ښکاریده. د هغې مخ ځلیدو. اؤ د ملاویدو د پاره ډیره بې قراره وه. زما زړۀ په درزیدو شو ، زۀ پاڅیدم، زۀ هغې ته د خپل بدلون په حقله ولې ووایم. ما د خپلې خبرې کولو د پاره د نرمو ټکو لټون وکړو، خو د ټونی په وړاندې زۀ ډیره بې وسه ووم. ما په ساده لفظونو کښې ووئیل، "د یو نا آشنا خبر آوریدو د پاره تیاره شه. دوه ورځې کیږی چې ما بپتسمه اخستې ده. " ټونی خاموشه پاتې شوه، اؤ د هغې سترګې د

حیرانتیا نه ډکې وې. هغه ما سره خوا ته په کرسۍ کښیناسته اؤ دومره په مزه آواز یې ووئیل چې ما ډیر په ګرانه سره د هغې خبره آوریدې شوه. هغې ووئیل، د دې اثر د مخکښې نه ښکاریدو. ما هغې له د دلاسې ورکولو کوشش وکړو خو ناکامه شوم. ټونی ووئیل، ښۀ به دا وی چې زۀ د کار نه چهټی وکړم. نو هغې کور ته د زر تلو د پاره اجازت راواخستلو. اؤ مونږ یوځائ د هغې کور ته ورسیدو. اؤ څنګه چې ټونی دروازه کولاؤ کړه نو هغې ته ټیلیفون راغے. نو هغه زر دننه لاړه اؤ ټیلیفون یې اوچت کړو، اؤ زما اړخ ته یې وکتل اؤ وې وئیل، د نینا ټیلیفون دے. هغې زما په باره کښې تپوس وکړو. ټونی ورته په قلاره شان ووئیل آؤ دا رښتیا دی. هغې ډیر په غصه کښې ټیلیفون کیښودو. ټونی ټیلیفون د خپل غوږ نه لرې کړو. زما طرف ته یې وکتل اؤ ټیلیفون یې د پریشانئ په حالت کښې کیښودو. ما په هغه وخت کښې دا غوره وګڼل چې خاموشه پاتې شم، هر څۀ مې سنبال کړل اؤ روانه شوم. اؤ په تلو کښې مې ورته ووئیل چې کله دې زړۀ وغواړی نو بیا راشه مونږ به خبرې وکړو. ټونی ما ته د اودریدو د پاره ونۀ وئیل. بس په لږ وخت کښې زۀ د خپل کور په لوری روانه شوم.

کله چې زۀ کور ته ورسیدم نو ټول نوکران زما نه چاپیره راجمع شول. نورجهان خپل لاسونه مروړل. د ریشم مخ هم د نور کله نه

زیات زیږ وو. ټوله ورځ ټیلیفونونه راغلی وو. نوکرانو لا راته دا خبره کوله چې په دې کښې ټیلیفون راغلو. دا زما د خور خاوند جمیل وو، اؤ هغهٔ د برطانیه د تیلو په یوه کارخانه کښې کار کولو. ما همیشه جمیل یو دنیاوی کس ګڼلو، خو اوس د هغهٔ آواز بدل وو. هغهٔ په سخته لهجه کښې ووئیل بلقیس! ما یوه ډیره عجیبه خبره اوریدلې ده اؤ زما په دې یقین نهٔ راځی.

ما ته زما یو ملګری ووئیل چې تهٔ مسیحی شوې یې. بې شکه چې ما وخاندل اؤ هغهٔ له مې دا یقین ورکړو چې داسې هیڅ کله هم نهٔ شی کیدے. دا خبر د ځنګل د اور په شان ډیر په تیزئ سره خوریدو. ما هیڅ هم ونهٔ وئیل. جمیل ډیر په سخته لهجه کښې ووئیل! دا خبره رښتیا خو نهٔ ده کنه؟ ما جواب ورکړو، دا خبره رښتیا ده. یو ځل بیا خاموشی شوه..... ټیک ده.... بس ټیک ده. جمیل ډیر په غصه کښې جواب راکړو، تا ته پته ده چې تا څهٔ بائیلل، اؤ څهٔ د پاره؟ صرف د یو بل مذهب د پاره دې دا هر څهٔ بائیلل.

لس مینټه پس د ټونی ټیلیفون راغلو. هغې ژړل اؤ سلګئ یې وهلې. مورې! نواز کاکا هم دې وئیلو د پاره راغلے وو چې اوس د محمود پلار دا حق لری چې محمود واخلی. نواز کاکا وئیل چې یو عدالت به هم دا اجازت ور نهٔ کړی چې محمود تهٔ خپل ځان سره

وساتې. ما هغې له د دلاسې ورکولو کوشش وکړو، خو هغې هم هغه شان سلګۍ وهلې.

په دغه ورځ ماښام لږه شیبه پس کله چې زۀ محمود سره یوځائ د ډوډۍ خوړلو د پاره کښیناستم نو د ټونی اؤ زما دوه رویرې راغلې. کله چې ما د هغوئ زیړ مخونه ولیدل نو ډیره پریشانه شوم. ما هغوئ ته ووئیل چې ډوډۍ به خورئ؟ نو هغوئ مونږ سره ډوډۍ ته کښیناستې. زۀ د دې دواړو جینکو ملاویدو باندې ډیره خوشحاله ووم. خو دا خبره ښکاره وه چې هغوئ زما نه خفه وې. د هغوئ په خبرو کښې هغه مینه اؤ روانی نۀ وه ځنګه چې مخکښې وه. دې جینکو د محمود اړخ ته نیغ نیغ کتل چې هغه به څۀ وخت د لوبو د پاره بهر ځی. کله چې محمود بهر لاړو نو زما یوه وریره د پریشانئ په حالت کښې را وړاندې شوه اؤ وې وئیل، "تروری آیا تا ته دا معلومه ده چې نور خلق به دا څۀ ګڼی؟" هغه په ژړا شوه. آیا تا د بل چا په باره کښې هم څۀ سوچ کړے دے؟ اؤ دې وئیلو سره خاموشه کښیناسته، اؤ زما د بلې وریرې په سترګو کښې هم اوښکې راغلې. ما د هغې لاس ونیوؤ، اؤ په خفګان سره مې ووئیل په ما ګرانې ما له تابعداری کول لازمی وو.

ټوني د اوښکو نه ډکو سترګو سره زما طرف ته وکتل ، اؤ لګه چې هغې زما يو خبره هم نۀ وی آوريدلې اؤ ما ته منت کوی چې موري! تۀ سامان واخله اؤ د وخت نه فائده واخله اؤ دلته نه لاړه شه.

اؤ لږ په اوچت آواز يې ووئيل، آيا تا ته معلومه ده چې خلق څۀ وائی؟ په تا به حمله کيږی! کيدے شی چې ستا خپل ورور ستا خلاف کاروائی وکړی! اؤ هغې سلګئ وهلې اؤ ژړل يې. موري ما سره چې څوک هم ملاويږی نو هغوئ راته وائی چې خلق به تا ووژنی.

ما په نرمه لهجه کښې ورته ووئيل، ټوني ما ته افسوس دے، خو زۀ د ويرې د لاسه تيښته نۀ کوم. کۀ چرې زۀ اوس لاړه شم نو زۀ به خپل باقی ژوند په منډو تړړو تيروم. دې وئيلو سره زما په باطن کښې يو نوې اراده پيدا شوه. کۀ چرې د خدائ پاک دا مرضی وی نو هغه هم په دې کور کښې زما حفاظت کولے شی. اؤ هيڅوک هم ما د دې کور نه نۀ شی ويستلې. ډير په نا آشنا طريقې سره زۀ په کرسئ کښيناستم اؤ دا مې ووئيل، "پريږده چې هغوئ په ما حمله وکړی."

اؤ بيا هلته کښې ناسته ووم اؤ ما خپل ځان د خدائ پاک د مينې نه لرې اؤ جدا محسوس کړو. زۀ د بې وسئ په حالت کښې ووم. اؤ ما په خپلو غوږونو خپل آوازونه اؤريدل. خو نا څاپه ما ته

معلومه شوه چې څۀ شوی دی. پخوانۍ بلقیس د خپل غرور اؤ تکبر په وجه خپل ژوند په خپلو لاسو کښې اخستې وو. ما دا فیصله کوله کۀ هر څۀ وشی خو هیڅوک هم ما د دې کور نه نۀ شی ویستلې. زۀ په آرام سره کرسۍ کښې کښیناستم، اؤ ما ته د دې هم پته ونۀ لګیده چې ټونی ما سره خبرې کوی.

ډیره ښه ده مورې! ټیک ده، ټونی په ژړا سره ووئیل تۀ خو مسیحی شوې یې اؤ اوس تۀ د مسیحی په طور شهید کیدل غواړې؟ هغه زما کرسۍ خواته په ګوډو شوه اؤ خپل سر یې زما په اوږه کیښودو. ولې تا ته پته نشته چې مونږ تا سره مینه کوؤ. ما په مینې سره د هغې په سر لاس وهلو اؤ ومې وئیل، په ما ګرانې! بې شکه ما ته معلومه ده. په خاموشۍ سره ما د خپل تکبر اؤ غرور د پاره د خدایۍ پاک نه بخښنه وغوښتله، اؤ دا لوظ مې وکړو چې هغه ما هر چرته بوځی نو زۀ به ورسره ځم. کۀ داسې کولو سره ما له کور پریښودل هم وی خو زۀ به ورسره ځم، اؤ د دې اقرار اؤ لوظ کولو سره ما د خدایۍ پاک حقیقی مینه محسوس کړه. په دې ټول بدلون کښې یو څو میاشتې تیر شو. اګرچه دا درې واړه زما مخې ته ناستې وې اؤ خبرې یې کولې. ما ته معلومه وه چې ژوند په یو بل اړخ روان دے. مالک خدایۍ په دغه ځایۍ کښې موجود وو اؤ زما په ژوند کښې یې کار کولو، اؤ ما ته یې ښودنه کوله. په خپله مینه کښې

ساتلو د پاره د هغهٔ لاس په ما باندې موجود وو. تهونی خبرې کولې اؤ هغې غوښتل چې زهٔ د هغې خبره ومنم. هغې خپله خبره جاری وساتله اؤ وې وئیل، کهٔ چرې د محمود پلار محمود پسې راشی نو آیا تهٔ به ما له د محمود بوتلو اجازت راکړې. خپل ځان ته یې اشاره وکړه اؤ وې وئیل، "زهٔ خو مسیحی نهٔ یم." آخر کار درې واړه جینکۍ چپ شوې. ما هغوئ ته ووئیل چې شپه ما سره وکړئ نو هغوئ زما خبره ومنله. کله چې ما تهونی اؤ وریرو ته شپه په خیر ووئیل نو ما سوچ وکړو چې زمونږ کردار څومره بدل شوے وو. یو وخت داسې وو چې زهٔ د دوئ د حفاظت په باره کښې ډیره فکرمنده ووم. اؤ اوس مونږ د یو بل په باره کښې فکرمند وو.

په هغه شپه ما دعا وکړه چې اے خدایه دا څومره ګرانه خبره ده، د یو داسې کس سره خبرې کول څوک چې په تا ایمان نهٔ لری. مهربانی وکړه خدایه زما د خاندان مرسته اؤ مدد وکړه. زهٔ د خپلو عزیزانو اؤ رشته دارانو د کامیابۍ د پاره څومره فکرمنده یم.

کله چې زهٔ اوده شوم نو ما محسوس کړل چې زما بدن په هوا کښې آلوځی. ما خپل ځان د واښو په یو ډیری باندې ولاړ ولیدو. زما نه ګیر چاپیره د صنوبر ونې وې. زما خوا ته د اوبو یوه چینه وه. زما څلورو واړو طرفونو ته فرښتې وې. هغوئ بې شمیره وې. ما یو نوم اوریدلو، "مقدس میکائیل". دې نه ما ته حوصله ملاؤ شوه. اؤ

بیا چې ما وکتل نو زۀ واپس په خپل کټ کښېنې ووم. کله چې زۀ پاڅیدم نو بیا هم ما دا روحانی طاقت محسوسولے شو. زۀ د محمود کوټې ته لاړم اؤ بیا د خپلې لور اؤ وریرو کوټې ته لاړم اؤ د هغوئ طرف ته مې اشاره وکړه. اؤ خپلې د خوب کوټې ته واپس راغلم اؤ خدائ پاک ته په سجده شوم. ما دعا وکړه اے خدایه! تا ما له ډیر جوابونه راکړی دی. اوس زما دا دعا ده چې ما ته ښکاره کړه چې تۀ محمود سره څۀ کوې. ما غوښتل چې تۀ تهونی له جواب ورکړم.

ما محسوس کړل چې بائبل مقدس کولاؤ کړم اؤ زما مخې ته دا حواله راغله، (**پیدائښت ۱۲: ۲۲**):

**"تۀ خپل لاس په هلک مۀ اوچتوه اؤ مۀ هغۀ ته څۀ نقصان رسوه..."**

ما اوږده ساه واخسته اؤ ومې وئیل، "اے پلاره زۀ ستا شکر کوم."

کله چې مونږ د سحر چائ څښکله نو زۀ د دې قابله ووم چې تهونی له دا یقین ورکړم چې د هغې زوی ته به هیڅ نقصان نۀ رسی. تا له بالکل د فکر کولو ضرورت نشته. ما د کلام مقدس حواله هغې ته وښودله کومه چې ما ته ملاؤ شوې وه. ما ته نۀ وه معلومه چې دا زما عقیده وه چې تهونی روح القدس مسح کړې وه. خو د هغې

په مخ باندې تسلی اؤ اطمینان وو، اؤ په دوؤ ورځو کښې هغې په اول ځل وخاندل. په هغه ورځ زما لور اؤ زما دواړه وریرې زما د کور نه د خفګان په حالت کښې رخصت شوې. خو د نورو رشته دارانو قطار جاری وو.

یو څو ورځې پس ریشم ما ته ووئیل چې پوښو سره لاندې څۀ رشته داران چې په شمیر کښې اووۀ کسان وو هغوئ ما سره ملاویدل غواړی. ما د محمود نه بغیر هغوئ سره ملاویدل نۀ غوښتل. څۀ چې کیدل نو هلک ته د دې په باره کښې معلومیدل پکار وو. هغه مې د ځان سره کړو اؤ مونږ د پوښو نه لاندې راکوز شو اؤ د میلمنو کوټې ته راغلو. هلته کښې دا اووۀ واړه مشران ناست وو. چائ اؤ کیک وغیره یې وخوړل اؤ په دې دوران کښې مختصر خبرې اترې هم وشوې، اؤ بیا په دوئ کښې یو کس د خبرې کولو د پاره تیار شو.

زۀ د خبرو آوریدو د پاره تیاره ووم. یو رشته دار چې ما د ماشوم والی نه پیژندلو هغۀ ووئیل، بلقیس مونږ تا سره مینه کوؤ، اؤ څۀ چې تا کړی دی نو مونږ په دې باندې سوچ اؤ فکر کولو. اؤ مونږ تا له یوه مشوره درکوؤ چې زمونږ په خیال ستا د پاره به ډیره فائده منده وی.

آؤ جی! هغۀ په خندا سره ووئیل دا به ښۀ وی چې تۀ هیڅچا ته هم دا خبره ښکاره نۀ کړې چې تۀ مسیحی شوې یې.

ستا مطلب دے چې زۀ خپل ایمان په راز کښې وساتم. "آؤ."

ما ورته ووئیل، "زۀ د مرګ د ویرې د لاسه خپل ایمان په راز کښې نۀ شم ساتلے."

زما د پلار یو دوست زما طرف ته بد بد وکتل. ما هم هغۀ ته په دې انداز سره کتل خو بیا مې خپل ځان په قابو کښې وساتلو. هغوئ د خپل طرف نه زما د کامیابئ په حقله سوچ کولو.

ما هغوئ ته ووئیل، ما ته افسوس دے چې زۀ ستاسو د خواهش په مطابق نۀ شم کولے. په مختصر طور ما ورته ووئیل، زما ایمان په یو میاشت کښې زما د پاره زما د ژوند د ټولو نه اهم څیز جوړ شوے دے. زۀ د دې په حقله بالکل چپ نۀ شم پاتې کیدے. ما هغوئ ته د کلام مقدس نه هغه آیت ولوستلو کوم چې فرمائی:

**" هر څوک چې د خلقو په وړاندې زما اقرار وکړی، زۀ به په آسمان کښې د خپل پلار په وړاندې د هغۀ اقرار وکړم. اؤ هر څوک چې د خلقو په وړاندې زما نه انکار**

**وکړی، زۀ به په آسمان کښې د خپل پلار په وړاندې د هغۀ نه انکار وکړم."** ( **متی ۱۰: ۳۲_ ۳۳** ).

یو بل مشر ووئیل، چې تۀ په یو مختلف ماحول کښې یې. اؤ زما یقین دے چې کله تۀ خاموشه پاتې شې نو دې سره به ستا خدائ نۀ خفه کیږی. هغۀ ته خو هسې هم معلومه ده چې تۀ په هغۀ ایمان لرې اؤ دا خبره کافی ده. هغۀ د اسلام نه د اوړیدو په باره کښې د قرآن مجید نه یوه حواله ولوستله اؤ وې وئیل چې مونږ ویریږو هسې نه چې څوک په دې حواله باندې عمل ونۀ کړی اؤ تا قتل نۀ کړی.

هغوئ ته معلومه شوه چې د دې بحث اؤ خبرو نه هغوئ ته هیڅ نۀ ملاویږی، نو کله چې هغوئ د رخصتیدو د پاره پاڅیدل نو ما ته یې دا ووئیل، "بلقیس یاد ساته کۀ چرې تۀ په څۀ قسمه تکلیف یا مصیبت کښې راګیره شوې نو ستا په رشته دارانو اؤ خاندان کښې به یو کس هم ستا ملګرتیا اؤ مرسته نۀ کوی. " چا چې په یو وخت کښې زما ډیر زیات خیال ساتلو نو هغوئ خو به یوه ورځ خامخا زما نه آوړی.

سر خوځولو سره ما هغوئ ته ووئیل چې زۀ د هغوئ په خبره ښۀ پوهیږم. اوس زما خواهش وو چې دا به ښۀ وه چې محمود مې باغ ته

د لوبو د پاره لیږلې وو اؤ هغۀ دا ټولې خبرې نۀ وې اؤریدلې. ما هغۀ ته وکتل چې ما سره خوا ته په وړه کرسۍ باندې ناست وو، نو هغۀ وخاندل، اؤ دا یې وئیل چې هرڅۀ ټیک ټاک دی.

د هغوئ په سترګو کښې اوښکې وې. اؤ کله چې رخصتیدل نو زما د مور نزدې ملګرې زۀ ښکل کړم اؤ وې وئیل، "د خدائ په آمان." اؤ په دویم ځل چې یې د خدائ په آمان ووئیل نو دې سره هغه په چغو چغو په ژړا شوه. زر د کوټې نه بهر لاړه. د هغې د تلو نه پس کور د قبر نه څۀ کم نۀ وو. تر دې پورې چې د محمود د لوبو کولو شور هم کم شوې وو. درې هفتې تیرې شوې زما په کور کښې صرف د نوکرانو آواز ما آؤریدو. کۀ چرې د مچل اؤ اولډ په کور کښې د هر اتوار په ورځ عبادت نۀ کیدو نو کیدے شی چې زۀ په خپله مسیحی عقیدې باندې قائمه نۀ ووم پاتې شوې.

ورځ تر ورځه خاندانی مشکلات زیاتیدل، کله چې زۀ د خپل ترۀ زوی سره په بازار کښې ملاؤ شوم نو د هغۀ په مخ باندې ډیره زیاته غصه ښکاریده. کله چې زۀ د راولپنډۍ د یوې کوڅې نه تیریدم نو ما دا خاندانی جګړه د خپل ورارۀ د نفرت نه ډک نظر کښې محسوس کړه. هم دا جنګ زما د ترور په هغه سخت آواز کښې وو، کله چې هغې ووئیل چې زۀ تا سره یو ځائ ډوډۍ خوړلو له نۀ شم درتلے. د تعلق ختمیدو شروع شوې وه. ما ته به ټیلیفونونه

ډیر لږ راتلل. اؤ په دروازه به هم ډیر کم خلق راتلل. د خاندان یو کس هم زما د رابللو یا د ملامته کولو د پاره را نهٔ غلو. ما د قرآن مجید دا آیت یادولو: ( **سورهٔ محمد ۲۲ـ ۲۳**):

" کهٔ چرې دې خلقو خدائ سره ربنتینی پاتې کیدل غوښتل نو د دوئ د پاره به ښهٔ وه. ستا د پاره عجیبه نهٔ ده کهٔ چرې تهٔ حکمران جوړ شې نو په ملک کښې دې ورانی کول شروع کړې اؤ خپل رشته داران دې ووژنې. هم دا خلق دی په چا چې د خدائ پاک لعنت دے اؤ دوئ یې کاڼهٔ اؤ ړاندهٔ کړی دی."

ډیر په واضحه طور ما د دې عملی شکل لیدلو. ما د وینې رشتو نه بغاوت کړے وو. اؤ بې شکه زهٔ به د خپل خاندان سره ملاؤ نهٔ شم، اؤ نهٔ به اوس زهٔ د خپل خاندان په حقله څهٔ واؤرم.

نوکران هم زما په خدمت کښې ډیر زیات سنجیده اؤ خاموشه وو. ما به ډیر په ګرانه د هغوئ د خلې نه د آؤ نه علاوه نور څهٔ آوریدل. اؤ بیا یوه ورځ سحر تعلق ختمیدو یو نوې شکل اختیار کړو. زهٔ په دې وجه پریشانه ووم چې نورجهان اؤ ریشم خفه دی، اؤ دا کار د هغوئ د طبعیت اؤ مزاج خلاف وو. ریشم د نور کله په نسبت ډیر په سنجیدګئ سره کار کولو. په خپل کار کښې مشغوله

وه اؤ بالکل خاموشه وه. د هغې د مخ نه ما ته اندازه لګیده چې هغه ډیره سنجیده ده نو په دې وجه زۀ فکرمندهووم.

زۀ په دې انتظار کښې ووم چې نورجهان به څۀ ووائی. خو هغه په خپل کار کښې مشغوله وه اؤ لکه څنګه چې به یې مخکښې خبرې کولې نو هغه شان خبرې یې نۀ کولې. د ریشم مخ نه اندازه لګیده چې هغه ډیره سنجیده ده. ناڅاپی ما ووئیل چې ما ته داسې ښکاری چې څۀ چل شته. آیا تاسو ما ته وئیلې شئ چې څۀ چل دے. صفائی بند شوه. اؤ ما ته دا خبر ملاؤ شو چې د ریشم نه علاوه څوک چې زما مخامخ ولاړه وه، زما نور ټول مسیحی نوکران چې په کښې منظور هم شامل وو، بیګا په نیمه شپه کښې زما د کور نه تښتیدلی دی.

# نهم باب

## "تعلق ختمیدل"

د دې نافرمانۍ څۀ مطلب دے؟ څلور نوکران بغیر د څۀ وینا وتښتیدل! د واه په دې علاقه کښې چرته چې هر اړخ ته بې روزګاری وه، د نوکرۍ پریښودو فیصله کول ناممکنه خبره وه.

بې شکه چې دا ویره وه. منظور په دې خبره ویریدو چې ما هغۀ ته د بائبل راوړلو د پاره وئیلی وو، اؤ هغه مې په ګاډی کښې د مشنریانو کور ته بوتلے وو.

اؤ نورو دریوؤ عیسایانو کیدے شی د هغۀ پیروی کړې وی. کیدے شی چې هغوئ د خلقو نه مختلف خبرې اوریدلې وی چې آتش فشا څۀ وخت هم چاؤدلے شی. اؤ هغوئ د دې د لاوې لاندې راتلو نه بچ کیدل غوښتل.

خو د ریشم څۀ حالت دے. په دې مسیحی خدمت ګاره ریشم باندې څۀ شوی دی چې لاتر اوسه پورې دلته کښې وه، اؤ لاسونه یې ریږدیدل اؤ زما وینښتۀ یې ګومنځول. ما د هغې نه پوښتنه وکړه، "تۀ ولې لانۀ رېې؟ " ویښتۀ ګومنځولو اؤ خپلې شونډو خوړلو سره یې راته ووئیل، غالبا ما له دلته کښې پاتې کیدل نۀ دی پکار. خبره

لا د هغې په خله کښې وه چې ما ورته ووئیل، زۀ به ګنې یواځې پاتې شم؟ هغې توکانړې تیرې کړې اؤ وې وئیل، "آؤ."

تۀ هم ویریږې کنه! ریشم کۀ چرې تۀ هم ما پریږدې نو زۀ ستا نه هیڅ ګیله نۀ کوم. لکه څنګه چې ما فیصله کړې ده نو دغه شان تا له هم فیصله کول پکار دی. کۀ چرې تۀ ما سره پاتې کیږې نو یاد ساته چې عیسی مسیح وئیلی دی چې مونږ به د هغۀ د خاطره ربړولے کیږو. ریشم سر وخوځولو، د هغې سترګې د اوښکو نه ډکې وې. د خپلې خلې نه یې د سر ستن راوویستله اؤ زما په ویښتو کښې یې ولړوله اؤ په خفګان سره یې ووئیل، "ما ته پته ده." ټوله ورځ ریشم چپ وه. د هغې د رویې نه نورجهان متاثره وه. هغه د بې آرامۍ حده پورې رسیده. بله ورځ سحر چې کله زۀ پاڅیدم نو زړۀ مې نۀ غوښتل چې د خدمت ګارې رابللو د پاره ټلۍ ووهم. اوس به ما سره څوک وی. زما د خوب د کوټې دروازه یې په قلاره شان کولاؤ کړه اؤ نورجهان دننه راغله. بیا د ژمی د سحر په رڼا کښې بل څوک دننه راغلل اؤ دا ریشم وه.

بیا وروستو ما هغې ته ووئیل چې ستا پاتې کیدل زما ډیر زیات خوښ شول اؤ زۀ په دې خبره ډیره خوشحاله یم. هغه ډیره زیاته خوشحاله شوه، اؤ زما د زیات عمر د پاره یې دعا ګانې شروع

کړي. لکه څنګه چې تهٔ د مالک خدایٔ پاک خدمت کوې، نو دغه شان زهٔ هم ستا خدمت کوم.

کله چې زما د کور نه مسیحی نوکران لاړل نو زما د کور خاموشی نوره هم زیاته شوه. ځکه چې ما د هغویٔ په ځایٔ نور نوکران نهٔ وو راوستی. اوس زما ضرورتونه ډیر ساده وو. ځکه چې زما د خاندان نه به هیڅوک نهٔ راتلل، ما فیصله وکړه چې فی الحال مسیحی نوکران ونهٔ ساتم نو ښه به وی. ما یو نوې مسلمان ډرائیور اؤ یو باورچی په نوکریٔ ولګول.

زهٔ خاص طور باندې د محمود د پاره ډیره خوشحاله ووم چې هغهٔ په کور کښې په باغ کښې په خوشحالیٔ لوبې کولې. ما هغهٔ له حوصله ورکړه چې هغه د کلی نه ملګری راغوښتلے شی. اؤ زما دا مشوره محمود ډیره زر قبوله کړه. ډیر ماشومان چې د محمود نه په عمر کښې لږ زیات وو، راغلل. خو هغهٔ به په ټولو حکم چلولو. دا ګمان مې نهٔ کولو چې دا صرف په دې وجه وو چې هغه د هغویٔ کوربه وو، بلکه دا د اوؤ سوؤ کالو هغه مشر وو د چا وینه چې د دې ماشوم په رګونو کښې وه. اؤ د هغهٔ سترګو ته د کتلو نه انکار نهٔ شو کیدے. دې لوییٔ د پاره زهٔ څومره خوشحاله ووم. د دې هلک د خاندانی رشتو د پاره زهٔ څومره د خطرې سبب ووم. پرون یې زما نه تپوس کړے وو چې د هغهٔ د ترهٔ زویٔ کریم هغه د کبانو ښکار له

بوتلے شی. کریم محمود سره وعده کړې وه چې هغه به ورته د کبانو نیولو چل ښائی. محمود تپوس وکړو "مورې کریم به کله راځی. " ما هلک ته وکتل، د هغۀ سترګې ځلیدې. اؤ ما د دې وئیلو جرأت نۀ شو کولے چې د هغۀ د کبانو نیولو ملګری به کله هم نۀ راځی. د محمود په دې وخت کښې د عیسائیت طرف ته هیڅ توجو نۀ وه. ما به هغۀ ته د بائبل مقدس قیصې وئیلې. اؤ د هغۀ به دا دومره ډیرې خوښیدې چې ما د هغۀ د اودۀ کیدو وخت د اتو بجو په ځائ اونیمې بجې کړو. نو دغه شان د قیصې وئیلو اؤ آوریدو د پاره به مونږ سره ډیر وخت وو. خو یو څو قیصئ د کبانو د ښکار په مقابله کښې هیڅ هم نۀ وې. په مزه مزه د محمود دوستانو هم راتلل پریښودل.

محمود په دې نۀ پوهیدو. اؤ کله چې ما هغۀ ته دا ووئیل نو هغۀ د خفګان په حالت کښې ما ته نیغ نیغ کتل شروع کړل. هغۀ ووئیل، "مورې تۀ چا سره ډیره مینه کوې. ما سره یا عیسی مسیح سره؟ " ما له څۀ جواب ورکول پکار وو. خاص طور باندې په هغه وخت کښې کله چې هغه یواځې وو. ما محمود ته ووئیل، " د خدائ مقام ړومبې دے. " کۀ چرې مونږ د خاندان سره د هغۀ نه زیاته مینه وکړو نو مونږ په حقیقت کښې د هغۀ نۀ شو کیدے. نو دا خبره لازمی ده چې مونږ خدائ پاک له اوله درجه ورکړو. تر دې پورې چې

د هغوئ نه هم زیاته درجه ورکړو چا سره چې مونږ په دې دنیا کښې ډیره زیاته مینه کوؤ.

داسې ښکاریدل چې محمود دا ومنل. کله چې به ما هغۀ د پاره بائبل لوستلو نو داسې به معلومیدل چې هغۀ په غور سره دا آوریدو، یو ځل چې کله ما د هغۀ په وړاندې دا ولوستل:

**" اے تاسو چې خوارې کوئ اؤ پنډ مو دروند دے، ما له راشئ اؤ زۀ به آرام درکړم."**

نو ما د هغۀ د اودۀ کیدو دعا واؤریده. اے عیسی زۀ تا سره مینه کوم. خو.... مهربانی وکړه ما له آرام مۀ راکوه ځکه چې آرام کول زما نۀ دی خوښ . هغۀ خپل لاسونه یوځائ کړی وو اؤ دعا یې کوله. خو ما ته معلومه وه چې د هغۀ د پاره یواځې اوسیدل اؤ زما یواځې لیدل ډیر ګران وو. اوس به هیڅوک رشته، ملګری یا د پیژندګلو واله زمونږ کور ته نۀ راتلل. اؤ نۀ به ټیلیفون راتلو.

بیا یوه ورځ سحر درې بجې زما کټ سره خوا ته چې کوم سپین ټیلیفون پروت وو په هغې باندې ټیلیفون راغلو. زما زړۀ په درزیدو شو اؤ زۀ د ټیلیفون خوا ته نزدې شوم، په دې وخت خو د هیچا ټیلیفون هم نۀ شی راتلے تر څو پورې چې څوک مړۀ شوی نۀ وی یا څۀ واقعه نۀ وی شوې. ما ټیلیفون اوچت کړو، اؤ اول صرف په زوره

زوره د ساه اخستلو آواز راغلو. اؤ بیا لکه د یو کاہی په شان په دریوؤ لفظونو یې زۀ وویشتم. کافر، کافر، کافر. ټیلیفون بند شو. زۀ په خپل کټ کښې پرته ووم. آخر دا څوک وو؟

کیدے شی دا په هغه کسانو کښې څوک وی د چا په حقله چې زما مشرانو زۀ خبر کړې ووم. هغوئ څۀ کولے شول.

اے خدایه! تا ته معلومه ده چې زۀ د مرګ پرواه نۀ کوم. خو زۀ ډیره زیاته ویریدونکې یم. زۀ د تکلیف زغملو عادت نۀ یم. تا ته معلومه ده چې کله ډاکټر راته ټیکه لګوی نو زۀ څومره بې زړیه شم. زۀ دا دعا کوم خدایه کۀ چرې تکلیفونه زیات شی نو ما له قوت اؤ طاقت راکړه چې زۀ دا برداشت کړے شم. زما سترګې د اوښکو نه ډکې وې. اے خدایه زما دا خیال دے چې زۀ د شهیدانو د خاورې نه نۀ یم جوړه شوې. د دې نه پس چې څۀ هم کیږی نو اے خدایه ما له په دې کښې د تلو توفیق راکړه.

د دې نه پس یو نامعلومه خط راغلو چې په کښې دهمکیانې راکړې شوې وې. په دې کښې لیکلی وو، خبره صفا پکار ده. ستا تعریف صرف په یو ټکی کښې دے، "غدار". بیا یوه ورځ خط راغلو اؤ لږه شیبه پس یو بل خط راغلو! په دې ټولو کښې ما له

خبرداري راکړے شوې وو. د مسیحی کیدو په وجه دهمکیانې آوریدل لازمی دی.

د ۱۹۶۷ په ګرمیانو کښې زما د مسیحی کیدو نه شپږ میاشتې پس زۀ د ماښام په وخت خپل باغ کښې ولاړه ووم. زما په ذهن کښې د یو خط خبرې ګرځیدې. په هغې کښې لیکلی وو چې زۀ د کافرانو نه هم زیاته بد تره یم اؤ نور وفادار خلق بې لارې کوم. زۀ په روغو اندامونو باندې د یو بدئ په شان یم چې سوزول یې پکار دی. سوزول یې پکار دی؟ آیا دا صرف یو مثال وو یا بل څۀ وو. زۀ باغ ته د ننه لاړم.

څلورو واړو طرفونو ته رنګا رنګ ګلونو خپله رنګینی ښودله. دا د بهار موسم اوس ګرمئ ته رسیدلے وو. میوه دارې ونې د میوؤ نه ډکې وې. اؤ د میوؤ ځنی دانې پخې شوې وې اؤ راپریوتې وې. ما په خپل کور نظر وکړو، ما خپل زړۀ سره خبرې وکړې. هغوئ به زما کور نۀ سوزوی. هغوئ به یوه بیګم نۀ سوزوی.

خو بې شکه ما صرف د خپل حیثیت اؤ د دولت په وجه خپل ځان محفوظ نۀ ګڼلو. زما ملاقات د پاره څوک راغلی دی. خدمت ګارې راله دا خبر راکړو. بیګم صاحبې! جرنیل عامر ستا د ملاقات په انتظار کښې دے. زما زړۀ ویریدو. ما د باغ د دروازې نه نظر

وکړو اؤ واقعی د یو کمانډر ګاډے هلته ولاړ وو. جرنیل عامر سره زما د هغه وخت راسې پیژندګلو وه کله چې زۀ په فوج کښې ووم. په دویم جنګ عظیم کښې زۀ د هغۀ سره ووم. اؤ اوس هغۀ ته د پاکستان په فوج کښې د جرنیل عهده ملاؤ شوې وه. د ډیرو کالونو داسې مونږ یو بل سره ملاویدو. اؤ خاص طور باندې کله چې زما خاوند وزیر داخله وو، نو هغۀ به د دۀ ډیر کارونه کول. آیا هغه زما مجرم کولو د پاره راغلے دے؟.

ډیر زر ما په باغ کښې د هغۀ د پښو آواز محسوس کړو. هغه په خپل فوجی لباس کښې ډیر زبردست ښکاریدو. هغۀ زما لاس ونیولو، اؤ دا یې ښکل کړو. زما ویره ختمه شوه. د هغۀ د راتلو مطلب مخالفت نۀ وو. هغۀ زما طرف ته وکتل، اؤ لکه د نور کله په شان جرنیل په ټوقو کښې ووئیل، دا خلق چې څۀ وائی نو آیا دا واقعی رښتیا دی؟ "آؤ!" ما جواب ورکړو.

تا ته د دې څۀ ضرورت وو. تا خپل ځان په خطره کښې اچولے دے. ما د خلقو نه آوریدلی دی چې ځنې کسان تا وژل غواړی. ما په خاموشۍ سره هغۀ ته وکتل.

هغۀ دا هم ووئیل، "ټیک ده، اؤ هغه په باغ کښې په بینچ باندې کښیناستو. تا ته معلومه ده چې زۀ ستا د ورور په شان یم. زما هم دا امید دے."

" د یو ورور په حیثیت زۀ ستا حفاظت کول غواړم." " زما هم دا امید دے."

" نو بیا یاد ساته چې زما د کور دروازې همیشه ستا د پاره کولاؤ دی." ما وخاندل. په اول ځل راته په نرمئ سره جواب ملاؤ شو. خو خپله خبره یې جاری وساتله اؤ جرنیل صاحب ووئیل، یوه خبره پیژندل ستا د پاره ډیره ضروری ده، اؤ هغه دا چې زۀ دا درته په ذاتی طور سره وایم. هغه د یو ګل اړخ ته لاړو، ګل یې خپل ځان اړخ ته رانښکو اؤ بوئ یې کړو، اؤ بیا زما اړخ ته یې توجو وکړه اؤ وې وئیل، "بلقیس! د حکومت په سطح زۀ ستا د پاره ډیر څۀ نۀ شم کولے."

" ما ته معلومه ده." ما د جرنیل لاس ونیولو اؤ مونږ دواړه پاڅیدو اؤ کور ته دننه لاړو. کله چې مونږ روان وو نو ما هغۀ ته وفرمائیل چې معامله دومره آسانه نۀ ده. جرنیل صاحب په حقیقی لهجه کښې وفرمائیل، د دې د آسان جوړیدو څۀ امکان هم نشته. بیا وروستو چې کله مونږ د میلمنو په کوټه کښې ناست وو اؤ د

چائیو د پاره مې ووئیل نو هغۀ په سوالیه انداز کښې په خندا سره ووئیل، " بلقیس ! ما ته دا ووایه چې تا داسې ولې وکړل؟". ځۀ چی شوی وو نو ما ورته هغه بیان کړل. اؤ ما ته معلومه شوه چې جرنیل په غور سره زما خبرې آوریدې. ځومره په غیر معمولی طریقې سره ما هغۀ ته خپله ګواهی بیان کړه.

ما یو سپاهی سره د مسیح په حقله خبرې کولې. اؤ هغه هم یو اوچت افسر سره. اؤ هغۀ په غور سره زما خبرې آوریدې. زما شک دے چې آیا واقعی ما د غرمې نه پس جرنیل عامر ته خبرې وکړې. خو نیمه ګینټه مخکښې د ماښام په وخت کله چې هغۀ ما ته د خدائ په آمان ووئیل، نو د هغۀ د مخ نه دا ځرګنده وه چې هغه ډیر متاثره شوې وو. اؤ بیا د رخصتیدو په وخت یې وفرمائیل، " بلقیس! یاد ساته چې کله هم تا ته زما د مدد ضرورت وی نو ما ته خامخا وایه، د یو رشته دار په حیثیت چې زما نه ځۀ هم کیږی نو زۀ به یې ستا د پاره کوم."

ما ورته ووئیل، عامره ستا ډیره مننه. هغه د ماښام په تیارۀ کښې د خپل ګاډی طرف ته لاړو، اؤ هم دې سره زمونږه دا عجیبه اؤ د خفګان نه ډک ملاقات ختم شو. زما دا خیال نۀ وو چې زۀ به چرې بیا د هغۀ سره ملاؤ شم.

په اول ځل ما په نامعلومه خطونو اؤ د زړو دوستانو په ټیلیفونونو باندې د دهمکیانو راکولو سره تعلق ختمیدل مې ازده کړل، چې د ژوند لهظې شمیرلو سره ژوند تیرول څۀ مطلب لری. د فکرمنده کیدو نه دا مختلف وو. زۀ د دې خبرې په انتظار کښې ووم چې زما خدائ پاک به څۀ حکم ورکوی. ځکه چې زما په دې خبره یقین وو چې د هغۀ د اجازت نه بغیر هیڅ هم نۀ شی کیدے. مثال په طور ما ته معلومه وه چې زما خلاف به خامخا دباؤ پیدا شی، کۀ چرې داسې وشول نو دا د هغۀ د اجازت سره وشول، اؤ دا خبره لاژمی ده چې په داسې قسمه بربادئ کښې زۀ د خپل مالک خدائ پاک د حضورئ لټون وکړم. ژوندی پاتې کیدل زما د پاره مسیح دے. دا خبره لاژمی وه چې زۀ د هغۀ سره په تعلق کښې اوسیدل زده کړم. ځکه چې څۀ هم کیږی، اؤ هر چرته کیږی، نو چې زۀ د هغۀ په جلال کښې یم.

د خاندان د طرف نه د دباؤ زیاتیدو سره ما خیال وکړو چې ما ته معلومه ده چې حضرت داؤد بادشاه د خپل زوی ابی سلوم نه د تښتیدو په وخت څۀ محسوسول. هغۀ ساز غږولو اؤ د خدائ حمد یې کولو، "اے خدایه تۀ هر اړخ ته زما ډال یې. تۀ زما فخر اؤ ماله کامیابی راکوونکے یې." ( **زبور ۳: ۳ آیت** ) ما ته معلومه ده چې د دې کامیابئ مطلب د جنت خوشحالئ وې. په دې وخت کښې زما د

خاندان د طرف نه دباؤ د تعلق ختمولو نه علاوه نور هیڅ هم نۀ وو. زما د کورنۍ یو کس هم ما سره ملاویدو یا ما ته د بد رد وئیلو د پاره را نۀ غلو. اؤ د دې نه علاوه زما په زړو دوستانو اؤ ملګرو کښې هم هیڅوک ما سره ملاویدو د پاره را نۀ غلل. په بازار کښې به ما ته په سپک نظر سره کتلے شول. کۀ زمونږ په خاندان کښې به څۀ غم وو یا به ښادی وه نو ما له به یې خبر نۀ راکولو. کله چې مې په دې ځان له کیدو باندې سوچ وکړو نو د خدائ پاک د مینې احساس راته کم محسوس شو. اؤ په خپله مرضۍ به مې خپل خیالونه قید کړل اؤ د عیسی مسیح تابعدار به مې کړل اؤ د مصیبت په وخت به مې د هغۀ ملګری رایادول چې هغه یې یواځې پریښودے وو. دې نه ما ته تسلی ملاؤ شوه. په دې حالت کښې ما ته د تعلق ډیر زیات ضرورت وو. په داسې جدایۍ کښې ما ته د تعلق اؤ د دوستۍ ضرورت وو. مسټر اولډ اؤ مچل هم نۀ راتلل. د هغوئ د حفاظت د پاره ما هغوئ ته وئیلی وو چې زما کور ته مۀ راځئ.

یوه ورځ د غم په حالت کښې د غرمې په وخت د بائبل مقدس مطالعې کولو د پاره خپلې د خوب کوټې ته لاړم. ګرمی شروع کیدونکې وه. اؤ لږه لږه یخنی وه. په کړکۍ کښې مې د تیزې هوا آواز اوریدلو. کله چې ما مطالعه شروع کړه ما په خپل لاس باندې

ګرمی محسوس کړه اؤ څۀ ګورم چې زما په لاس باندې د نمر شعاع ګانې دی. کله چې ما په کړکۍ کښې وکتل نو ما ته معلومه شوه چې نمر په وریځو کښې پټ دے، اؤ صرف د یو منټ د پاره داسې راته محسوس شول چې خدائ پاک ما له حوصلې راکولو د پاره زما خوا ته راغلو.

ما آسمان ته وکتل اؤ وومې وئیل، " اے خدایه! زۀ څومره یواځې یم." اؤ تر دې پورې چې د خبرو نۀ کولو په وجه زۀ په خپل مخ باندې خفګان محسوسوم. اے خدایه مهربانی وکړه اؤ نن ما سره د خبرو کولو د پاره څوک راولیږه.

د داسې قسمه خواست کولو سره به ما ته خپل ځان په خپل نظر کښې بې وقوفه ښکاره شو. بیا زۀ د بائبل مقدس اړخ ته متوجې شوم. په هر حال کښې خدائ پاک ما سره وو. اؤ دا زما د پاره کافی وه. خو لږه شیبه وروستو په کور کښې ما ډیر عجیبه شور واؤریدو. عجیبه په دې وجه چې د ډیرې مودې داسې زما په کور کښې شور نۀ وو. د پوښو نه لاندې څۀ آوازونه راتلل. ما خپل څادر د ځان نه چاپیره کړو اؤ په تیزۍ سره لاړم چې نورجهان سره ملاؤ شم، چې ساه یې تیزه تیزه اخسته اؤ په منډه زما په طرف راروانه وه. په چغو سره یې راته ووئیل، "اے بیګم صاحبې! مسټر اولډ اؤ د هغۀ ښځه راغلی دی." اؤ ما ووئیل "د خدائ پاک شکر دے،" اؤ دې

وئیلو سره زۀ زر هغوئ سره ملاویدو د پاره لاړم. بې شکه چې د اتوار په ورځ د عبادت په دوران کښې به مې مستر اولډ اؤ د هغۀ ښځې سره د هغوئ په کور کښې ملاقات کیدو. خو دا ملاقات د هغې نه مختلف وو. ځکه چې دا د هفتې په مینځ کښې ملاقات وو. د اولډ ښځه زر زما طرف ته را مخکښې شوه اؤ زما لاس یې ونیولو اؤ وې وئیل، بلقیس زمونږ زړۀ غوښتل چې تا سره ملاقات وکړو. د هغې په سترګو کښې رڼا ځلیده. هغې ووئیل چې د ملاویدو څۀ خاص وجه خو نشته خو ستا تعلق مونږ دلته راوستلو.

دا ډیر ښکلے ملاقات وو. د خبرو اترو په دوران کښې ما ته معلومه شوه چې کله زۀ خلقو ته وایم چې ما سره ملاقات مۀ کوئ نو دا ما غلطی کوله. د غرور په وجه زۀ خپل ضرورت نۀ شم قبلولے. ناڅاپه زما په زړۀ کښې دا خبره راغله چې ولې نه زۀ د اتوار په ورځ خلقو له خپل کور ته د عبادت د پاره دعوت ورکړم؟ خو دا کار په بلیدونکی اور باندې د تیلو اچولو برابر وو. ما کوشش وکړو چې دا خیال د خپل زړۀ نه وباسم، خو ناکامه شوم. کله چې هغوئ رخصتیدل نو په دې دوران کښې ما سمدستی ووئیل چې آیا د اتوار په ورځ ماښام تاسو زما کور ته راتلے شئ. اولډ د پریشانئ په حالت کښې زما طرف ته وکتل. ما خپل لاس خوزولو سره ورته ووئیل چې زۀ څۀ وایم نو د هغې نه زما مطلب دے چې دې زوړ اؤ

پخوانۍ عمارت ته د ژوند ضرورت دے. بهرحال زمونږ په کور کښې د عبادت کولو فيصله وشوه.

په دغه ورځ مابنام کله چې ما د اودهٔ کيدو د پاره تيارى کوله، نو ما خيال وکړو چې خدائ پاک څومره په ښکلې طريقې سره زمونږ ثناء صفت آورى. کله چې زما خاندان اؤ زما دوستان زما نه لرې شول نو د هغې په ځائ خدائ پاک خپل خاندان اؤ خپل دوستان راوليږل. زهٔ په سکون اؤ آرام سره اوده شوم. اؤ کله چې سحر پاڅيدم نو خوشحالى مې محسوسوله. زهٔ پاڅيدم اؤ کړکئ مې کولاؤ کړه اؤ د سحر تازه هوا کوټې ته راغله. د ګرمئ د موسم دې ښکلې هوا نه مې مزه اخستله.

ما د اتوار د ورځې د مابنام انتظار نهٔ شو کولے. د هفتې د غرمې نه پس زما زوړ کور د ګلونو نه ډک وو. په کړکئ، دروازه اؤ لاندې په زمکه باندې دومره ډير ګلونه وو چې کور د ګلونو په وجه ځليدو. ما ريشم ته ووئيل چې هغه هم مونږ سره په عبادت کښې حصه اخستلې شى. خو هغه لږه شان ووېريده. هغه د دومره بهادرئ کار د پاره تياره نهٔ وه، اؤ نهٔ ما په هغې دباؤ يا زور واچولو.

د اتوار ورځ راغله. ما محمود د میلمنو د کوټې نه لرې کړو. اؤ صفائی مې شروع کړه اؤ ګلونه مې سم کړل. آخر کار ما د دروازې کولاویدو آواز واؤریدو، اؤ ګاډی دننه راغلل.

زما ټول امید هم دې ماښام سره تړلے وو. مونږ ګیتونه ووئیل، دعا مو وکړه. اؤ یو بل ته مو ووئیل چې خدائ پاک زمونږ په ژوند کښې څۀ کوی. زۀ د محمود د عمر ماشومانو ته ډیره حیرانه ووم، چې په آرام سره هلته ناست وو. خو زۀ داخبره په یقین سره کولے شم چې په زرګونو نورو نالیدونکو میلمنو ته هم هر کلے ووئیلې شو.

د هغه ماښام یوه بله خاص خبره هم وه. د کومې نه چې زۀ نۀ وم خبر. ما ته معلومه شوه چې زما مسیحی ملګری زما د پاره لا تر اوسه پورې فکر مند وو. د اولډ ښځې ووئیل، چې آیا تۀ د ضرورت نه زیات احتیاط کوې؟ په خندا سره ما ورته ووئیل، زۀ دومره زیات احتیاط نۀ شم کولے. کۀ چرې څوک غواړی چې ما ته نقصان اؤ تکلیف را ورسوی نو هغوئ ته به لار خامخا ملاؤ شی. د مچل ښځې پوښتنه وکړه، ستا د خوب کوټه چرته ده؟ هر یو کس دا مناسب وګڼل چې زما کوټه ووینی. بیا ټول کسان زما په کوټه کښې راټول شول. مسټر اولډ خاص طور باندې زما د کوټې د کړکئ په باره کښې فکر مند وو. هغۀ بهر باغ طرف ته کتل اؤ وې وئیل، چې د شیشې اؤ د ښکلا نه علاوه دا کړکئ بالکل مضبوطه نۀ ده. خپل

سر يې وخوزولو اؤ وې وئيل، "تا ته معلومه ده چې په حقيقت کښې تۀ محفوظه نۀ يې. بلقيس د دې د پاره څۀ کول پکار دی. څۀ قسمه مضبوط سيخ په دې کړکۍ کښې ولګوه. ځکه چې په دې کښې هر څوک په آسانۍ سره دننه راتلے شی." نو ما ورته په جواب کښې ووئيل، "زۀ به صبا د دې پاره څۀ وکړم." آيا دا زما خيال وو يا واقعی زما دې خبرې سره د خدائ پاک حضوری کميده.

آخر مونږ يو بل ته د خدائ په آمان ووئيل اؤ جدا شو، اؤ د تيرې شوې شپې په نسبت نن مې ډيره په خوشحالۍ سره د اودۀ کيدو تياری شروع کړه. بله ورځ سحر چې ما کلی ته لوهار پسې څوک ليږلو نو يو ځل بيا ما ته محسوس شوه چې د خدائ پاک حضوری زما نه لرې کيږی. ولې؟ آيا په دې وجه نه څۀ چې ما يو داسې قدم اخستلو چې د هغې بنياد په ويره باندې وو. يقينا چې کله به هم ما د لوهار راغوښتلو کوشش کولو نو ما به دا قدم نۀ شو اخستلے.

اؤ بيا ما ته معلومه شوه چې کلی کښې به دا خبر خور شی چې زۀ په کړکو کښې سيخان لګوم نو هر يو کس ته به معلومه شی چې زۀ ويريږم. اؤ دغه شان خلق به خبرې کوی، اوه! دا مسيحی مذهب څۀ قسمه مذهب دے! چې کله څوک عيسائی شی نو هغه ډير

ویریدونکے شی. نو ما فیصله وکړه چې زهٔ به د کوټې په کړکۍ کښې سیخونه نهٔ لګوم.

په هغه شپه زهٔ په پوره اعتماد سره اوده شوم چې سحر ما فیصله کړې وه، نو زهٔ زر اوده شوم. خو یو آواز سره زهٔ سمدستی راپاڅیدم. زهٔ سمدستی کښیناستم. زما په وړاندې یوه ډیره عجیبه اؤ نا آشنا نظاره وه. ما د خپلې کوټې د دیوالونو نه ټوله باغیچه لیدلې شوه. اؤ په دې باندې د آسمانی رڼا یو سیلاب وو. ما هر یو ګل، ونه، د هغې پاڼې، وابنهٔ اؤ هره یو څانګه لیدلې شوه. اؤ باغ ډیر پاک ښکاریدو اؤ په کښې خاموشی وه. ما په خپل زړهٔ کښې د خپل آسمانی پلار دا خبرې واؤریدې، "بلقیس تا یو مناسب قدم اخستے دے. زهٔ ستا مل یم."

په قلاره قلاه رڼا ختمیده. اؤ په کوټه کښې بیا تیارهٔ راخوره شوه.  ما خپل کټ سره خوا ته بلب بل کړو. اؤ خپل لاسونه مې اوچت کړل اؤ د خپل خدائ پاک تعریف مې وکړو. اے پلاره! زهٔ به ولې ستا شکر نهٔ کوم؟ تهٔ زمونږ د ټولو دومره خیال ساتې.

بله ورځ سحر ما خپل ټول نوکران په جمع راوغوښتل اؤ هغوئ ته مې ووئیل، کهٔ چرې ستاسو زړهٔ غواړی نو تاسو په خپلو کورونو کښې اوده کیدے شئ. صرف زهٔ اؤ محمود به په دې دومره لوئ

کور کښې يواځې اوده کيږو. نوکرانو يو بل ته وکتل. په دوئ کښې ځنې خفه وو. ځنې خوشحاله اؤ ځنې پريشانه وو. خو ما ته معلومه وه چې يو خبره نتيجې ته رسيدلې ده. دې فيصلې سره زما د حفاظت هر يو خيال ختم شو. اؤ دې فيصلې کولو سره ما ته د خدائ پاک مينه حاصله شوه. ما د خدائ پاک حضوری محسوسولے شوه. کيدے شی د راتلونکو واقعاتو د پاره دا اهم وو.

يوه ورځ سحر ريشم زما ويښتئ ګومنځول نو هغې ووئيل چې ما آوريدلی دی چې ستا د ترور زوئ کريم وفات شوے دے.

زۀ د کرسئ نه پاڅيدم اؤ په حيرانتيا سره مې هغې ته کتل، اؤ ورته مې ووئيل نه! نه، کريم نه. هغۀ خو وئيلی وو چې محمود به د کبانو ښکار له بوځم. ما په هغۀ ډير فخر کولو. ما د کريم د مرګ په حقله معلومات د نوکرانو نه حاصلول. ډير په مضبوط اعتماد سره ما خپل ځان په قابو کښې وساتلو اؤ په کرسئ کښيناستم، د دې د پاره چې ريشم خپل کار جاری وساتی. خو زما په سر بوج وو اؤ په سر مې چکر راتلو. ما سوچ وکړو چې کيدے شی دا هسې خلقو خبر خور کړے وی. کيدے شی ريشم نه نوم غلط شوې وی اؤ دا بل څوک وی. زما زړۀ لږ په آرام شو، ما په نوکرانو کښې يوې مشرې نوکرې ته ووئيل، چې هغه ما له صحيح خبر راکړی اؤ د دې هر څۀ معلومات وکړی. هغه کلی ته لاړه اؤ يوه ګينټه پس د خفګان په

حالت کښې واپس راغله اؤ ما ته يې ووئيل، "بيګم صاحبې! زۀ ډيره خفه يم، خو دا خبره رښتيا ده. په هغۀ بيګا ماښام د زړۀ دوره راغله اؤ په حق ورسيدو. اؤ نن به د هغۀ جنازه وی." بيا دې نوکرانو چې ورته به د هرې يوې خبرې خبر ډير په آسانئ سره ملاويدو يوه بله خبره هم ما ته وکړه چې هغې سره ما ته نور هم ډير تکليف ملاؤ شو. ما ته خبر ملاؤ شو چې زما ترور د خپل خاندان خلقو ته ووئيل چې ما له د کريم د مرګ خبر راکړی چې هغه وفات شوے دے، خو هيچا هم د هغې خبره ونۀ منله.

بيا وروستو زۀ د کړکئ خوا ته ناسته ووم اؤ په دې خبره مې سوچ کولو. د شپږو مياشتو داسې زۀ په خاندانی معاملو کښې نۀ ووم شامله شوې. خو د تعلق ختميدو په وجه ما ته دومره تکليف ملاؤ نۀ شو لکه څومره چې دې واقعې سره ما ته تکليف ملاؤ شو. زۀ د پريشانئ په حالت کښې حيرانه ناسته ووسم اؤ د خدائ پاک نه مې دعا وغوښتله، اؤ هغۀ زما دعا واؤريده. داسې ښکاريدل چې يو ګرمه کمبل ډير په ښۀ طريقې سره زما په اوږو باندې کيښود ے شوه. اؤ د جذباتو سره مې يو غير معمولی قدم اوچتولو، چې د هغې په سوچ کولو سره هم زۀ وويريدم. دا قدم د بهادرئ قدم وو اؤ ما ته معلومه شوه چې دا د خدائ پاک له طرفه د ے.

---

# لسم باب

## "د هغهٔ په حضورئ کښې د ژوند تيرولو سبق"

زهٔ د کړکئ سره خوا ته ناسته ووم اؤ باغيچې ته مې کتل. دلته به ما اؤ کريم په ماشوم والی کښې لوبې کولې. د تيزې هوا په وجه ونې زمکې ته را ټيټيدې. ما په دې کښې يو خاص پيغام حاصلولو. دا يقين کول ناممکنه وو چې زهٔ په صحيح طور آؤرم.

په خندا سره ما ووئيل، "اے خدايه! دا په حقيقت کښې ستا پيغام نهٔ شی کيدے. " ما مختلف قسمه آوازونه اؤريدل. مثلاً دا د خدائ پاک رضا نهٔ ده چې زهٔ د کريم جنازې له لاړه شم، دا مناسب نهٔ دی. دې نه هيڅ نهٔ حاصليږی. زهٔ د هغه خلقو د پاره داسې يم لکه په زخم چې ښوک مالګه واچوی.

د دې آوازونو نه يو ځل بيا ما ته معلومه شوه چې د خدائ پاک د حضورئ احساس کميږی. سمدستی دې اشاره ملاويدو سره ما سوچ وکړو چې کيدے شی په ما کښې يوه حرکت راپيدا کيږی چې زهٔ دې ختم شوی تعلق ته لاړه شم.

آخر کار ما اوږده ساه واخسته اؤ زهٔ د کړکئ سره خوا ته د خپل ځائ نه پاڅيدم، اؤ لږ په اوچت آواز سره مې ووئيل، اے خدايه ما

زدکړه شروع کړې ده. اے خدایه څهٔ چې تهٔ وایې نو بې شکه چې زهٔ په هغې نهٔ پوهیږم، خو بیا هم هغه صحیح دی. حالانکه تهٔ ما له تلقین راکوې نو په دې وجه زهٔ به ځم.

بې شکه د خدائ پاک د حضورئ احساس ما بیا محسوس کړو. د خدائ پاک د حضورئ د راتلو اؤ د ختمیدو دا تجربې ډیرې اهم وې. تر اوسه پورې ما ته احساس وو چې ما د دې پوهې صرف هوا محسوس کړې ده. زهٔ به دا څنګه زده کړم چې د هغهٔ په حضورئ کښې ډیر وخت د پاره پاتې شم؟

ما ته نهٔ وه معلومه چې په راتلونکو دوؤ میاشتو کښې ما ته داسې مسلسل تجربې راپیښیږی، چې د زدکړې په عمل کښې به ما یو قدم نوره هم مخ په وړاندې بوځی. زهٔ ډیره په ویرې سره د کریم کور ته لاړم. د دې باوجود چې ما د حکم تابعداری وکړه خو بیا هم زما حالت د یوې بې مدد ګارې ګوګوشتکې په شان وو. چې د زړو ښکاریانو مینځ کښې غورزولے شوې وی. ما ساه واخسته اؤ د کاڼو نه جوړ شوی دې کور اړخ ته روانه شوم. اؤ زهٔ د صحن په طرف روانه ووم چې برآنډې ته لاړه شم. د کلی خلق چې یوځائ ناست وو، د ټولو نظر په ما باندې وو. زهٔ دې زوړ عمارت ته دننه لاړم، چرته چې اکثر ما اؤ کریم یو ډیر ښکلے وخت تیر کړے وو.

خو اوس هیڅ قسمه خندا نهٔ وه. د دې غم زپلې کورنئ غم نور هم زیات شو کله چې زهٔ لاړم ځکه چې هغوئ زما نه نفرت کولو. ما د خپل ترهٔ زوئ ته وکتل چا ته چې زهٔ ډیره نزدې ووم. یو مینټ د پاره مونږ یو بل ته وکتل. خو زما د ترهٔ زوئ ډیر زر مخ زما نه واړولو اؤ یو ګاونډی سره یې خبرې شروع کړې.

زهٔ نیغه د کریم کوټې طرف ته لاړم، اؤ دننه لاړم اؤ په هغه درئ باندې کښیناستم کومه چې په زمکه خوره کړے شوې وه. زما د موجودګئ په وجه خلق رابیدار شول. د دلاسې اؤ حوصلې ورکوونکې خبرې سمدستی ختمې شوې. تر دې پورې چې کومو ښځو د قرآن مجید تلاوت کولو نو هغوئ هم تلاوت بس کړو. داسې ښکاریدل لکه چې هلته کښې موجود هر یو کس له مار ټک ورکړې وی.

ما هیڅ هم ونهٔ وئیل، اؤ نهٔ مې چا سره د ملاویدو کوشش وکړو. ما صرف خپلې سترګې ښکته کړې اؤ په خپل زړهٔ کښې مې دعا کوله چې، "اے مالک عیسی مسیح چې کله زهٔ د دې رشته دارانو اؤ عزیزانو په وړاندې څوک چې د کریم د مرګ په وجه غمناک دی، ستا څرګندونه کوم نو تهٔ ما سره اوسه، اؤ زما مدد وکړه."

تقريبا پنځلس مينټه پس خبرې اترې بيا شروع شوې. ما اراده وکړه چې د کريم ښځې له حوصله اؤ دلاسه ورکړم. زۀ پاڅيدم اؤ خوا ته بلې کوټې ته لاړم. چرته چې په يو اوږد تابوت کښې د کريم لاش پروت وو. کله چې ما د کريم ښځې له دلاسه ورکړه نو بيا ما د خپلې خوږې ترور مخ ته وکتل. چې د غم په سپينو جامو کښې پټ وو. ما په خپل زړۀ کښې د کريم د روح د پاره دعا وکړه ، افسوس چې د هغۀ د مرګ نه مخکښې ما هغۀ ته د مالک عيسی مسيح په باره کښې وئيلی وو. د خاندان نزدې رشته دارانو د کريم د پاره دعا کوله. ښځې پاڅيدې اؤ د قرآن مجيد نه يې څۀ آيتونه لوستل. ما ته معلومه وه چې دا هغه آيتونه اؤ حوالې دی چرته چې د مرګ اؤ د ژوند ذکر شوے دے. نن به د نمر پريوتو نه مخکښې جنازه کيږی. اؤ په دې کښې به ټول رشته دار اؤ عزيزان اؤ نور خلق د جلوس په شکل کښې روان وی. څوک چې جنازه اوچتوی نو هغوئ به کريم مقبرې ته راوړی اؤ جنازه به وکړے شی.

زۀ په کوټه کښې ولاړ ووم اؤ دا ټولې خبرې مې آؤريدلې. د کريم مور د جنازې د کټ خوا ته په ګوډو ناسته وه. هغه دومره خفه ښکاريده چې زما په زړۀ کښې دا خواهش پيدا شو چې زۀ هغې خواته ورشم. آيا زۀ به دا جرأت وکړے شم؟ آيا دا خو به بې عزتی نۀ

وی؟ آيا زهٔ د عيسی مسيح په حقله څهٔ ووايم؟ نه، د يو مسيحی په طور زما دلته موجودګئ دوئ ته د عيسی مسيح په حقله وئيل دی.

بهرحال زهٔ د کريم د مور خواته لاړم، اؤ خپل لاس مې د هغې په اوږه کيښودو اؤ د غم په آواز کښې مې ورته ووئيل، چې ما ته په دې باندې څومره افسوس دے. زهٔ اؤ کريم څومره يو بل ته نزدې وو. خدائ پاک دې تا له برکت درکړی اؤ خدائ پاک دې تا له برداشت اؤ دلاسه درکړی. د کريم مور ما ته وکتل. د هغې د تورو سترګو نه اوښکې روانې وې. د هغې سترګو زما شکريه ادا کوله. اؤ ما ته معلومه وه چې د هغې د غم نه ډک زړهٔ له هم هغه وخت مالک عيسی مسيح دلاسه ورکوله.

خو په هغه کوټه کښې صرف د کريم مور زما دلاسه قبلوله. کله چې زهٔ د هغې نه روانه شوم اؤ د نورو غم زپلو کسانو په مينځ کښې د کښيناسو د پاره لاړم، نو زما يو ډير نزدې د ترهٔ زوئ د هلته نه پاڅيدو اؤ بهر لاړو. اؤ يو بل د ترهٔ زوئ مې هم دغه شان بهر لاړو. زهٔ هلته ناسته ووم اؤ قسم قسم جذباتی خيالاتو سره مې مقابله کوله. زما زړهٔ په درزيدو شو، د هغوئ دښمنی په ما غالبه کيده. تر مناسب وخته پورې کښيناستو اؤ بيا د رخصت اخستلو نه علاوه ما سره بله يوه لار هم نهٔ وه. کله چې زهٔ رخصت شوم نو د کور ټولو کسانو ما ته نيغ نيغ کتل.

زهٔ په ګاډی کښې ناسته ووم اؤ د مختلف خيالونو اؤ سوچونو راجمع کولو په کوشش کښې ووم. ما تابعداری کړې وه. يقينا دې خفګان ته مخامخ کيدو په ځائ ما دا غوره وګڼل چې خپل کور ته لاړه شم.

کهٔ ما دا سوچ کولو چې زهٔ به د دې وادئ نه صرف يو ځل تيريږم، نو دا به غلطه وه. يو څو هفتې وروستو کله چې ګرمی ډيره زياته وه، زما د ترهٔ يو بل زوئ د دې دنيا نه رخصت شو. د هغهٔ د مرګ په حقله هم راته نوکرانو ووئيل. يو ځل بيا د خدائ پاک په هداياتو مې عمل وکړو اؤ د غمژنو خلقو هغه کوټې ته لاړم. هر اړخ نه د نفرت په نظر کتلې شول. د خپلې مرضئ په مطابق د خپل ځان نه مې نظر واړولو اؤ په يو داسې کس مې نظر وکړو څوک چې ډير زيات غمژن وو. اؤ دا د مړی ښځه وه. د هغې يو زوئ وو. اؤ هغه د پينځو کالو وو، اؤ د محمود همزولے وو. هغه ښځه د تابوت سره ولاړه وه اؤ دومره غمژنه وه چې ما د هغې د پاره اؤ د هغې د کورنئ د پاره ژړل.

اؤ بيا څنګه چې ما د کريم په جنازه کښې کړی وو، نو زهٔ د دې غمژنې ښځې خوا ته لاړم. اؤ کله چې زهٔ ورنزدې شوم اؤ مونږ يو بل ته وکتل نو د هغې په مخ ما ته ويره ښکاريده. ناڅاپی د دې باوجود چې هغه د خپل خاندان خلاف کار کوی، هغې خپل لاس زما طرف

ته اوړد کړو. ما د هغې زیږ لاس نیولے وو. ما په خاموشئ سره ژړل. مونږ په یو دوؤ لفظونو کښې یو بل سره خبرې وکړې. خو زما زړهٔ دا دعا کوله چې روح القدس به د هغې زخمی زړهٔ له شفا ورکوی. اؤ خپله هغه وعده به زما دې رشته دار مسلمان د پاره هم پوره کوی چې وائی، بختور دی هغوئ چې غمژن دی.

هغې زما لاس پریښودو اؤ په قلاره شان یې راته ووئیل، "بلقیس ستا ډیره ډیره مننه." بیا زهٔ هغې ته ورترغاړه وتم اؤ د کوټې نه لاړم.

په اتفاقی طور باندې نور مرګونه هم وشول. زمونږ د کورنئ د لوئ والی لحاظ سره دا لږ شان غیر معمولی وو. خو هر ځل خدائ پاک ما ته ډیر په واضحه طور سره وئیل چې زهٔ د خپل کور نه لاړه شم اؤ هغه ځائ ته ورشم چرته چې زما ضرورت دے. ډیرې خبرې به مې نهٔ کولې. دا زما ګواهی وه چې خدائ پاک ما سره دے.

په دې ټول وخت کښې خدائ پاک زما مل وو. ما ته د ښودنې د پاره خدائ پاک دا مرګونه لکه د ازدکړې د یوې کوټې په شان استعمالول. په خاندان کښې چې به څوک مړهٔ شول اؤ هلته به زهٔ لاړم نو په دې موقعه باندې ما د خدائ پاک په حضورئ کښې د پاتې کیدو یو بل لوئ راز معلوم کړو.

د دستور په مطابق تر څو پورې چې مړے نۀ وی ښخ شوے نو تر هغې پورې هيڅوک هم څۀ نۀ خوری. عام طور باندې دا د يوې ورځې د روژې په شان وی. نو په هغه ورځ کله چې زۀ د خلقو نه ډکې کوټه کښې ووم اؤ خپل ځان راته يواځې ښکاريدو نو ناڅاپی ما ته معلومه شوه چې د غرمې نه پس ما ته د چائيو ضرورت وو. ما خپل ځان ته ووئيل چې دا يو داسې ضرورت دے د څۀ نه بغير چې زما ګذاره ګرانه ده. آخر کار کله چې ما خپل خواهش په قابو کښې ونۀ ساتلے شو، نو ما بخښنه وغوښته اؤ پاڅيدم. ما ووئيل، "زۀ خپل لاسونه وينځم. زۀ د کور نه بهر لاړم اؤ هلته په کوڅه کښې يو وړوکے هوټل وو هلته کښې لاړم. ما هلته چائ وڅښکله اؤ واپس هغه غمژنو خلقو له راغلم. " نا څاپی ما يو عجيبه شان جدائی محسوس کړه. داسې ښکاريدل چې يو دوست زما نه جدا شوے دے. بې شکه ما ته معلومه وه چې څۀ شوی دی. د خدائ تعالی دلاسه ورکوونکې حضورئ زۀ پريښودې ووم.

ما خپل ځان سره خبرې وکړې چې اے مالکه خدايه دا ما څۀ وکړل. اؤ بيا ما ته معلومه شوه چې کله ما خلقو نه معذرت وغوښتلو نو ما هغوئ ته دروغ ووئيل. د خدائ پاک د روح نه ما ته هيڅ قسمه اطمينان ملاؤ نۀ شو.

ما په خپل زړهٔ کښې ووئیل، "اے مالکه خدایه زما اوس د دې غمژنو مسلمانانو دستور اؤ رسم رواج سره څهٔ تعلق دے. د دې نه علاوه تا ته دا هم معلومه ده چې زهٔ د چائیو نه بغیر ګذاره نهٔ شم کولے. د خدائ پاک د روح احساس راته نهٔ کیدو. خپل ځان له د دروغو تسلی ورکولو د پاره ما په خپل زړهٔ کښې ووئیل، چې اے پلاره ما هغوئ ته څنګه داسې صفا وئیلې شو چې زهٔ د چائیو څښکلو د پاره ځم، دا خبره به د هغوئ د پاره د تکلیف سبب وه." خو د خدائ پاک د روح القدس راته هیڅ قسمه احساس نهٔ کیدو.

ما ووئیل، اے پلاره ما ته معلومه ده چې دروغ وئیل زما د پاره صحیح نهٔ وو. ما ته معلومه شوه چې ما د خلقو نه عزت غوښتهٔ، حالانکه ما له صرف ستا د خوشحالئ د پاره ژوند تیرول پکار دی. اے خدایه ما ته په دې خبره ډیر افسوس دے چې ما تهٔ خفه کړې. ستا مدد سره به زهٔ دا بیا نهٔ کوم.

اؤ دې خبرو کولو سره بیا د هغهٔ دلاسه ورکوونکې حضوری ما محسوس کړه. دا د هغه باران په شان وه چې د سیند په وچه زمکه باندې پریوځی. زهٔ مطمئینه ووم. ما ته معلومه وه چې هغه ما سره دے. اؤ دغه شان ما د هغهٔ په حضورئ کښې واپس راتلل ازده کړل. چې کله به هم ما د هغهٔ نزدې والے نهٔ محسوسولو نو ما ته به معلومه شوه چې ما هغه خفه کړے دے. نو بیا به ما د دې وجه

معلوموله اؤ هغه وخت ته به مې کتل کله چې ما د خدائ پاک حضورى په آخرى ځل پيژندلې وه. بيا به ما خپل هر يو کار، هرې يوې خبرې اؤ هر يو سوچ باندې نظر کولو، تر دې پورې چې ما ته به معلومه شوه چې زهٔ د چرته نه راغورزيدلې يم. په دغه مقام به ما د خپلې ګناه اقرار کولو، اؤ د خدائ تعالى نه به مې معافى غوښته. ما ډيرې په بهادرئ سره دا کار اؤ دا طريقه ازده کړه. د تابعدارئ د دې عمل په وسيله ما د توبې ويستلو په شان ښکلے راز ازده کړو. ما دا معلومه کړه چې د توبې مطلب صرف سترګو سره شرم محسوسول نهٔ دى. بلکه توبه د هغې خبرې قبلولو نوم دے چې ما چرته ګناه کړې ده. اؤ بيا په راتلونکى وخت کښې به د خدائ پاک مدد سره زهٔ هيڅ کله هم هغه ګناه بيا نهٔ کوم. د خپلې کمزورئ قبلولو سره ما د هغهٔ طاقت اؤ قوت حاصلولے شو.

په دې دوران کښې ما ته دا معلومه شوه چې د آؤ په ځائ آؤ، اؤ د نه په ځائ نه، ډير غوره اؤ ښهٔ اصول دى. دروغ دروغ دى. اؤ دا هميشه د شيطان له اړخ نه دى. ځوک چې د دروغو پلار دے. هغه د دروغو وئيلو عادت زياتولو د پاره نور دروغ استعمالوى. دروغ د ډيرو آزميښتونو د پاره لاره سمه وى. شيطان وائى چې سپين دروغ د نورو لحاظ ساتلو د پاره يو طريقه ده. مونږ عيسى مسيح ته د

سجدې کولو په ځائ، څوک چې حق دے، خپل ځانونه د دنیاوی څیزونو تابعداره کړو اؤ دنیاوی څیزونو ته سجده کوؤ.

اګر که ما دا سبق د خپل یو رشته دار په جنازه کښې ازده کړو. دا زما د پاره په یو نوې طریقه د ژوند شروع کول وو. ما د هر قسمه دروغو وئیلو نه د خپل ځان ساتلو کوشش وکړو. د هغه ورځې نه پس کله چې به ما ته د سپینو دروغو وئیلو ضرورت راغلو نو ما به خپل ځان په قابو کښې ساتلو. یو ځل یو مشنری دوست ما له په یو جلسه کښې د شاملیدو دعوت راکړو. ما نۀ غوښتل چې لاړه شم. ما دا بهانه جوړوله چې زۀ به په دغه وخت باندې بل ځائ ته ځم، اؤ دې بهانې جوړولو سره زما په باطن کښې ما ته خطره محسوسه شوه. اؤ ما په صحیح وخت خپل خیالونه اؤ سوچونه په خپل قابو کښې کړل. ما هغهٔ ته ووئیل چې ما ته افسوس دے زۀ نۀ شم درتلے، دې وئیلو سره معامله ډیره په خوشحالئ حل شوه.

بیا یوه ورځ ما په لندن کښې خپل یو رشته دار ته خط لیکلو، ما لیکل شروع کړل اؤ ورته مې ولیکل چې زۀ د څۀ مودې د پاره په کور کښې نۀ ووم. نو په دې وجه ستا د آخری خط جواب مې در نۀ کړو. خو سمدستی زما په ذهن کښې دا سوچ راغلو چې زۀ خو د کلی نه بهر بالکل نۀ یم تلې. هم دې سوچ سره ما کاغذ وغورزولو اؤ بیا مې لیکل شروع کړل، زما دوسته! مهربانی وکړه ما معاف کړه

چې ما ستا د دومره ښکلی خط جواب تا له زر در نهٔ کړے شو. يقينا چې دا وړې وړې خبرې دی. خو ما په وړو وړو خبرو کښې احتياط کول ازده کول. ځکه چې دې سره د ډيرو آزميښتونو په قابو کښې ساتلو د پاره طاقت ملاويږی. د دې نه علاوه بيا ما ته د بهانو لټولو نه خلاصون ملاؤ شو.

په قلاره قلاره نور هم په يقينی طور سره ما ته د روښانه ورځې په شان دا واضحه شول چې زهٔ د خپل ژوند د ملګری په حيثيت مالک عيسی مسيح د اوسيدو کوشش کوم. بې شکه داسې کول ممکنه نهٔ وو. بيا اکثر به ما ته معلومه شوه چې زهٔ په خپلو زړو لارو اؤ طريقو باندې روانه يم، خو ما د دې نه د بچ کيدو په کوشش کښې بالکل سستی ونهٔ کړه.

اؤ په دې سلسله کښې ما د دې وعدې عملی شکل معلوم کړو، "چې اول تاسو د هغهٔ د بادشاهۍ اؤ د صداقت لټون وکړئ نو نور هر څهٔ به تاسو ته په خپله ملاؤ شی" ( **متی ۶: ۳۳** ). چې کله هم ما دا کوشش کړے دے چې خدائ پاک له په خپل ژوند کښې اوله درجه ورکړم نو زما ختم شوی خواهشونه پوره شوی دی.

يوه ورځ د غرمې نه پس ريشم زما کوټې ته راغله. هغه ډيره خفه خفه ښکاريده. هغې ووئيل، " د ميلمنو په کوټه کښې يوه ښځه

ناسته ده اؤ ما سره ملاقات کول غواړی. " ما د ریشم نه تپوس وکړو، "څوک دی؟"

" بیګم صاحبې! کهٔ خدائ مې نهٔ غلطوی نو ما ته د کریم مور ښکاری. " یقینا چې هغه به په غلطه وی! د کریم مور دلته څهٔ د پاره راغلې؟ زهٔ په دې پریشانئ کښې ووم چې دا څوک کیدے شی، اؤ د پوښو نه لاندې راکوزه شوم. خو څنګه چې زهٔ د میلمنو کوټې ته لاړم نو بې شکه چې دا زما د مړ شوی د ترهٔ زوئ مور وه. کله چې هغې زما د پښو آواز واؤریدو نو هغې ما ته وکتل اؤ زهٔ یې په خپله غیږ کښې ونیولم.

د کریم مور ما ته ووئیل، " بلقیس زهٔ راغلم چې په ذاتی طور باندې تا ته یوه خبره وکړم. اولنئ خبره دا چې ما تهٔ په جنازه کښې په نورو خلقو کښې ونهٔ لیدلې. خو زهٔ تا ته دا وئیل غواړم چې ستا نه ما ته ځومره دلاسه اؤ تسلی ملاؤ شوه، ما ته په خپله نهٔ ده معلومه ....... څهٔ نا آشنا تجربه وه. څهٔ خاص اؤ د جذبې نه ډکه. " اؤ آخر کار ما ته معلومه شوه چې په هغه وخت کښې ما ته د کریم مور سره د عیسی مسیح په باره کښې د خبرو کولو موقع ولې ملاؤ نهٔ شوه کله چې هغه ډیره غمژنه وه.

ځکه چې د دې مطلب به دا وو چې د هغې د غم نه ناجائزه فائده واخلم. بهرحال اوس ماحول بالکل مختلف وو. ما د ميلمنو په کوټه کښې ډير په ښکلی انداز سره هغې ته ووئيل چې ما ته عيسی مسيح خومره ګران دے اؤ هغه څنګه په قلاره زما زړې طور طريقې بدلوی، اؤ د دې په ځائ باندې خپل شخصيت زما په ژوند کښې راولی.

د کريم مور ووئيل چې دا خبره رښتيا ده چې تهٔ د نورو خلقو خيال ساتې. تا په حقيقت کښې غوښتل چې زما په غم کښې ما سره شريکه شې. دا يو مختصر خو ډير زبردست ملاقات وو. دوؤ طريقو سره ما ته حوصله ملاؤ شوه. اول دا چې يو بل انسان په ما کښې بدلون معلوم کړو اؤ دويمه دا چې د خاندان سره د ختم شوی تعلق هغه زنځيرونه په شليدو شول.

بهرحال دغه ختم شوې تعلق ډير زر بحال نهٔ شو. هر ځل چې به ټيليفون کيدو نو دا به څوک مشنری وو. بهرحال يوه ورځ سحر وختی کله چې د محمود د پيدائښت شپږمه سالګره وه، د دې نه لږ مخکښې ټيليفون راغلو، نو ما په ټيليفون باندې د هغه مړ شوی د ترهٔ د زوئ د مور آواز واؤريدو. اؤ وئيل يې، "بلقيس، آؤ جی."

بلقیس زهٔ صرف دا وئیل غواړم چې کوم مدد تا ما سره په دلاسه اؤ تسلۍ راکولو کښې کړے دے هغه ډیر زیات د قدر قابل دے، هغې ما ته ووئیل چې زما د دلاسې ورکولو نه د هغې په زړهٔ باندې ډیر اثر وشو.

دا څومره دلچسپه خبره وه ځکه چې ما خو هغې ته صرف یو څو خبرې کړې وې. یقینا چې دا عیسی مسیح وو چا چې هغې له دلاسه اؤ تسلی ورکړې وه. بیا مونږ یو څو ښې ښې خبرې وکړې اؤ بیا هغې ټیلیفون بند کړو.

د دې نه پس یو ځل بیا مالک عیسی مسیح د حیرانتیا نه ډک کار وکړو. ما بغیر د څهٔ واسطې نه د هغهٔ په باره کښې څهٔ خبرې وکړې یا مې ونهٔ کړې. خو زهٔ هلته موجوده ووم. د هغهٔ د روح نمائندګی مې کوله، د کوم چې د تکلیف په دې وخت کښې ډیر زیات ضرورت وو.

په یو څو هفتو کښې یو څو نور رشته داران د مختصر ملاقات د پاره راغلل. هغوئ د محمود د سالګرې په ورځ هغهٔ له د لوبو څیزونه اؤ متهایانې راوړې. په واضحه طور باندې د هغوئ د ملاقات وجه محمود لیدل وو. په حقیقت کښې ما ته معلومه وه چې د محمود د پیدائښت ورځ د هغوئ د پاره یوه ډیره ښهٔ بهانه وه. دې

ملاقاتونو سره زاړهٔ زخمونه راتازه شول. دا ملاقاتونه مختصر وو اؤ رښتینی ملاقاتونه نهٔ وو. خو زما نه ګیر چاپیره چې د جدایئ کوم دیوالونه وو نو په هغې کښې دا هر څهٔ زما د پاره د یو سوری په شان وو.

غالبا یو کال شوے وو چې ما عیسی مسیح قبول کړے وو. وخت څومره زر زر تیر شو.

بیا ډیر زر به زما د پیدائښت ورځ راشی، د یو کال داسې ما خپل ځان مالک عیسی مسیح ته سپارلې وو. اؤ اوس زهٔ په دې انتظار کښې ووم چې خپل اولنے کرسمس به لمانځم. بے شکه په یورپ کښې د اوسیدو په وخت ما د کرسمس رسم لیدلې وو چې خلق دا څنګه مانځی. خو ما ته بالکل دا نهٔ وه معلومه چې ورځې ته د کرسمس په حیثیت سره د کتلو څهٔ مطلب دے. ډیر په خوشحالئ اؤ جوش اؤ جذبې سره کرسمس وشو. مچل اؤ د اولډ ښځې د کرسمس په موقعه باندې زما د پاره تحفې راوړې، چې په کښې د کرسمس ونه، اؤ د اخور نظاره ښودلې شوې وه. نوکرانو د کرسمس هغه ونه د میلمنو په کوټه کښې کیښوده اؤ هغه یې ډیره ښائسته کړه. خو دې هر څهٔ سره زهٔ مطمئنه نهٔ ووم.

د دې رسم د خوشحالو نه مې ډیره مزه واخسته. خو په دې خوشحالو کښې حقیقی مطلب نهٔ وو. ما دا سوچ شروع کړو چې زهٔ کرسمس په داسې طریقې سره وکړم چې د هغې نه د هغه بدلون اندازه وشی کوم چې زما په ژوند کښې راغلے دے.

اؤ بیا زما په ذهن کښې یو خیال راغلو. اؤ هغه دا چې د یو پارټۍ ( دعوت) بندوبست وکړم چې په کښې نهٔ یواځې مشنریان شامل وی بلکه د کلی هر یو خاص اؤ عام مسیحی په کښې هم شامل وی. ناڅاپی زما د کورنۍ له طرفه د خبرداری آواز راغلو، چې زهٔ د خپل ایمان ډنډوره ونهٔ کړم. اؤ دې سره زما په شعور کښې دا آواز را اوچت شو کهٔ چرې په ما باندې څهٔ مصیبت راغلو نو هغه د حکومت په سطح زما حفاظت نهٔ شی کولې. ما ته معلومه وه چې د کرسمس د دې پارټۍ یا دعوت خیال به د ډیرو خلقو د پاره د دهمکۍ نه کم نهٔ وی. خو بیا هم د ډیرې دعا کولو نه پس ما ته داسې ښکاریدل چې کله ما د دې خاص اجتماع شروع کړې وه نو د خدائ پاک حضوری په قوی طور ما سره وه.

بیا ما د پارټۍ ( دعوت ) بندوبست وکړو چې هغې سره په واه کښې هله ګله جوړه شوه. د کلی خلق د وخت نه مخکښې راجمع کیدل شروع شول. اؤ مشنریان هم د میلمنو کوټې ته د کرسمس ونې نه ګیر چاپیره ناست وو اؤ په وخت باندې راغلی وو. عبادت شروع

شو. بیا ناڅاپی د یو نوکر نه مې یوه خبره واؤریده اؤ ډیره حیرانه شوم، اؤ هغه دا چې زما یوه ترور اؤ د هغې بچی د راولپنډئ نه ما سره ملاویدو د پاره راغلی دی.

زما زړهٔ وویریدو. د هغوئ رد عمل به څهٔ وی؟ هغوئ د غټو خلقو په شان سلوک وکړو. اول خو هغوئ ډیر خفه ښکاریدل. بیا په خاموشئ سره بلې کوټې ته لاړل اؤ هلته هغوئ د غصې په حالت کښې ناست وو.

ما دې دواړو ډلو کښې د یوې سره هم د بې پرواهئ سلوک نهٔ شو کولے. ما خپل ټول وخت په دې کښې تیر کړو چې کله یوې کوټې ته ځه اؤ کله بلې کوټې ته. زما حالت د هغه کس په شان وو چې کله د ګرمو اوبو د پوارې لاندې وی اؤ کله د یخو اوبو د پوارې لاندې وی.

بیا وروستو کیدے شی چې زما د مستقل مزاجئ په وجه زما د خاندان د څو کسانو غصه ختمه شوه. په دوئ کښې یو څو کسان خو د میلمنو کوټې ته هم لاړل اؤ هلته په پروګرام کښې شامل شول. اؤ تر آخره پورې هغوئ د مچل اؤ اولډ سره خبرې اترې کولې.

د دې پروګرام په هر ځائ کښې صفتونه کیدل. ما دا امید لرلو چې د دې کال شروع به مختلف قسمه وی. بے شکه چې آسانه نه،

خو مختلفه به وی. ځکه چې ناڅاپې زما مخې ته ډيرې لارې وې. کهٔ چرې ما غلطه لار اختياروله نو زهٔ يې په مصيبت کښې اچولے شوم. ځکه چې د دوستانو اؤ رشته دارانو نه علاوه د ملاقات د پاره يو مختلف قسمه کس راغلو. د هغه خلقو مقصد دا وو چې ما واپس د اسلام اړخ ته راولی. ما محسوس کړل چې ځنی تماشه کوونکی کسان په دې تلوسه کښې وو چې زهٔ د هغه آوازونو جواب ورکړم کوم چې ما واپس د اسلام طرف ته راوستل غواړی. اوس آيا ما له چپ پاتې کيدل پکار دی يا ماله د خپل زړهٔ خبره کول پکار دی؟ اوس چې کله به ما دې کسانو سره خبرې کولې اؤ د چالاکئ نه به مې کار اخستلو نو ما به خپل ځان بې آرامه اؤ يواځې محسوسولو. خو کله چې به مې د سوالونو جوابونه په دوستئ اؤ مينه محبت سره ورکول نو ما به محسوسول چې خدائ پاک په خپله ما سره دے.

د مثال په طور يوه ورځ د غرمې نه پس چا دروازه وټکوله. زهٔ حيرانه ووم ځکه چې ما وئيل چې په دوه بجې څوک راتلے شو. دروازه کولاؤ شوه اؤ ريشم دننه راغله اؤ وې وئيل، بيګم صاحبې! تاسو سره څوک ملاويدو د پاره راغلے دے. د هغې په نرم آواز کښې ويره وه. ما ريشم ته ووئيل چې دا به ښهٔ وی چې د غرمې نه پس د دوؤ نه تر دريوؤ بجو پورې ما آرام ته پريږدې اؤ څوک را نهٔ شی، خو بيا هم دا يو حکم نهٔ وو. يو کال مخکښې به ما داسې وئيل، کهٔ هر

څهٔ وی خو چې ما له آواز را نهٔ کړې اؤ د آرام نه مې ونهٔ باسې. اوس ما هغې ته دا خبره کړې وه چې زهٔ وخت خپل نهٔ ګڼم، بلکه دا وخت هم د خدائ پاک ملکیت دے. کهٔ چرې داسې څهٔ خبره وی چې ریشم دا سوچ کوی چې هلته کښې زما موجودګی ضروری ده، نو بې شکه هغه څهٔ وخت هم زما کوټې ته راتلے شی.

بیګم صاحبې! ملاقات له چې څوک راغلې دے نو هغه انګریز دے، اؤ هغه وائی چې د خدائ په باره کښې تا سره خبرې کول غواړی. ما هغې ته ووئیل، ټیک ده هغه د میلمنو په کوټه کښې کښینوه، زهٔ درځم. یو انګریز زما په انتظار کښې وو. دا ډیره د دلچسپئ خبره وه چې هغهٔ د پاکستان د خلقو په شان لباس اچولې وو. هغهٔ بخښنه وغوښته چې ما له یې خبر نهٔ وو راکړے اؤ هغه راغلو، اؤ بیا یې خپله خبره شروع کړه، هغهٔ ووئیل، "زهٔ تا سره ملاویدو د پاره د کراچئ نه راغلے یم." حالانکه هغهٔ د یو انګریز په حیثیت اسلام قبول کړے وو، نو په دې وجه زما د خاندان خلقو دا سوچ کولو چې یو انګریز چا چې اسلام قبول کړے دے د هغهٔ په وسیله به زهٔ ډیره متاثره شم.

هغهٔ ډیر په جذباتو سره خپل بیان شروع کړو. هغهٔ ووئیل، "بیګم" د هغه مسلمانانو په حقله باندې څوک چې عیسائیت اړخ ته ځی، یوه خبره زما په ذهن کښې نهٔ راځی، اؤ دا خبره بائبل دے.

مونږ ته معلومه ده چې د عیسایانو انجیل کوم چې د خدائ پاک له طرفه وو هغه اوس بدل شوے دے.

هغهٔ د بائبل خلاف د اسلام د ټولو نه لویه وجه اؤ اعتراض بیانولو چې دا بالکل بدل کړے شوے دے. اؤ دا موجوده ترجمه د اعتماد قابله نهٔ ده. مسلمانان دا دعوه کوی چې قرآن مجید تر نن ورځې پورې په خپل اصلی صورت کښې دے.

ما هغهٔ ته ووئیل چې زما دا خیال دے چې تهٔ به دا ګمان نهٔ کوې چې زهٔ ټوقې کوم. په حقیقت کښې زما دا خواهش دے چې دا معلوم کړم. ما اکثر دا اؤریدلی دی چې بائبل بدل شوے دے. خو ما ته تر نن ورځې پورې د دې خبرې پته ونهٔ لګیده چې دا چا بدل کړے دے. اؤ په دې کښې کله بدلون راغلو. کومې کومې حوالې بدلې شوې. نو هغه په ژور سوچ کښې پریوتو اؤ پاس چت ته یې کتل. ما دا اندازه ولګوله چې ما هغهٔ سره زیاتې وکړو. تر کومې پورې چې ما ته معلومه ده د دې سوالونو جوابونه نهٔ ملاویږی.

ما خپله خبره جاری وساتله اؤ هغهٔ ته مې ووئیل، " تا ته معلومه ده چې زهٔ د هغه لټون اؤ تحقیق په حقله تا ته دا خبره کوم ، کوم چې ما کړے دے. "

د برطانيې په عجائب ګر کښې د بائبل مقدس زړه نسخه موجوده ده، کومه چې د حضرت محمد د پيدائښت نه درې سوه کاله مخکښې موجوده وه. د اسلام اؤ عيسائيت په مينځ کښې دا زړې نسخې په هره يو خبره کښې د بائبل مقدس نوې ترجمې سره بالکل يو شان دی. ماهرين وائی چې بائبل مقدس په هره يو خبره کښې په خپل بنيادی اؤ اصلی شکل کښې موجود دے. په ذاتی طور باندې زما د پاره دا اهم دے، ځکه چې زما د پاره بائبل مقدس د خدائ ژوندے کلام جوړ شوے دے. دا زما روح سره خبرې کوی، اؤ زما د روح پالنه کوی. دا زما د لارې د پاره رڼا اؤ زما د قدمونو د پاره ډيوه ده.

ما له خپله خبره نهٔ وه ختمه کړې اؤ هغه پاڅيدو. ما هغهٔ ته دا هم ووئيل چې زهٔ دا پيژندل ضروری ګڼم چې آيا داسې څهٔ خبرې شته چې په هغې باندې زهٔ خپل ځان په خپله بې وقوفه جوړوم. آيا تهٔ ما ته وئيلې شې؟

هغهٔ وفرمائيل، تهٔ خو د کلام خبرې داسې کوې لکه چې دا ژوندے دے. ما هغهٔ ته ووئيل، کهٔ چرې د کلام نه ستا مطلب عيسی مسيح دے نو زما دا يقين اؤ عقيده ده چې هغه ژوندے دے. په قرآن مجيد کښې ليکلی دی چې هغه کلمته الله دے.

هغهٔ وفرمائیل، "مونږ به بیا خبرې وکړو. اوس به زهٔ لاړ شم."

خبره هم دلته ختمه شوه. ما په دروازه کښې خپل ملاقات کوؤونکی ته د خدائ په آمان ووئیل، اؤ هغهٔ له مې د بیا راتلو دعوت ورکړو. هغه خو بیا هیڅ کله هم را نهٔ غلو خو نور ډیر کسان راغلل چې په هغوئ کښې څنی کسان داسې وو چې د داسې قسمه غلط فهمو په وجه په خبرو اترو کښې ډیر چالاک اؤ تیز وو. زهٔ به هغه سړے هیڅ کله هم هیر نهٔ کړم چا چې په عیسایانو باندې دا الزام ولګولو چې دوئ د دریوؤ خدایانو عبادت کوی.

هغهٔ وفرمائیل، " تهٔ چې څهٔ ته تثلیث وایې، په هغې کښې خدائ پاک، بی بی مریم اؤ عیسی علیه السلام شامل دی." تاسو عیسایان دا خبره کوئ چې خدائ پاک مریم ښځه کړه اؤ د هغوئ د یو ځائ کیدو نه حضرت عیسی علیه السلام پیدا شو. هغهٔ ټوخې وکړو اؤ وې وئیل، " د الله تعالی ښځه نشته اؤ نهٔ کیدے شی." ما په خپل زړهٔ کښې دعا وکړه اؤ د خیالونو اؤ سوچونو یوه سلسله زما په ذهن کښې شروع شوه.

ما د هغهٔ نه تپوس وکړو، آیا تهٔ قرآن مجید لولې؟ بې شکه زهٔ قرآن لولم. ښه نو تا ته یاد دی چې قرآن ولې داسې وائی چې عیسی مسیح د خدائ پاک "حکم" سره پیدا شو. ما اکثر په دې باندې

سوچ کړے دے چې قرآن مجید ولې دا عجیبه حقیقتونه بیانوی. کیدے شی چې تا به د سادهو سندرسنګ په حقله آؤریدلی وی. ځوک چې یو ډیر پوخ اؤ کلک سک وو. اؤ عیسی مسیح هغهٔ ته په رویا کښې ځرګند شو. عیسی مسیح هغه په تثلیث باندې څهٔ په دې رنګ پوهه کړو چې لکه څنګه چې په نمر کښې ګرمی اؤ رڼا دواړه موجود وی، خو رڼا اؤ ګرمی دواړه یو نهٔ دی. بلکه دا یو دی. اګرکه هغه په مختلف شکل اؤ صورت کښې دی. هم دغه شان عیسی مسیح اؤ روح القدس د پلار له اړخ نه دې دنیا له رڼا اؤ ګرمی ورکوی. خو بیا هم دا درې نهٔ دی. بلکه یو دی. لکه څنګه چې نمر یو دے.

کله چې ما خپله خبره ختمه کړه نو په کوټه کښې خاموشی شوه. زما میلمه په ډیر ژور سوچ کښې وو. لږه شیبه وروستو هغهٔ زما شکریه ادا کړه اؤ رخصت شو.

کله چې هغه روان وو اؤ ما د هغهٔ مخ ته وکتل نو ډیر خفه وو، نو زما په ذهن کښې دا خیال راغلو چې آیا دې خلقو سره زما دا مختصر ملاقاتونه خدائ پاک د خپل جلال د پاره استعمالولے شی؟

ما ته په هیڅ طریقه باندې پته ونهٔ لګیده. ځکه چې ما په دوئ کښې د یو کس په حقله هم بیا څهٔ وانهٔ وریدل. دې سره هیڅ فرق را

نهٔ غلو. کيدے شی ما له د نتيجې په حقله باندې فکرمند کيدل نهٔ دی پکار. ما ته چې د کوم څيز ضرورت وو هغه فرمانبرداری وه. کهٔ چرې خدائ پاک ما له دې خلقو سره د خبرو کولو موقعه راکړه نو زما د پاره دا کافی ده.

د ژمی په ختميدو اؤ د سپرلی په شروع کيدو کښې خدائ تعالی ما ته نورې طريقې هم وښودلې. زهٔ لاهور ته لاړم. خپل زوی خالد سره مې خبرې ونهٔ کړے شوې. کله چې زهٔ واپس راتلم نو ما سل ( ١٠٠ ) بائبلې واخستې اؤ څوک چې د دې د لوستلو خواهش مند وو نو هغوئ له مې ورکړې.

مسيحې کتابچې مې هم واخستې اؤ په هره موقعه مې هغه خلقو له ورکړې. اؤ دا به مې هم وليدل چې ډير خٔله به خلقو د دې بې قدری وکړه اؤ دا به يې وغورزولې. نو زما په زړهٔ کښې دا سوال پيدا شو چې، "اے خدايه! آيا دا کار ستا د مرضئ په مطابق دے؟" ما دا دعا وکړه چې اے خدايه تر اوسه پورې چې ما کوم خدمت وکړو نو هغه ميوه دار نهٔ شو. ما چې چا سره هم د عيسی مسيح په حقله خبرې کړې دی نو په هغوئ کښې هيچا هم عيسی مسيح نهٔ دے قبول کړے.

کله چې ما دعا وکړه نو په کوټه کښې مې د خدائ پاک حضورى ډيره زياته محسوس کړه. داسې ښکاريدل چې فضا د هغهٔ طاقت اؤ دلاسې سره معموره ده. ما د خپل زړهٔ نه دا آواز واؤريدو، " بلقيس! زهٔ ستا نه صرف يو تپوس کوم! هغه موقعو باندې يو ځل بيا غور اؤ فکر وکړه په کومو کښې چې تا د خپل خاندان اؤ رشته دارانو سره خبرې کړې دى، په هغه موقعو باندې سوچ وکړه په کومو کښې چې تا هغه خلق قبول کړل څوک چې تا سره د بحث کولو د پاره راغلل. په دې ملاقاتونو کښې آيا تا زما حضورى محسوس کړې ده؟"

آؤ خدايه پاکه! آؤ يقينا ما ستا حضورى محسوس کړې وه! آيا زما جلال هلته موجود وو؟ آؤ خدايه!

نو بيا تهٔ نور څهٔ غواړې. خپلو رشته دارانو سره د خبرو کولو هم دا طريقه ده. خلاصون ستا مسئله اؤ ستا کار نهٔ دے. ستا ضرورت صرف تابعدارى ده. زما د حضورئ لټون کوه، د نتيجو لټون مهٔ کوه.

بيا ما خپل کار جارى وساتلو. خو عجيبه خبره دا وه چې دا کار ډير زيات د مزې نه ډک جوړ شو. خدائ پاک زما نظر د نتيجو نه لرې کړو اؤ د خپلې حضورئ اړخ ته يې راواړولو. اوس چې به کله

ما د خپلو رشته دارانو اؤ عزيزانو سره خبرې کولې نو ويره به مې نهٔ کوله. ما دا ازده کړل چې د موقعو نه به څنګه فائده اخلم. کهٔ خبرې اترې به د سياست په حقله وې يا د جامو په حقله، خو ما به خدائ پاک ته خواست کولو چې هغه څهٔ داسې قسمه سوال پيدا کړی چې د هغې نه ما ته د هغهٔ د ګواهئ بيانولو موقعه ملاؤ شی. مثال په طور يو ځل کله چې ما خپلې وريرې سره خبرې کولې، نو په خبرو اترو کښې مونږ زما د خاوند په باره کښې خبرې شروع کړې. هغه په جاپان کښې د پاکستان سفير وو.

هغې وخاندل اؤ وې وئيل، کهٔ چرې خالد ستا کور ته راشی نو تهٔ به څهٔ کوې؟ ما هغې ته نيغ نيغ وکتل اؤ ورته مې ووئيل، زهٔ به هغهٔ ته هر کلے وايم. هغهٔ له به چائ پخه کړم. زما وريرې د بې يقينئ په حالت کښې ما ته وکتل. ما خپله خبره جاری وساتله اؤ ورته مې ووئيل، "ما هغه معاف کړے دے. اؤ زما يقين دے چې هغهٔ به هم زهٔ د هغه خبرو د پاره معاف کړې يم د کومو په وجه چې هغهٔ ته نقصان يا تکليف رسيدلې وی."

تهٔ هغه داسې څنګه معاف کولے شې! زما وريرې ته معلومه وه چې مونږ د کومو مشکلاتو اؤ تکليفونو نه تير شوی وو. ما هغې ته وفرمائيل چې يقينا په خپل قوت اؤ طاقت سره زهٔ هغه نهٔ شم معاف

کولے. عيسی مسيح زما مدد کړے دے. هغهٔ د نفرت بوج زما نه لرې کړے دے.

زما وريره لږ ساعت د پاره چپ وه اؤ بيا يې ووئيل، ښه! نو دا عيسائيت دے د څهٔ نه چې زهٔ ناخبره ووم. کهٔ چرې تهٔ داسې ژوند تيرول شروع کړې نو د ټولو نه اول به زهٔ ستا خوا ته راځم اؤ د عيسی مسيح په حقله به ستا نه ازده کړه کوم.

دلته کښې هم زهٔ مايوسه شوم. زما ډير اميدونه وو. زما يقين وو چې زما وريره به په دې موضوع باندې بيا خبرې اترې کوی، خو هغې بيا کله هم په دې موضوع خبرې ونهٔ کړې.

داسې موقعې راغلې چې په هغه دوران کښې د خدائ پاک حضوری زما نه جدا شوه. اؤ دا به هميشه په هغه وخت کښې کيدل کله چې به زهٔ شيطان قائله کړم چې زهٔ خو ډيرې ښې ښې خبرې کولې شم. زما دليلونه به په حقيقت کښې ډير ښهٔ وو. ما د دې د پاره هم معافی وغوښتله. ما نوی سبقونه ازده کول.

مثال په طور يوه ورځ زما يو رشته دار زما نه تپوس وکړو چې تهٔ ولې يواځې اؤ جدا اوسيدل غواړې؟ تهٔ به دا خبره خامخا قبلوې چې کهٔ مونږ عيسايان يو، مسلمانان يو، هندوان يو، يا يهوديان يو، اؤ يا د بتانو عبادت کوونکی يو، خو بيا هم مونږ ټول د يو

خدائ عبادت کوو. مونږ هغه مختلفو نومونو سره رابلو. اؤ مختلفو طريقو اؤ مختلفو طرفونو نه د هغهٔ اړخ ته راځو. خو آخر خدائ صرف يو دے.

ستا مطلب دے چې هغه لکه د يو غر د څوکې په شان دے چې ورته د هر طرف نه ډيرې لارې وی؟ هغهٔ چې دا خبره واؤريده نو چپ شو.

ما يوه بله حمله هم وکړه، ما هغهٔ ته ووئيل، "ټيک ده دا خبره ما ومنله چې خدائ پاک د غر په شان دے. خو د دې اړخ ته صرف يو لار ځی، اؤ هغه لار عيسی مسيح دے. مالک عيسی مسيح وئيلی دی، **زهٔ لار يم، زهٔ حق يم، اؤ زهٔ ژوندون يم**. ما په سختئ سره ووئيل چې صرف واحد دا يوه لار ده. ما هغهٔ له د بائبل مقدس په مطابق صحيح صحيح دليلونه ورکول." خو د روح القدس هداياتو سره نه. زما رشته دار ووئيل چې "بلقيس! آيا تا ته چا وئيلی دی چې ستا په طبعيت کښې اوس هم ګرمی موجوده ده." ما ته معلومه وه چې خدائ پاک د هغهٔ په وسيله ما ته ښودنه کوی. ما د خدائ پاک نه په خپله زړهٔ کښې معافی وغوښتله اؤ خدائ پاک ته مې خواست وکړو چې هغه زما ژوند په خپله قبضه کښې واخلی. زما ميلمه رخصت شو. پته نشته چې د خدائ پاک سره په نزدې والی

کښې یا د هغهٔ نه لرې والی کښې، ما ته به کله هم د دې خبرې پته ونهٔ لږی. خو ما ته صرف دومره معلومه وه چې ما د دې غلطو نه د هغهٔ د آواز نه تابعداری ازده کوله.

اؤ بیا یوه شپه دغه شان یوه بله تجربه وشوه. کومه چې د مسیحی کیدو نه مخکښې ما سره شوې وه. ما په خپله کوټه کښې د اودهٔ کیدو تیاری کوله. اؤ په دې دوران کښې ناڅاپی ما د تیارې قوت د خوب د کوټې کړکئ سره نزدې محسوس کړو. سمدستی زما سوچ د خپل حفاظت کوونکی اړخ ته لاړو اؤ ما ته یې ووئیل چې د کړکئ اړخ ته مهٔ ځه. زهٔ په زمکه کښیناستم اؤ دعا مې شروع کړه، اؤ خپل خدائ پاک ته مې خواست شروع کړو، چې اے مالکه خدایه ما داسې پته کړه لکه څنګه چې چرګه خپل بچی د وزرو لاندې پټوی. اؤ ما د خدائ پاک بچ کوؤنکې طاقت محسوس کړو. اؤ کله چې زهٔ پاڅیدم نو د تیارې طاقت ختم شوے وو.

بله ورځ سحر زهٔ د مچل کور ته لاړم. نمر ځلیدو. خو زهٔ لا تر اوسه پورې د ویرې د لاسه رپیدم. خو د هغهٔ د کور دروازې اړخ ته تلو سره ما د دې تجربې وئیلو کښې ویره محسوسوله، زهٔ ویریدم چې هسې نه هغه په دې پوهه نهٔ شی.

په دروازه باندې د مچل ښځه ډيره په خوشحالئ سره ما ته راتر غاړه وته. بيا يو قدم وروستو شوه. د هغې په سترګو کښې يو سوال وو. هغې تپوس وکړو بلقيس څهٔ خبره ده؟ ما د دې وئيلو جرأت وکړو چې تهٔ ما ته دا ووايه چې د مسيحی کيدو په باوجود دا ويروونکې خبرې ولې پيښيږی. هغې زهٔ خپلې کوټې ته بوتلم اؤ هلته مونږ کښيناستو.

د خفګان په حالت کښې هغې ووئيل، "په حقيقت کښې زهٔ ستا په خبره پوهه نهٔ شوم." آيا تا له چا دهمکی در کړې ده څهٔ ؟ ما هغې له جواب ورکړو، انسان دهمکی نهٔ ده راکړې خو يو ناليدونکی قوت دهمکی راکړې ده. هغه ډيره حيرانه شوه اؤ پاڅيده چې خپل بائبل مقدس راوړی، د بائبل مقدس پاڼې يې اړولې اؤ وې وئيل، " د افسيانو په شپږم باب کښې د داسې قسمه خبرې ذکر راغلے دے. ځکه چې زمونږ جنګ د انسان خلاف نهٔ دے بلکه د فساد د هغه روحانی لښکرو چې په آسمانی ځايونو کښې دی، د حکومت د خاوندانو، د اختيار لرونکو اؤ د دې دنيا د تيارې د حاکمانو سره دے. "

هغې زما طرف ته وکتل. ما هغې ته د هغه تيرې شوې شپې واقعه بيانوله اؤ ورته مې ووئيل، يقينا چې هم دا خبره ده. هغې ډيره په غور سره زما خبره واؤريده اؤ بيا يې وفرمائيل چې تهٔ د دې

په حقله اولډ سره خبرې وکړه. ما په خندا کښې ورته ووئیل ټیک ده خو ما ته پته نشته چې زهٔ به دا معامله نوره اوږده کړم کهٔ نه. کله چې مونږ د عبادت د پاره د مسټر اولډ په کور کښې مابښام راجمع کیږو، نو ما فیصله وکړه چې دا خبره به زهٔ هم په دې ځائ پریږدم. زما دا ګمان وو چې کله زهٔ دا خبره هغوئ ته هم وکړم نو زهٔ به د هغوئ په نظر کښې بې وقوفه ښکاره شم. کیدے شی دا صرف زما خیال یا تصور وو. بهرحال چې څنګه زهٔ په صوفه کښیناستم اؤ مسټر اولډ اؤ د هغهٔ ښځې سره مې خبرې شروع کړې، نو دا زما د پاره ډیره ګرانه وه چې دا خبره مې هغوئ ته نهٔ وه بیان کړې.

ما په ساده والی سره د دې د بیانولو کوشش وکړو. ما د اولډ ښځې ته ووئیل چې بیګا شپه ما ته دومره ویرونکې تجربه راپیښه شوې وه چې زهٔ هغه تاسو ته نهٔ شم بیانولے. د هغې خاوند لکه د نور کله په شان زمونږ نه وروستو کړکئ سره نزدې ناست وو اؤ کتاب یې لوستلو. کله چې یې زما خبره واؤریده نو هغهٔ خپل کتاب یو اړخ ته کیښودو اؤ کله چې یې دا محسوس کړل چې زهٔ خپله خبره په ویرې سره بیانوم نو هغهٔ ما ته ډیر په نرمئ سره ووئیل چې زهٔ ورته پوره قیصه بیان کړم. کله چې ما خپله خبره ختمه کړه نو ما کوشش وکړو چې وخاندم. اؤ دا مې ووئیل چې کیدے شی دا زما ذهن خراب وو. هغهٔ په خاموشه لهجې سره ووئیل چې د دې خبرو څهٔ

مطلب شته. زمونږ د فطرت خلاف داسې خبرې خامخا وی. هغه زما مخامخ کرسئ باندې ډير په سنجيدګئ سره کښيناستو.

هغۀ ووئيل چې خدائ پاک ولې د تيارې دا قوت په مونږ باندې راوستلو ته پريږدی. دا د دې د پاره چې هغه زمونږ امتحان واخلی. هغۀ يو مثال راکړو اؤ د زړې لوظنامې نه يې راته وفرمائيل چې څنګه خدائ پاک شيطان له اجازت ورکړو چې په حضرت ايوب[۱۸] حمله وکړی، اؤ څنګه خدائ پاک شيطان له اجازت ورکړو چې هغه په بيابان کښې عيسی مسيح وآزمائی. کين وفرمائيل چې دا دواړه آزميښتونه وو. هغۀ دا هم ووئيل چې هر ځل کله چې شيطان په چا باندې حمله کړې ده نو هغۀ ځکه شيطان له شکست ورکړے دے چې هغۀ په خدائ پاک ايمان لرلو. ما ته هغه تجربه هم راياده شوه کومه چې زما د بپتسمې اخستلو نه دوه شپې مخکښې ما ته راپيښه شوې وه. په قلاره قلاره د ازدکړې سلسله جاری وه. زۀ د مسترِ اولډ ډيره زياته شکر ګزاره يم چې هغۀ ما له دا تعليم راکړو چې خدائ پاک ما ته د يواځې اوسيدو سبق ښائی. اؤ دې سره ما ته سکون اؤ تسلی ملاؤ شوه.

زما د خاندان له اړخ دا امکان وو چې تعلق به بالکل ختم شی. خو زۀ په يو بل خاندان کښې پاتې کيدم، کوم چې زما مدد ګار وو.

په واه کښې زما جرړې کمزورې کيدې اؤ په نوی روحانی ښار کښې زما جرړې مضبوطيدې.

د دې آزميښتونو د برداشت کولو په وجه مالک خدائ پاک په قلاره قلاره زهٔ يو داسې ځائ ته راوستلم چرته چې ما له په مکمل طور باندې په هغهٔ يقين اؤ اعتماد کول وو.

# یوولسم باب

## " بدلیدونکی اړخونه "

د اتوار په ورځ د عبادت په دوران کښې ما مسټر اولډ اؤ د هغۀ ښځه ولیدل چې ډیر په سنجیدګئ سره ناست وو نو ما ترې نه تپوس وکړو چې تاسو دومره سنجیده ولې یئ. مسټر اولډ راته وفرمائیل چې هغوئ د یو کال د پاره خپل ملک ته واپس ځی. زما ړومبے رد عمل بې قراری وه. زۀ به د دوئ نه بغیر څنګه ژوند تیروم. بې شکه چې مسټر مچل اؤ د هغۀ ښځه به دلته کښې وی. خو دا دواړه کورنئ زما د پاره د حوصلې سبب وو. د مچل د خاندان په وسیله ما عیسی مسیح پیژندلے وو. مسټر اولډ اؤ د هغۀ ښځې ما سره ډیر ژور تعلق ساتلے وو. آیا دا د دې دواړو خاندانونو د جدایئ شروع خو نۀ وه؟

د اولډ ښځې زما د زړۀ حالت پیژندلو، هغه زما طرف ته راغله اؤ زما لاس یې ونیولو اؤ وې وئیل" زما خورې خورې دا حقیقت هیڅ کله هم مۀ هیروه چې د عیسی مسیح نه علاوه ټول رشته دار اؤ عزیزان به په یو نه یو ځائ کښې د یو بل نه خامخا جدا کیږی."

مسټر اولډ هم زما خوا ته راغے. هغۀ ووئيل " بلقيس! بغير د څۀ مقصد نه خدائ پاک تا هيڅ کله هم د خپل ځائ نه نۀ لرې کوی. په دې وجه تۀ په تکليف کښې هم د خوشحاله ژوند تيرولو شروع کولې شې. " د اولډ مچل اؤ زمونږ د يو ځائ پاتې کيدو صرف يو څو هفتې پاتې وې. د هغوئ د تلو ورځ رانزدې کيده. د هغوئ د جدايئ د احساس ختمولو هر يو کوشش مې وکړو خو ناکامه شو. اؤ کله چې د هغوئ د تلو په ورځ زۀ د هغوئ کور ته لاړم نو د غم اؤ د زړۀ د بوج د پټولو کوشش مې وکړو خو په دې کښې ناکامه شوم.

مونږ په جرأت سره د خدائ په آمان وئيلو کوشش وکړو. خو زمونږ په زړونو کښې يو درد وو. کله چې مونږ د سامان نه ډک ګاډے په سړک روان وليدو نو داسې ښکاريدل چې ژوند به هيڅ کله هم داسې ښکلې نۀ وی. په هغه ورځ کله چې زۀ د خپل کور په طرف خپل ګاډی کښې راروانه ووم، نو زۀ په دې عجيبه بوج اؤ دباؤ کښې راګيره ووم. داسې ښکاريدل چې په دې مخالفه معاشره کښې زۀ يوائې پاتې شوم. دا خيالونه اؤ سوچونو د تهوقو په شان وو، ځکه چې مچل به په هر صورت کښې ما سره وو.

يوه ورځ سحر دې بدلې شوې سلسلې زما د توقعو نه خلاف يو نوې لار اختيار کړه. د مسټر اولډ د تلو نه يو څو هفتې وروستو ډاکټر دانی ايل بخش ما ته ټيليفون وکړو اؤ وې وئيل چې هغه اؤ

ډاکټر استېينلې د يوې ډلې رهنمائي کوی چې نوم يې والډ ويژن دے، اؤ د دې هيډ کواټر د امريکې په رياست کيليفورنيا کښې دے. هغوئ ما سره ملاويدل غوښتل.

ما کله هم د دې تنظيم په هکله نۀ وو آؤريدلی. خو زما د کور دروازې د هر يو کس د پاره کولاؤ وې. تر دې پورې چې د هغه خلقو د پاره هم څوک چې به صرف د دې کتلو د پاره راتلل چې يوه مسلمانه کومه چې مسيحی شی نو هغه څنګه ښکاری.

يو څو ورځې پس هغوئ دواړه راغلل. کله چې مونږ ډوډئ بس کړه نو ډاکټر استېينلې د خبرو شروع وکړه. ما ته محسوس شول چې هغه زما بدلون سره سره زما د کورنئ په بدلون کښې هم دلچسپی اخلی. کله چې مونږ چائ څښکله نو هغه د خپل مطلب خبره شروع کړه. ډاکټر استېينلې تپوس وکړو ميډم شيخ! آيا د خدائ پاک د ګواهئ د پاره تۀ سنګاپور ته تلے شې. " سنګاپور"؟

ډاکټر بلی ګرام د يوې لويې غونډې بندوبست کړے دے اؤ د دې غونډې يعنی د دې کانفرنس عنوان دے، " مسيحيان د ايشيا په لټون کښې." دا کانفرنس به د ايشيا د ټولو عيسايانو د پاره وی. ستا ګواهی به زمونږ ټولو د پاره د حرکت يعنی د جذبې رابيدارولو سبب وی. دا صحيح نۀ ښکاری. ځکه چې د دنيا نورو حصو ته د تلو

په ځای په واه کښې هم ډیر کارونه دی. ما ووئیل، "ټیک ده، زۀ به د دې د پاره دعا کوم."

ډاکټر استېینلے وفرمائیل "تاسو خامخا دعا وکړئ." بیا لږ ساعت پس هغوئ رخصت شول. د ډاکټر استېینلے د رخصتیدو نه ډیر وخت پس زۀ په برآنډه کښې ناسته ووم اؤ د دې دعوت اؤ د دعا کولو په وعده مې سوچ کولو. زۀ په دې سوچونو کښې ووم چې د موقعې نه فائده واخلم اؤ لاړه شم یا بالکل نۀ ځم. ناڅاپی زما په ذهن کښې یو سوچ راغلو.

بې شکه زما د پاسپورټ معیاد په ختمیدو وو. کۀ چرې زۀ سنګاپور ته ځم نو بیا ما له پاسپورټ نوے کول پکار دی. په هغه وخت کښې په پاکستان کښې د پاسپورټ جوړولو اؤ نوی کولو ډیر تکلیف وو. ځنې کسانو خپل پاسپورټونه د نوی کولو د پاره ولیږل خو هغه واپس را نۀ غلل. ولې نه داسې قسمه حالات د خدائ پاک آواز خلقو ته د رسولو د پاره استعمال کړم؟ کۀ چرې هغه غواړی چې زۀ لاړه شم نو هغه به د دې پاسپورټ حفاظت کوی. هم په دغه ورځ د غرمې نه پس ما د دې د پاره ضروری فارمونه ډک کړل اؤ ومې لیږل. زما یقین وو چې پاسپورټ به ما ته ډیر زر را واپس شی.

یوه هفته وروستو زما نوے شوے پاسپورټ واپس ما له راغلو. یو څو میاشتې پس ما محمود ته د خدائ په آمان ووئیل اؤ د لار په لوری روانه شوم. کراچئ ته د تلو نه مخکښې مې د خپل زوی خالد سره مختصر ملاقات وکړو. د کراچئ نه سنګاپور ته به په جهاز کښې تلم. تقریبا یو نیم کال شوے وو چې ما مالک خدائ پیژندلے وو. خو بیا هم خالد زما د باقی خاندان په شان زما مسیحی کیدو له خاص اهمیت نهٔ ورکولو. زما په زړهٔ کښې دا شک راغلو چې هغهٔ دا سوچ کولو چې د اتهٔ څلویښتو کالو په عمر کښې د خپل ملک نه تلل ډیر عجیبه ښکاریدل. خو د خپلې مور د عزت د خاطره هغهٔ هیڅ هم ونهٔ وئیل اؤ زمونږ ملاقات ډیر ښکلے وشو.

بیا وروستو چې څنګه زهٔ په جهاز کښې کښیناستم نو ما سوچ وکړو چې کوم کار د پاره زهٔ ځم، نو د دې په نظر کښې د خالد سوچ صحیح وو. آخر دا زهٔ څهٔ کوم چې د سنګاپور په جهاز کښې کښینم؟

په دې جهاز کښې ډیرو مسیحیانو ګیتونه وئیل اؤ د خدائ پاک تعریف یې کولو. زما د پاره دا ټول هر څهٔ نوی وو. اؤ زهٔ د دوئ دې خوشحالئ سره شرمنده ووم. ځکه چې ما ته دا حقیقی خوشحالی نهٔ ښکاریده. داسې ښکاریدل چې زما دا دوره د دې ژوند اړخ ته ړومبې قدم وو، کوم چې به زهٔ په راتلونکی وخت کښې تیروم.

ما خپل ځان سره ووئیل، اے مالکه خدایه! زۀ د دې جوګه نۀ یم چې دومره لوئ کار سر ته ورسوم. په واه کښې چې ما خپل مسیحی کردار ادا کولو نو زۀ په آرام اؤ سکون کښې ووم. زما د پاره عیسائیت یو ذاتی خوشحالی وه، کومه چې زۀ په خپله مرضئ نورو سره شریکولې شم. زما دا خیال نۀ وو خوښ چې په سوونو یا د زرګونو خلقو په مینځ کښې د دې خوشحالئ ډنډوره وکړم.

کله چې جهاز په هوا کښې والواتو نو ما په کړکئ کښې وکتل چې ټول هر څۀ په دهند اؤ تیارۀ کښې وروستو پاتې شول. حالانکه ما ته معلومه وه چې یو څو ورځو کښې به زۀ واپس راځم، خو بیا هم څۀ څیز ما له خبردارے راکولو چې دا حقیقت دے چې دا صرف شروع ده. اګرکه زۀ به په جسمانی طور خپل کور ته واپس خو راشم خو په یو بله طریقه به کله هم واپس را نۀ شم، په جهاز کښې د عیسایانو دا ډله زما کور وو.

د سنګاپور د ائیر پورټ نه مونږ نیغ د کانفرنس ځائ ته لاړو. جلسه شروع شوې وه. اؤ ناڅاپی بیا ډیرې په پریشانئ سره ما محسوس کړل چې د عیسایانو په دې ډله کښې زما رویه مختلفه وه.

د کانفرنس په ځائ کښې په زرګونو سړی اؤ ښځې وې. ما کله هم د خلقو دومره لویه غونډه نۀ وه لیدلې. کله چې زۀ هال ته داخله شوم نو هر یو کس دا ګیت وئیلو، "تۀ عظیم یې". ما د خدائ پاک د روح القدس حضوری نا آشنا طریقې سره محسوس کړه. د خوشحالئ نه زما د سترګو نه اوښکې روانې وې. ما د خلقو دومره لویه ډله کله هم نۀ وه لیدلې چې د خدائ پاک تعریف اؤ ثنا صفت یې کول. زما د پاره دا ډیره عجیبه اجتماع وه. د ډیرو ملکونو خلق د خدائ پاک په تعریف کولو کښې لګیا وو.

دا ماحول په جهاز کښې د ناستو خلقو په نسبت مختلف وو. هغه وخت ما ته معلومه شوه چې په جهاز کښې زما ملګری د دوئ نه مختلف وو. کیدے شی هغوئ ویریدلی وو. د نوی ځائ په وجه یا کیدے شی د سفر نه ویریدل، هغوئ په خپلو کښې داسې خبرې کولې چې په هغې کښې د روح تعریف نۀ وو.

خو دلته په کانفرنس کښې حالات بدل وو. د عامو خبرو اترو په ځائ د خدائ پاک د حمد و ثناء شروع شوې وه. کۀ چرې زما د رابللو مطلب داسې قسمه خلقو سره شاملیدل دی نو زما قبول دی. د یوې خبرې په وجه زۀ لاتر اوسه پورې پریشانه ووم، اؤ هغه دا چې آیا واقعی زۀ به د دې زرګونو خلقو په وړاندې خبرې کوم. په واه کښې چې کوم خلق ما په ذاتی طور پیژندل نو هغوئ ته خپلې

تجربې اؤ حالات بیانول بیله خبره وه. خو دلته؟ نا آشنا خلقو هر اړخ ته ما ته کتل. ما خپل ځان بالکل محفوظ نۀ محسوسولو.

زۀ زر هوټل ته لاړم اؤ هلته مې سامان کیښودو. کله چې مې په کړکۍ کښې بهر نظر وکړو نو ما ته معلومه شوه چې سنګاپور، د لندن اؤ پیرس نه څومره بدل دے. په سړکونو باندې د ګاډو رش اؤ په بازار کښې د خلقو شور سره زۀ ډیره بې آرامه ووم، نو ما سمدستی د کړکۍ پرده خوره کړه. اؤ په کوټه کښې بل اړخ ته کښیناستم، اؤ خپلې بې قرارۍ له مې دلاسه ورکوله. ما په چغو سره ووئیل، " اے خدایه ستا دلاسه ورکوؤنکې روح چرته دے؟ " ناڅاپی ما ته هغه واقعه رایاده شوه کله چې به وړه ووم اؤ خپل پلار سره د واه په منډایۍ کښې ګرځیدم. پلار ما ته وئیلی وو چې زۀ د هغۀ نه جدا نۀ شم بلکه هغۀ سره خوا ته اوسم، خو زۀ به همیشه د هغۀ نه لرې تلم. یوه ورځ داسې وشول چې ما یو ډیر ښکلے ګل ولیدو نو زۀ د هغه ګل په طرف روانه شوم.

ناڅاپه ما ته معلومه شوه چې زما پلار ما سره نشته. د هلې ګلې په حالت کښې ما خپل پلار له آوازونه ورکول شروع کړل. ما ووئیل، " داجی! راشه زما خوا ته بیا به زۀ کله هم ستا نه لرې نۀ ځم." زما چغو سره زما پلار په هغه ګړه کښې په منډه راغلو اؤ زما

مخې ته ودریدو. اؤ یو ځل بیا زۀ خپل پلار سره ووم. اؤ بیا زما هم دا خواهش وو چې هغۀ سره یم.

کله چې زۀ په هوټل کښې ووم نو ما ته معلومه شوه چې ما بیا خپل آسمانی پلار پریښودے دے. بغیر د څۀ وجې نه د فکرمند کیدو په سبب زۀ د هغۀ د آرام ورکوونکې حضورئ نه لرې شوې ووم. ما د خپل سوچ اؤ فکر نه توبه وویستله اؤ د خپل آسمانی پلار په تعلق کښې یو ځل بیا مطمئینه شوم.

ما ووئیل، " اے پلاره! ستا شکر دے". مهربانی وکړه خدایه ما معاف کړه چې زۀ ستا د حضورئ نه لرې لاړم. تۀ دلته کښې یې. تۀ په دې کوټه کښې موجود یې. اؤ زۀ محفوظه یم. لږه شیبه وروستو په هوټل کښې ما داسې آواز واؤریدو لکه چې ما پیژندلو. اؤ دا ډاکټر استیپنلې وو.

میډم شیخ! تۀ د خپلې ګواهئ بیانولو د پاره تیاره یې؟ ما هغۀ له تسلی ورکړه چې خدائ پاک ما سره دے. لږ وخت د پاره زما طرف ته کتلو نه پس داسې ښکاریدل چې سمدستی هغه مطمئین شو. اؤ وې وئیل، ډیر ښۀ. صبا سحر بۀ تۀ خپله ګواهی بیانوې.

ډاکټر استیپنلې زۀ ډیره ښۀ طریقې سره پیژندلې ووم. بله ورځ سحر زۀ د خدائ پاک په مدد سره د زرګونو خلقو په وړاندې خپلې

ګواهۍ بیانولو د پاره ولاړه ووم. د ګواهۍ بیانولو په وخت ما د خدایٔ پاک موجودګی محسوس کړه، دا ربښتیا ده چې دا خبرې ما نهٔ کولې، بلکه خدایٔ پاک دا کولې. زما د ګواهۍ نه خلق ډیر زیات متاثره شول اؤ ډیرو خلقو سره زما پیژندګلو وشوه، چې په کښې ډاکټر کرسټی هم شامل وو. چا چې زما په راتلونکی ژوند کښې ډیر خاص کردار ادا کړو. هغه یو ډیر حلیم اؤ عاجزه انسان وو اؤ په کابل کښې د بهر ملکی خلقو پاسبان وو. کله چې مونږ د هغهٔ د کار په حقله خبرې کولې نو مونږ د خدایٔ پاک حضورې په دې کار کښې محسوس کړه.

کله چې کانفرنس ختم شو نو زهٔ د واه په طرف روانه شوم. ما محسوس کړل چې زما دا سفر اؤ دا دوره د خدایٔ پاک د مرضۍ په مطابق وه. ما د خپل راتلونکی کار د پاره ډیر څهٔ ازده کړی وو. کله کله د خپل پلار نیکهٔ کور پریښودلو اؤ داسې دورو اؤ سفر باندې تلو سره ما ته هیڅ قسمه اعتراض نهٔ وو. ما ته د دې خبرې پته نهٔ وه چې د بدلیدونکو حالاتو لارې مختلفې وی.

# دولسم باب

## "د کروندې وخت"

د جدايئ دويم قدم د دې خراب خبر په شکل کښې راغلو چې مسټر مچل هم خپل ملک ته په چټهئ روان دے. اؤ څۀ موده پس به هغه بيا پاکستان ته راځی.

کله چې زۀ د سنګاپور نه راغلم نو دا د هغې نه د يو کال وروستو خبره ده چې زۀ په خپله علاقه کښې د ځنې عيسايانو ورونړو خويندو سره د مسټر مچل په کور کښې د ميلمنو په کوټه کښې ناسته وم. دا ملاقات د مسټر مچل اؤ د هغۀ د ښځې د رخصتيدو نه مخکښې آخری ملاقات وو.

ما ته دې کور ته په اول ځل راتلل رایاد شول. زۀ د يو لټونکی په حيثيت دلته راغلې ووم. دوئ دواړو زۀ د عيسی مسيح خوا ته راوستې ووم، اؤ زما د پاره به يې دعا ګانې کولې. زۀ په صحن کښې ولاړه ووم نو ما ووئيل، " آيا تاسو ته معلومه ده چې زۀ به ستاسو جدائی ډيره زياته محسوسوم". اؤ پته نشته چې بيا به مې کله تاسو سره د ملاقات نصيب وی.

د مچل ښځې وفرمائيل، " کيد ے شي چې خدائ پاک تا ته د دې نه بغير اوسيدل ښائي. بلقيس تر څو پورې چې مونږ دا زده نۀ کړو چې صرف د هغۀ په لاسونو کښې آرام وکړو، نو تر هغې پورې هغه هميشه مونږ ته ښودنه کوي. " د دې باوجود ما د دوئ جدائي نۀ خوښوله اؤ ما د مچل ښځې ته هم دا وفرمائيل. هغې صرف وخاندل اؤ وې وئيل چې د چا زړۀ غواړي چې د مور غيږ پريږدي. خو د دې نه مخکښې مهم شروع کيدونکے د ے. آخر د هغوئ د رخصتيدو وخت راغلو. اؤ مونږ يو بل سره تر غاړه وتلو اؤ بيا هغوئ لاړل. ما خپل ځان يواځې محسوسولو.

د اتوار د ورځې عبادت جاري وو. خو د دوئ په کښې ډير زيات کمے محسوسيدو. په عبادتونو کښې هغه جذبه اؤ خوشحالي نۀ وه.

بيا يوه ورځ د ميټنگ نه پس زما په ذهن کښې يو خيال راغلو، اؤ هغه دا چې بالکل د مسټر اولډ اؤ مسټر مچل په لاړ باندې تلل مونږ په غلطه خو نۀ يو؟ کۀ چرې په مونږ کښې د ژوند نوې اميد را پيدا نۀ شو نو زمونږ دا وړه ډله به ختمه شي. اؤ دې خيال کولو سره چې څۀ به کيږي زما زړۀ په درزيدو شو. دا به ډيره ښۀ خبره وي چې عامو خلقو له هم عبادت ته د راتلو دعوت ورکړے شي. ما د داسې قسمه عبادت په حقله سوچ وکړو چې په خپل کور

کښې يې شروع کړم، اؤ زما دا خيال اؤ سوچ ملګرو قبول کړو. په مختلفو طريقو سره مونږ خلقو له اطلاع ورکړه چې د هر يو اتوار په ورځ ماښام به زما په کور کښې د عيسايانو اجتماع وی.

کله چې ما د راتلونکو خلقو شمير وليدو نو زۀ حيرانه شوم. ډير کسان د راولپنډۍ نه راغلل، لکه څنګه چې زما اميد وو نو هم هغه شان عيسايان اؤ غير عيسايان خلق راغلل. اؤ زمونږ ورومبنۍ ډلې چې څومره ممکنه وه د هغوئ خدمت وکړو.

ډير زر په دې شريک ژوندون کښې د خوشحالۍ اؤ تازه والی احساس ښکاره شو. ذمه واری ډيره زياته وه. ما اؤ زما نورو ملګرو چا چې په دې ډله کښې د مشرئ حيثيت لرلو، د زړۀ د اخلاصه د خدائ پاک کلام لوستلو اؤ دعا ګانې مو غوښتې. د دې د پاره چې هسې نه مونږ چرته په څۀ طريقه د دې خلقو غلطه رهنمائی وکړو. ناڅاپی هغه وقفه په کومه کښې چې ما هيڅ نتيجه نۀ وه ليدلې تيره شوه. ما دا ليدل شروع کړل چې خلقو په حقيقت کښې په مالک عيسی مسيح ايمان راوړل شروع کړل. چا چې په مالک عيسی مسيح ايمان راوړو نو په هغوئ کښې د ټولو نه اولنۍ يوه کونډه ښځه وه. هغې ژړل اؤ خپل ټول بوج يې د مالک عيسی مسيح وړاندې کيښودو، اؤ بيا يې مالک خدائ له په خپل زړۀ کښې د راتلو دعوت ورکړو. د هغې په ژوند کښې ډير اهم بدلون راغلو. د

هغه غیر محفوظې اؤ د مایوسه کونډې ښځې نه د خدایٔ پاک یو نوې مخلوق جوړ شو چې یو نوې امید یې په خپل ژوند کښې لرلو. بیا لږه موده پس د ګاډو سمولو یو مستری په مالک عیسی مسیح ایمان راوړو. اؤ بیا یو کلرک خپل ژوند مالک خدایٔ ته وسپارلو اؤ د دې نه پس یو نوکر چې جارو به یې وهله، په مالک خدایٔ ایمان راوړو.

دا ټول هرڅۀ زما په کور کښې وشول. په حقیقت کښې دا ما خپل عزت ګڼلو. اګرکه زما په زړۀ کښې ویره وه چې څۀ وخت هم زما د خاندان له طرفه ما ته د دې جواب ملاویدے شی. خو لا تر اوسه پورې هیچا هم شکایت نۀ وو کړے. داسې ښکاریدل چې څۀ کیدل نو زما خاندان هغه قبلول نۀ غوښتل. یوه ورځ زما پښه په خښته وښویده اؤ لږه شان زخمی شوه. زما د خاندان نه هیڅوک هم را نۀ غلل. هغوئ په ټیلیفون باندې زما تپوس وکړو. زۀ په دې باندې خوشحاله ووم. زما د خاندان له طرفه زما د مسیحی کیدو په مخالفت کښې کمے راتلو. کله کله به ما ته د خپل باطن نه دا آواز راتلو چې زۀ لا تر اوسه پورې داسې ښځه یم چې زمکه، باغ اؤ جائیداد به مې خپل شکست ګڼلو.

زما د کور په صحن کښې یوه لار د نوکرانو کوارټرو طرف ته تله. د لارې دواړو اړخونو ته د بیرو ونې وې. کله چې هغوئ په ما

کښې بدلون ولیدلو نو د ګرمۍ په موسم کښې به ماشومان په خپله راتلل اؤ د دې ونو نه به یې میوې شوکولې. اول خو به دا مداخلت په ما ډیر بد لږیدو. خو کله چې د ماشومانو شور زما په آرام کولو کښې خلل جوړ شو نو ما مالی له حکم ورکړو چې دا ماشومان وزغلوه. اؤ په دغه ورځ ما مالی له دا حکم هم ورکړو چې دا ونې پرې کړه. ځکه چې بانس نۀ وی نو شپیلۍ به نۀ غږیږی، یعنی چې ونې نۀ وی نو ماشومان به نۀ راځی. د ونو د بربادۍ سره ما ته دا معلومه شوه چې دا ما څۀ وکړل. د ونو ختمیدو سره د خدائ پاک اطمینان اؤ د هغۀ حضوری هم ختمیده.

تر ډیره وخته پورې زۀ په کړکۍ کښې ولاړه ووم اؤ دې خالی ځائ ته مې نیغ نیغ کتل، چرته چې د بیرو ونې وې. زما زړۀ ډیر زیات غوښتل چې افسوس هغه ونې لاتر اوسه پورې هلته کښې وې اؤ ما د ماشومانو شور برداشت کولو. ما ته معلومه شوه چې پخوانۍ بلقیس شیخ څنګه ده.

یو ځل بیا ما ته معلومه شوه چې زۀ په خپل ذات کښې په خپله نۀ شم بدلیدے. دا صرف د مالک خدائ پاک په وسیله اؤ د هغۀ د فضل په وسیله ممکن دی، چې په ما کښې بدلون راشی.

ما دعا وکړه چې اے خدایه مهربانی وکړه اؤ ما یو ځل بیا خپلې بارګاه ته راوله. صرف یو کار پاتې وو. د میوو نه ډکې ځانګې زما د کور په باغیچه کښې خورې ورې پرتې وې. بله ورځ ما د کلی ماشومانو له اجازت ورکړو چې هغوئ راشی اؤ د دې میوو نه مزه واخلی، نو هغوئ ډیر په خوشحالئ سره راغلل. زما یقین دے چې هغوئ به احتیاط کړے وی خو بیا یې هم ګلونه میده کړل اؤ د ګلونو ځانګې ماتې شوې.

یوه ورځ د غرمې نه پس د ماشومانو د تلو نه وروستو کله چې ما د نقصان جائزه اخستله نو ما ووئیل، "اے مالکه خدایه ما ته معلومه ده چې تۀ څۀ کوې. کیدے شی چې دا باغیچه ما ته ستا نه ډیره ګرانه وی. دا ستا باغیچه ده. زۀ ډیرې خوشحالئ سره دا تا له درکوم. زۀ ستا شکر کوم چې تا زۀ د خپل آرام ورکوونکی ذات طرف راوستلم."

زما مالک خدائ پاک سره یو ځل بیا تعلق قائم شو. په نومبر کښې یوه ورځ د غرمې نه پس ما آرام کولو چې محمود زما کوټې ته راغلو. اوس هغه لوئیدو. د هغۀ د مخ نه دا معلومیده چې هغۀ نه به یو ډیر ښکلے ځوان جوړیږی. هغۀ ما ته دا وئیل چې بهر یوه ښځه ما سره ملاویدل غواړی. اؤ د هغې په غیږ کښې یو ماشوم دے.

ما خپل سر اوچت کړو اؤ ريشم اؤ نورجهان له چې مې کوم هدايات ورکړی وو نو هغه مې هير کړل اؤ محمود ته مې ووئيل، "محموده!" اوس تۀ د اتو کالو يې. تا ته پته نشته څۀ چې په دې وخت زۀ چا سره ملاويدل نۀ غواړم. محمود د کوټې نه بهر تلے وو چې زما په ذهن کښې دا خيال راغلو چې په داسې وخت کښې به مالک عيسی مسيح څۀ کول، بې شکه هغه به دې ښځې خوا ته تلو اؤ د دې مدد به يې کولو. ما محمود له آواز ورکړو، هغه ډير لرې نۀ وو تلے، هغه راغے اؤ په دروازه کښې ودريدو. ما ووئيل محموده! هغه ښځه څۀ غواړی؟ محمود ووئيل زما په خيال د هغې زوئ ناجوړه دے. اؤ هغه ما سره کوټې ته راغلو. ما د هغۀ په سترګو کښې هغه مينه ليدلې شوه کومه چې هغۀ د هغه ښځې اؤ د هغې د زوئ د پاره لرله. ما ووئيل چې ټيک ده هغه د ميلمنو په کوټه کښې کښينوه زۀ درځم.

محمود لاړو اؤ هغه يې د ميلمنو په کوټه کښې کښينوله. هغه ښځې شليدلې جامې اغوستې وې. د لرې نه د ماشوم نيا ښکاريده. د هغې حالت د رحم کولو قابل وو. کله چې هغې سر اوچت کړو اؤ ما ته يې وکتل نو هغه وخت ما ته معلومه شوه چې هغه ځوانه جينئ ده. زما زړۀ خفه شو اؤ ما هغې نه تپوس وکړو چې زۀ ستا څۀ مدد کولے شم؟

ما ستا په باره کښې په خپل کلی کښې واؤریدل اؤ زۀ پیاده دلته راغلم. هغه چې د کوم ځائ نه راغلې وه نو هغه ځائ تقریبا دولس میله فاصله کښې وو. په دې وجه هغه غریبه ډیره ستړې ښکاریده. ما نوکر ته ووئیل چې چائ اؤ د خوراک د پاره څۀ راوړه. د هغې ماشوم د درې کالو وو خو بیا یې هم د مور شودې څښکلې. د هغه ماشوم په حالت زما زړۀ ډیر خفه شو. ما د دعا کولو د پاره د ماشوم په تندی لاس کیښودو چې ډیر ګرم اؤ وچ وو.

اؤ کله چې ما د هغه ماشوم د مور په سر د دعا د پاره لاس کیښودو نو ما په خپلو خیالونو کښې محسوس کړل چې زما په خاندان کښې چرې هم داسې نۀ دی شوی. په خپل زوړ ژوند کښې به زۀ د دې ښځې نه ډیره لرې تښتیدم. زما زړۀ د دې دردناکې مور اؤ د هغې ماشوم د پاره ډیر خفه شو.

اؤ ما د مالک عیسی مسیح په نوم مې د هغۀ د شفاء د پاره دعا وکړه. کله چې خدمت ګاره راغله نو ما هغې ته ووئیل چې دې د پاره د وړامنو څۀ ګولئ راوړه. زمونږ ملاقات یو ګینټې پورې وو. دې مور ما ته د خپل خاندانی ژوند په باره کښې ووئیل چې څنګه په یو حادثه کښې د هغې خاوند معذوره شو. اؤ د دې نوی پیدا شوی ماشوم د پاره کافی خوراک نۀ وو، نو په دې وجه هغه لا تر اوسه پورې هغه ماشوم له خپلې شودې ورکوی. ځکه چې دا یوه

ارزانه اؤ آسانه طريقه وه. کله چې هغه روانيده نو ما هغې ته اشاره وکړه چې ودريږه. ما هغې ته ووئيل چې زۀ د دې خبرې بندوبست کول غواړم چې ستا اؤ ستا د دې ماشوم په ښۀ طريقې سره پرورش وشی، دې خبرې سره پخوانئ بلقيس بې قراره شوه.

کۀ چرې دا خبره په ټول واه کښې خوره شوه چې بلقيس څومره رحم کوونکې ده نو څۀ به کيږی؟ ولې ضرورت مند ، رنځوران، اؤ دردمند خلق به بيا زما کور ته نۀ راجمع کيږی څۀ؟

زما په زړۀ کښې دا ټولې خبرې راتلې خو بيا هم ما غوښتل چې زۀ د دې مدد وکړم اؤ د دې نه علاوه ما سره بله يوه لار هم نۀ وه. کۀ د دې هر څۀ مطلب وی، چې يو ځل ما خپل ځان اؤ خپل جائيداد ورکړے دے نو کۀ بيا هر څۀ وی بس.

ما هغې ته ووئيل ستا خاندان ته د توجو ضرورت دے. زۀ تاسو ټول هسپتال ته بوځم. اؤ ستاسو د خوراک هم بندوبست پکار دے. کۀ چرې ستا خاوند ته بيا هم کار ملاؤ نۀ شی نو ما خبر کړه. د دې نه پس زمونږ ملاقات ونۀ شو. ما په هسپتال کښې د پيسو ادا کولو بندوبست وکړو. اؤ په دې انتظار کښې ووم چې هغه ښځه به بيا راځی. خو هغه ښځه بيا را نۀ غله. زۀ لږه شان خفه ووم. کله چې ما د هغې په باره کښې د نوکرانو نه پوښتنه وکړه نو د معمول په

مطابق هغوئ ته معلومه وه. هغه ښځه اؤ د هغې زوئ اؤ خاوند هسپتال ته تلی وو. اؤ اوس هغوئ ښۀ وو. خاوند ته يې کار ملاؤ شوے وو. اول خو ما د خپلې انا په خاطر سوچ وکړو چې دا څومره ناشکره ښځه ده. خو خدائ پاک زۀ د دې عمل نه منې کړم. چې آيا د دې د پاره تا د هغې مدد کړې وو؟ يا د دې د پاره تا د هغې مدد کړے وو چې هغه ستا شکر ګزاری وکړی.

بې شکه زۀ په غلطه ووم. د دې ښځې خيال ما نۀ وو ساتلے بلکه خدائ پاک ساتلے وو. بيا ما د خدائ پاک نه معافی وغوښته اؤ هغۀ ته مې خواست وکړو چې هغه ما بيا کله هم په داسې قسمه جال کښې راګيره نۀ کړی. ما ساه واخسته اؤ ومې وئيل، " اے خدايه ځو ځله تا زۀ د را غورزيدو نه بچ کړم".

په هغه ورځو کښې داسې ښکاريدل چې د خدائ پاک خوا ته د تلو په کوشش کښې زۀ څومره ناکامه شوې يم. زما په زړۀ کښې دا خيال راغلو چې آيا مسيحی ژوند داسې تيريږی. د دې سوالونو جوابونو راکولو د پاره ما سره خوا ته هيڅوک هم نۀ وو، نو په دې وجه ما دا سوالونه په خپل زړۀ کښې پټ کيښودل.

يوه ورځ سحر کله چې نورجهان زما د لامبلو د پاره بندوبست کولو نو ما د سور رنګ يوه مرغئ وليده چې زما د کوټې په کړکئ

کښې کښېناسته اؤ ما ووئيل، وګوره خدائ پاک نن سحر څۀ راوليږل.

نورجهان زما ويښتۀ ګومنځول، په کوټه کښې خاموشي وه اؤ د دې په وجه زۀ لږه شان حيرانه ووم. ځکه چې عام طور باندې نورجهان به ډيرې زياتې خبرې کولې. بيا د شرميدو په انداز کښې هغې ووئيل بيګم صاحبې! آيا تا ته معلومه ده چې کله تۀ د خدائ پاک په باره کښې خبرې شروع کړې، نو ستا په مخ کښې يو بدلون راشي؟

په دغه ورځ د غرمې نه پس ما په اسلام آباد کښې د نورو بائيبلو د پاره ووئيل. دا يو خاص قسم بائيبلې وې چې د ماشومانو د پاره جوړې کړې شوې وې. ما د محمود نه تپوس کړے وو چې د دې بائبل څۀ فائده ده. ما دا هم کتلی وو چې د تصويرونو په شکل کښې دا بيان شوے کتاب به کله کله نوکرانو هم ډير په شوق سره کتلو. کله چې دا بائبلې راغلې نو ما يو نورجهان له هم ورکړو. ما ته څومره خوشحالی ملاؤ شوه کله چې هغې ووئيل چې بيګم صاحبې! زۀ تا ته يوه خبره کول غواړم. آيا ستا ياد دی چې تا اکثر مونږ ته دا وئيلی دی چې کۀ چرې مونږ د عيسی مسيح پيژندل غواړو نو مونږ له پکار دی چې هغۀ له خپل زړۀ ته د راتلو دعوت ورکړو؟ دې وئيلو سره د هغې د سترګو نه اوښکې روانې شوې.

بیګم صاحبې! ما هم داسې وکړل اؤ هغه زما زړۀ ته راغلې دے. ما په خپل ټول ژوند کښې داسې مینه کله هم نۀ ده محسوس کړې. زما په خپلو غوږونو باور نۀ راتلو. ما نورجهان نه خپل لاسونه چاپیره کړل، اؤ مونږ لږ ساعت د پاره د خوشحالئ نه تاویدو.

نورجهان تا ما ته داسې خبر واؤرولو چې په هغې یقین کول ګران دی. اوس مونږ درې عیسایان یو، تۀ، ریشم اؤ زۀ. مونږ له د دې د پاره خوشحالی کول پکار دی. بیا ریشم، نورجهان اؤ ما یو ځائ چائ وڅښکله. دا ړومبې ځل نۀ وو چې ما د نوکرانو سره یوځائ چائ وڅښکله. خو د دې نه مخکښې زۀ په خپل زړۀ کښې لږه شان فکرمنده شوم. کله چې مونږ درې واړه چائیو ته ناست وو اؤ خبرې مو کولې اؤ کیک مو خوړلو، نو یو ځل بیا زما انا را اوچته شوه. زما خاندان اؤ رشته داران به ولې دا خبره خوروی. هغوئ به څومره حیران وی. ما په خپلو زړو طور طریقو غور وکړو. کله چې به ما سخت حکم ورکولو اؤ د غصې د لاسه به لیونئ کیدم. کله چې به مې په کرسئ لږه شان خاوره ولیده یا به مې په اشفاس خانه کښې د نوکرانو تیزې تیزې خبرې واؤریدې نو دا به زما د غصې زیاتولو د پاره کافی وو. خدائ پاک یقینا زما په ژوند کښې کار کولو. اؤ ما ډیر په شکرګزارئ سره د هغۀ تعلق محسوسولو. د دې د پاره نه چې ما غوښتله چې یوه مقدسه اؤ پاکه هستی جوړه شم. خو ما دا ازده

کول چې زۀ څنګه په خپل ژوند کښې د خدائ پاک عزت وکړم. اؤ کله هم زما د رويې په وجه د هغۀ د نوم سپکاوے ونۀ شی. ما دا هم ازده کول چې د عيسی مسيح ګواهئ بيانولو د پاره عمل د لفظونو نه زيات اثر ښکاره کوی.

خو بيا د اتوار د ورځې د ماښام په عبادتونو کښې يوه عجيبه خبره زما د توجو مرکز جوړه شوه. نورجهان نۀ غوښتل چې د کلی په دې ګڼو خلقو کښې مونږ سره په عبادت کښې شامله شی. دا څومره عجيبه خبره وه. يوه ورځ کله چې هغې زما ويښتۀ ګومنځ کړل، نو ما هغې ته وفرمائيل چې لږ ساعت ايساره شه، ما هغې نه تپوس وکړو چې آيا دې راتلونکی اتوار له تۀ مونږ سره په عبادت کښې شامليدل غواړې؟ نورجهان لږه شان وويريده اؤ د هغې رنګ زيړ شو. بس زۀ تا ته نۀ شم وئيلې چې ما سره څۀ شوی دی اؤ زۀ عبادت له هم نۀ شم تلے. زما خاوند ډير کلک مسلمان دے. زمونږ څلور بچی دی، کۀ چرې زۀ دا ووايم چې زۀ مسيحی شوې يم نو هغوئ به ما د کور نه وباسی. ما هغې ته ووئيل چې تا له خو د خپل ايمان اقرار کول پکار دی، اؤ دا لازمی خبره ده.

نورجهان د خفګان په حالت کښې ما ته وکتل اؤ بيا يې خپل ځان سره څۀ ووئيل چې په هغې باندې زۀ پوهه نۀ شوم اؤ د کوټې نه بهر لاړه. کيدے شی هغې دا وئيل چې داسې نۀ شی کيدے.

يو څو ورځې پس زۀ مشرې مدر روت سره ملاويدو د پاره لاړم، د چا سره چې په هولی فيملی کښې زما ملاقات شوے وو. کله چې به ما دې سره خبرې کولې نو ما ته به هميشه ډيره خوشحالی ملاويده. هغې ما ته وفرمائيل چې په پاکستان کښې څومره داسې عيسان دی چې خلقو ته يې پته نشته. پټ عيسايان! ما هغې ته ووئيل، زۀ پوهه نۀ شوم چې دا څنګه ممکنه ده. کۀ چرې تۀ مسيحې يې نو تۀ به د دې ذکر ولې نۀ کوې! مدر روت ووئيل، "لږ نيکوديمس ته وګوره." "نيکوديمس!"

د يوحنا د انجيل شريف د دريم باب نه دا معلوميږی چې هغه يو پټ عيسائی وو. بيا ما خپل بائبل مقدس کولاؤ کړو اؤ لوستل مې شروع کړل، چې څنګه دا فريسی د شپې په وخت مالک عيسی مسيح خوا ته د هغۀ د بادشاهۍ په باره کښې د پيژندلو د پاره راغلو. ما اکثر دا دلچسپه باب لوستلې وو، خو تر دغه وخته پورې ما ته نۀ وه معلومه چې نيکوديمس يو پټ عيسائی وو. هغې ووئيل کيدے شی چې بيا وروستو هغۀ د خپل ايمان په حقله خلقو ته وئيلی وی. خو تر کومې پورې چې کلام مقدس زمونږ رهنمائی کوی نو هغۀ په دې خبره کښې احتياط کولو چې د هغۀ فريسی ملګرو ته د هغۀ د ايمان په باره کښې معلومه نۀ شی.

بله ورځ ما نورجهان خپلې کوټې ته راوغوښتله، اؤ د نیکودیمس په حقله هغه آیت مې د هغې په وړاندې ولوستلو. ما ووئیل، " ما ته افسوس دے چې ما تۀ بې آرامه کړې". کله چې وخت راشی نو خدائ پاک به تاته ووائی چې تۀ د خپل ایمان څرګندونه وکړه. د هغې مخ د خوشحالئ نه وځلیدو. بیا وروستو هغې ډیر په خوشحالئ سره خپل کارونه پوره کیدل ولیدل. ما خدائ پاک ته خواست وکړو چې زما امید دے چې ما صحیح خبره کړې ده زۀ په هیچا الزام نۀ شم لګولے.

یو څو ورځې پس ما ته معلومه شوه چې د دنیا په دې حصه کښې عیسائی کیدل څومره ګرانه خبره ده.

یوه ورځ د غرمې نه پس ټیلیفون راغلو. دا زما یو ترۀ وو، چې خاص طور باندې ما سره ډیر سخت وو. اګرکه زمونږ د تعلق په ختمیدو کښې لږه نرمی راغلې وه، خو بیا هم زما دې ترۀ ما سره خبرې قدرې نۀ وې کړې. په ټیلیفون باندې د هغۀ آواز ډیر تریخ وو. بلقیس!

"آؤ جی"

ما اؤریدلی دی چې تۀ نور خلق ګمراه کوې. تۀ هغوئ د رښتینی ایمان نه لرې کوې.

"کاکاجی دا خو د خلقو خپله مرضی ده".

ما دا خيال کولے شو چې د کاکاجی مخ د غصې د لاسه تک سور شو ځکه چې ما ته د هغهٔ د آواز نه پته لږېده. دا يوه بله خبره ده چې تهٔ داسې فيصلې کوې. خو دا يوه جدا خبره ده. چې نور خلق دې ستا پيروی وکړی. بلقيس تا له دا کار پرېښودل پکار دی.

کاکاجی زهٔ ستا د سوچ اؤ فکر قدر کوم. خو زهٔ تا ته دا خبره در يادوم چې تهٔ د خپل ژوند ذمه وار يې اؤ زهٔ د خپل ژوند.

بله ورځ کله چې زما ډرائيور زهٔ د ټونی سره ملاقات نه پس خپل کور ته واپس راوستم، نو کس په لاره ولاړ وو اؤ په دې کوشش کښې وو چې ګاډے ودروی. زما ډرائيور ته معلومه وه چې زهٔ اکثر خلق ځان سره ګاډی کښې کښينوم ځوک چې په لاره کښې ولاړ وی. خو دا ځل هغهٔ نهٔ غوښتل چې ګاډے ودروی. هغهٔ فيصله وکړه اؤ ما ته يې ووئيل بيګم صاحبې مهربانی وکړئ ما ته به نهٔ وايئ چې ګاډے ودروه. هغهٔ دا سړے بچ کړو اؤ ګاډے يې زر د هغهٔ نه مخکښې بوتلو. د ګاډی ټائيرونه د سړک جئ سره ولګيدل. زهٔ په سيټ کښې مخکښې پريوتم اؤ ما هغهٔ ته وفرمائيل، د دې نه ستا څهٔ مطلب دے. ستا دا خيال خو نهٔ دے چې هغه سړے شکمن کس وو؟ آؤ جی بيګم صاحبې!

هغه چپ وو اؤ زما د سوالونو په باوجود يې ما له هيڅ جواب را نۀ کړو. خو يوه هفته وروستو کله چې زۀ د غرمې نه پس خپلې کوټې ته د آرام کولو د پاره راغلم نو لږه شيبه وروستو زما يوه خدمت ګاره کوټې ته راغله. هغې دروازه بند کړه.

هغې په قلاره شان ووئيل، زما اميد دے چې تۀ به بد نۀ ګڼې. خو ما ته دا خبره ضروري ښکاري چې زۀ تا خبرداره کړم. پرون زما ورور په راولپنډۍ کښې يو جماعت کښې وو. د ځوانانو يوې ډلې د هغه نقصان په باره کښې خبرې کولې کوم چې ستا په وجه کيږي. هغوئ د څۀ کولو په باره کښې خبرې کولې. د دې جينۍ په آواز کښې ويره وه. هغې ووئيل، بيګم صاحبې! مونږ سره ستا فکر دے. مونږ سره ستا اؤ د دې هلک ويره ده. زما زړۀ وويريدو، اوس زما نمبر وو چې فکر وکړم، چې په دې ملک کښې په پټه مسيحي کيدل پکار دي يا نه. خاص طور باندې په دې خاندان کښې چې په کوم کښې سړي وو.

# دیارلسم باب

## "د دهمکیانو طوفان"

زما خلاف د دهمکیانو د رپورټ دوه میاشتې شوې وې. داسې څۀ خاص حادثه نۀ وه شوې. اؤ ما دا ګمان وکړو چې د خطرو رپورټونه بې بنیاده وو. څو کاله شوی وو چې ما عیسی مسیح قبول کړے وو. د کرسمس رسم رانزدې وو.

د خاندان نه ځنې خلق زما ملاقات د پاره راغلی وو، خو د کاکاجی له طرفه هغه ټیلیفون ما له یادګیرنه راکوله کوم باندې چې هغۀ ما له دهمکیانې راکړې وې، چې په خاندان کښې تریخ والے اؤ نفرت لا اوس هم شته. دا به ښۀ وی چې د خاندان خلق اؤ رشته داران میلمستیا د پاره راوبلم. چې معلومه شی چې تر کومې پورې دا خراب شوې تعلق بیا ټیک کیدے شی.

ما د میلمنو فهرست تیار کړو. ما ډیر په حفاظت سره هغه فهرست په خپل بائبل مقدس کښې کیښودو اؤ دا فیصله مې وکړه چې بله ورځ سحر به ټولو ته دعوت نامې ولیږم. نو کله چې بله ورځ سحر ما د بائبل مقدس نه هغه فهرست راغستلو اؤ بائبل مقدس

مې کولاۀ کړو نو زما په وړاندې دا حواله وه، په دې کښې ليکلی وو:

" هر کله چې تهٔ د غرمې يا ماښام د ډوډئ د پاره څوک راغواړې نو خپلو دوستانو، وروڼو، عزيزانو اۀ ماړو ګاونډيانو ته بلنه مهٔ ورکوه ځکه چې هغوئ به هم بيا تا ته بلنه درکړی اۀ بدل به دې خلاص کړی. خو هر کله چې تهٔ دعوت کوې نو غريبانان، شل ګوډ اۀ ړاندهٔ راوبله، اۀ دغه شان خوشحالی مومه، ځکه چې د هغوئ سره د بدل د راګرځولو هيڅ ذريعه نشته، خو د صادقانو په ميلمستيا کښې به تهٔ خپل اجر مومې". ( **لوقا ۱۴: ۱۲_ ۱۴**).

ما په يو لاس کښې بائبل مقدس اۀ په بل لاس کښې د ميلمنو ليکلے شوی نومونه نيولی وو اۀ دا سوچ مې وکړو چې اے مالکه خدايه آيا زما د پاره دا ستا کلام دے. دا خبره واضحه وه چې زما په رشته دارانو اۀ عزيزانو کښې د ډيرو کسانو شمير د مالداره خلقو وو. ما خپل ځان له دې وئيلو سره تسلی ورکړه چې دا به د مسلمانانو اۀ د عيسايانو رايوځائ کولو ښهٔ موقعه وی. خو په حقيقت کښې دا زما تکبر اۀ غرور وو. ما د خپل خاندان په وړاندې دا خبره څرګندول غوښتل چې لا تر اوسه پورې په مالدارو کسانو کښې زما دوستان شته.

ما هغه فهرست وشلولو. د بائبل مقدس د فرمان په مطابق ما کونډو، یتیمانو، بې روزګارو اؤ د کلي د غریبانانو خلقو فهرست تیار کړو، اؤ بیا مې دې ټولو له د کرسمس په موقعه باندې میلمستیا د پاره دعوت ورکړو. په دې کښې هر قسمه خلق شامل وو. تر دې پورې چې فقیران یعنی سوال کوونکی په کښې هم شامل وو. څۀ خلقو له خو ما په خپله دعوت ورکړو، اؤ ځنې خلقو له نوکرانو. د نوکرانو نه راته دا خبره معلومه شوه چې ټول کلے د راتلو د پاره تیاری کوی. د لږ ساعت د پاره مې په زړۀ کښې غلط خیال راغلو، ما د خپل قیمتی قالین په باره کښې سوچ وکړو کوم چې لږ وخت مخکښې ما په خپله کوټه کښې خور کړے وو. بیا ما سوچ وکړو چې هغه وخت زۀ دا د لارې نه لرې کولې شم.

تیاریانې شروع شوې. د اتو کالو محمود ډیر په شوق سره د راتلونکو میلمنو د پاره تحفو راجمع کولو کښې زمونږ مدد کولو. مونږ د ټولو د پاره تحفې اخستل شروع کړل کۀ هغه لوئ کس وی اؤ کۀ ماشوم.

یوه ورځ دروازه چا وټکوله. د واه کلي د ښځو یوه ډله په دروازه کښې ولاړه وه. هغوئ زمونږ مدد کول غوښتل. په هغوئ کښې یوې ښځې ووئیل، مونږ بغیر د څۀ غرض نه خدمت کول غواړو. مونږ غواړو چې د میلمستیا په دې انتظام کښې ستاسو

مدد وکړو. ناڅاپي دا ټول بندوبست داسې ښکاره شو لکه چې دا د ټول کلي کار وي. ما د يو کلال خاندان ته ووئيل چې د خاورې نه پنځۀ سوه ډيوې جوړې کړي اؤ د کلي ښځو د دې ډيوؤ د پاره باتيانې تياري کړې. د کار کولو په دوران کښې په قدرتي طور باندې ډيرې موقعې ملاؤ شوې چې د عيسى مسيح په باره کښې هغوئ سره خبرې وکړم. مثلاً کله چې مونږ په کور کښې ډيوې بلولو د پاره کيښودې، نو ما د پنځو هوښيارو اؤ پنځو کم عقلو پيغلو قيصه بيان کړه. ډوډئ يو بل دلچسپه کار وو. په ډوډئ کښې هم ښځو مټيائى اؤ نور مزيدار خوراکونو تيارولو کښې حصه واخيسته. اؤ ډوډئ يې ډيره په ښې طريقې سره تياره کړه.

په څليريشتم دسمبر د کلي خلق راتلل شروع شول. په قطارونو کښې بلې شوې ډيوې اؤ د خلقو ګڼه ګڼمره ښکلې ښکاريده. محمود د کلي ماشومانو سره لوبې کولې. يو عجيبه ښکلا اؤ رڼا وه، چې د کلي د ماشومانو په سترګو کښې وه. اؤ محمود ډير زيات خوشحاله وو. محمود به بيا بيا زما خوا ته راتلو اؤ نوى نوى درخواستونه به يې راته وړاندې کول. مثلاً وئيل به يې چې مورې پيينځۀ هلکان بهر ولاړ دي، هغوئ دننه راولم. ما به هغۀ ته ووئيل چې بې شکه تۀ هغوئ راوله. داسې ښکاريدل چې زمونږ په کور کښې د واه د ټولو ماشومانو نه ډير ماشومان راغلي وو. کله چې ما

د کلی خلقو سره خبرې وکړې چې عیسی مسیح مونږ ته دا وئیلی دی چې تاسو به د نورو سره څنګه سلوک کوئ، نو هغوئ ووئیل چې آیا واقعی هغه به دغه شان خلقو سره ګرځیدو. ما هغوئ ته ووئیل، "آؤ ". اؤ نن چې مونږ د نورو د پاره څۀ کوؤ نو دا مونږ د هغۀ د پاره کوؤ. آخر کار کله چې میلمستیا ختمه شوه، اؤ ما ته د کار نه لږه شان دمه ملاؤ شوه اؤ د آرام کولو د پاره راته وخت ملاؤ شو نو د خدائ پاک اطمینان زما په زړۀ کښې وو. ما ته محسوسیدل چې دا هر څۀ د خدائ پاک د مرضئ په مطابق وو.

ډیرو غریبانانو کله هم دا میلمستیا هیره نۀ کړه. یو میاشت وروستو زما یو نوکر جنازې له تلے وو اؤ هغۀ هلته کښې د کلی د ملا د ښځې نه دا شکایت واؤریدو چې هغې ښځو ته وئیل چې بیګم صاحبې دا ډیره لویه غلطی کړې ده چې خپل مذهب اسلام یې پریښودے دے. نو بل چا هغې له جواب ورکړو، چې آیا تا بیګم صاحبې سره ملاقات کړے دے؟ آیا تا په هغه کارونو کښې یو کار هم کړے دے کوم چې هغې کړی دی؟

خو د دې تجربې یو بل اړخ هم وو. ځکه چې ما ته معلومه شوه چې په واه کښې داسې خلق موجود وو څوک چې د دې میلمستیا نه خوشحاله نۀ وو. یو بزرګ مالی چې زمونږ په باغ کښې به یې کار

کولو، یوه ورځ هغهٔ په ژړا شو اؤ ما ته یې ووئیل، مهربانی وکړه اؤ زما یوه خبره واؤره؟ ما هغهٔ ته ووئیل بې شکه تهٔ خپله خبره وکړه.

بیګم صاحبې! په کلی کښې یوه خبره خوره شوې ده چې د هغې پیژندل ستا د پاره ضروری دی. څهٔ خلق دا خبره کوی چې بیګم یو مسئله جوړه شوې ده، اؤ په کلی کښې داسې خلق موجود دی چې هغوئ وائی چې هغوئ له څهٔ قدم اوچتول پکار دی. ما ته نهٔ ده معلومه چې هغوئ به څهٔ قدمونه اخلی یا به څهٔ کوی. بیګم صاحبې! زهٔ محسوسوم چې ستا د پاره دا خبره پیژندل ډیره ضروری ده. په راتلونکی کال کښې داسې قسمه دهمکیانې راتلې. غالبا داسې ښکاریدل چې زما آسمانی پلار ما د ګرانو حالاتو د پاره تیاروی.

مثلا یوه ورځ د کلی نه څلور واړهٔ هلکان زما کور ته راغلل. بیا وروستو زما په ذهن کښې دا خیال راغلو چې کیدے شی خدائ پاک د دې ماشومانو په ذریعه ما له خپل پیغام راکوی. ځکه چې د هلکانو نه د خبرو اؤریدو نه پس محمود زما خواته راغلو. هغه رپیدو اؤ د ویرې د لاسه د هغهٔ سترګې راوتې وې. مورې آیا تا ته معلومه ده چې زما ملګرو څهٔ ووئیل؟ هغوئ وئیل چې په کلی کښې خلق دا منصوبه جوړوی چې تا ووژنی. اؤ هغوئ به د جمعې د مونځ

نه پس دا کار کوی. هغهٔ سلګئ وهلې اؤ وې وئیل کهٔ چرې تهٔ هغوئ ووژلې نو زهٔ به هم خپل ځان مړ کړم.

اوس ما له څهٔ کول پکار وو. ما محمود ځان سره رانزدې کړو. اؤ د هغهٔ په سر مې لاس وهلو اؤ هغهٔ له مې تسلی ورکړه. زما خوږه زویه زهٔ تا ته یوه قیصه کوم. اؤ ما هغهٔ ته په ناصرت کښې د عیسی مسیح د اولنی وعظ هغه قیصه وکړه. ما هغهٔ ته ووئیل چې کله خلق ډیر زیات غصه شول اؤ عیسی مسیح یې سنګسارول غوښتل، نو عیسی مسیح د هغوئ نه لاړو. اؤ تر څو پورې چې د آسمانی پلار مرضی نهٔ وه نو تر هغې پورې هیچا هم هغهٔ ته هیڅ ونهٔ وئیل. زما اؤ ستا د پاره هم داسې ده. مونږ د خدائ په لاسو کښې محفوظ یو. آیا ستا په هغهٔ یقین دے؟ آیا ستا خواهش دا دے چې مونږ ته به هیڅ نقصان نهٔ را رسی؟

نه زما خواهش دا نهٔ دے. عیسی مسیح له تکلیف ورکړے شو. خو په هغه وخت کښې هغهٔ له تکلیف ورکړے شو کله چې د تکلیف زغملو وخت راغلو. همیشه یې په ویره کښې ژوند نهٔ تیرولو. ځکه چې تر څو پورې زمونږ وخت پوره نهٔ شی، نو هیڅ نهٔ شی کیدے.

مونږ له په صبر سره انتظار کول پکار دی. خو په دې دوران کښې مونږ ډیر په اعتماد سره ژوند تیرولے شو. آیا تۀ زما په خبره پوهه شوې؟ محمود ما ته وکتل اؤ د هغۀ د خږ رنګ په سترګو کښې تسلی وه. سمدستی هغۀ وخاندل اؤ په خوشحالئ اؤ چغو سره یې خپلې لوبې شروع کړې. اؤ د دې مطلب وو چې هغه په دې خبره پوهه شو.

زما دا خواهش وو چې زۀ هم دا ووایم چې زما یقین هم دومره مضبوط دے . دا نه چې ګنی محمود ته چې ما څۀ ووئیل نو په دې زما ایمان اؤ یقین نۀ وو. خو خبره صرف دا وه چې زما ایمان اوس د ماشومانو په شان نۀ وو. زۀ پاڅیدم اؤ خپل بائبل مقدس مې واخستو اؤ د باغ طرف ته روانه شوم. زما زړۀ خفه وو. هغوئ څنګه دا جرأت کولے شی چې ما د خپل وطن اؤ خپلې زمکې نه لرې کړی.

باران نۀ وو شوې. ما په باغیچه کښې وړوکی شان نهر کښې د کبانو د ټوپونو آوازونه آؤریدل. اؤ د لرې نه د ګوګوشتکې آواز راتلو. د ګرمئ په موسم کښې چې د بهار کومه آخری حصه پاتې وه نو هغې خپل رنګ ښودلو. دا زمکه زما اؤ زما د خلقو وه. اوؤ سوو کالو پورې زما خاندان ډیر په ښۀ طریقې سره د دې خدمت کړے وو. دا زما کور دے. اؤ زۀ دا نۀ شم پریښودے اؤ نۀ به دا پریږدم.

بیا هم داسې حادثې پیښیدې، کومې چې زما د وس نه بهر وې. اؤ زما په خپل کور کښې د پاتې کیدو د دې مضبوطې ارادې خلاف وې.

په دسمبر نولس سوه اویا کښې زما د بدلون نه څلور کاله پس په پاکستان کښې وړومبی ووټونه وشول. داسې ښکاریدل چې عوامی حکومت به وګټی، اؤ دا به زما د پاره ښۀ خبر نۀ وی. ځکه چې زما په عزیزانو کښې یو کس هم د دې جماعت غړے نۀ وو. د دې نوی جماعت نعره دا وه، اسلام زمونږ دین دے، جمهوریت زمونږ پالیسی ده، اؤ سوشلزم زمونږ معیشت دے. دا نعره د یو عام کس د همدردئ ګټلو د پاره جوړه کړې شوې وه. ما ته معلومه وه چې یو عام پاکستانی د طاقت احساس محسوسولو. آیا دا زما د پاره ښۀ وو؟ کیدے شی دا د نوې بلقیس د پاره ښۀ وو. خو په دې کښې یوه وراثتی خطره هم وه. ځکه چې یو کس ته دا معلومه شی چې هغۀ له د هغۀ حکومت مدد ملاؤ دے نو هغه به هر غلط کار کوی. زما جمهوریت نۀ وو خوښ، سوشلزم زمونږ د خاندان د زړو روایاتو خلاف وو. اؤ پاتې شوه دا خبره چې اسلام زمونږ دین دے، نو دې لحاظ سره زۀ غداره ووم.

ما به د څۀ فاصلې نه دا واقعات کتل. یوه ورځ زما د پلار په دوستانو کښې یو کس څوک چې په تیر شوی حکومت کښې هغۀ

سره وو، د صدر نه زما کور ته راغے. هغهٔ زما د عقیدې په باؤجود ما سره د تعلق ساتلوو کوشش کولو. کله په ټیلیفون اؤ کله به په خپله زما خبر اخستلو د پاره راتلو.

اوس هغه د میلمنو په کوټه کښې ما سره ناست وو اؤ چائ یې ښکله. اؤ په قلاره آواز سره یې ووئیل بلقیس آیا تا ته پته شته چې څۀ کیږی اؤ دا تا ولې متاثره کوی؟ آیا ستا مطلب د پاکستان عوامی پارټئ نه دے؟

بې شکه چې هغهٔ ووټونه ګټلی دی. تۀ ذوالفقار علی بهټو څومره حده پورې پیژنې؟ ما جواب ورکړو زۀ هغه ډیر ښۀ پیژنم.

ولې تۀ اخبار نۀ لولې اؤ ریډیو هم نۀ اؤرې څۀ؟ نه! زۀ دې د پاره خپل وخت نۀ ضائع کوم.

صحیح ده. خو زۀ به تا له مشوره درکړم چې تا له په حالاتو باندې نظر ساتل پکار دی. د حکومت ماحول بدل شوې دے. زما شک دے چې لکه څنګه تۀ په تیرو شوؤ حکومتونو کښې وې نو اوس نۀ شې کیدے. اؤ دا یې هم ما ته ووئیل چې په معاشره کښې زما کوم عزت وو اؤ خلقو سره مې څومره پیژندګلو وه، نو هغه هر څۀ اوس ختم شوی دی. هغه هر څۀ اوس ډیر لرې پاتې شوی دی.

نیمه ګینټه پس ما خپل دا ملګرې رخصت کړل اؤ خدمت ګارې ته مې د لوښو اوچتولو د پاره ووئیل. ما ته معلومه شوه چې زما دې ملګرې سره ملاقات په وجه یوه ډیره عجیبه خبره راپیښه شوه. داسې ښکاریدل لکه چې هغۀ د مالک خدائ له طرفه خبرې کولې. هغۀ زۀ دې حقیقت قبلولو د پاره تیارولم چې زما خیر خواه اؤ د پیژندګلو خلق زما نه لرې شوی دی. نو دغه شان دې خبرې سره هغوئ په خدائ پاک باندې زما اعتماد اؤ یقین نور هم زیات کړو.

ډیره موده نۀ وه تیره شوې چې ما مخالفت نور هم په زیاتیدو ولیدو. د واه په کوڅو اؤ لارو کښې ګرځیدو سره دا ما د خلقو په نظر کښې ولیدو. زما نه به د هغه معمولی ټیکس اخستونکی افسر په رویه کښې هغه بدلون هیڅ کله هم هیر نۀ شی کوم چې ما ولیدو. پخوا چې به یې د خدمت ګار په شان خبرې کولې، اوس هغۀ نفرت ښکاره کولو. ما د خپل جائیداد په باره کښې هغۀ سره خبرې کولې. ما ته د هغۀ د دښمنئ اندازه د دې نه ولږیده چې هغۀ ډیر په نفرت اؤ زړۀ بداوی سره فارمونه زما مخې ته کیښودل.

بیا وروستو چې کله زۀ د خپل کور نه بهر ګرځیدم، نو ما یو داسې سړی ته وکتل چې د خپلې لارې نه واؤړیدو اؤ ما سره د خبرو کولو د پاره ولاړ وو. اوس د هغۀ رویه مختلفه وه. کله چې یې ما ته وکتل نو زر یې خپل مخ بل خوا واړولو. اؤ بل طرف ته یې کتل

شروع کړل. ما له په خپل زړۀ کښې خندا راغله. ما ووئیل چې اے خدایه، ولې مونږ ټول د ماشومانو په شان حرکتونه نۀ کوؤ څۀ؟

دا ډیره دلچسپه خبره وه چې د نوی حکومت هیڅ قسمه اثر زما په جائیداد باندې نۀ ښکاریدو. د ریشم اؤ نورجهان نه علاوه چا چې عیسی مسیح سره مینه کوله، زما نور ټول نوکران مسلمانان وو، خو بیا هم زمونږ په مینځ کښې حقیقی مینه اؤ خلوص موجود وو. ډیره ځله زما مسلمانان نوکران به زما د خوب کوټې ته راغلل اؤ ما ته به یې وئیل بیګم صاحبې! تا له پکار دی چې خپل کور پریږدې اؤ دلته نه لاړه شې، تۀ زمونږ فکر مۀ کوه مونږ ته به بل ځائ کار ملاؤ شی. څلور کاله مخکښې زما رشته اؤ تعلق د خپلو نوکرانو سره څومره مختلف وه.

خوبونه همیشه زما د مسیحی تجربې یوه حصه وه. په خوب کښې مې اول ځل باندې عیسی مسیح سره ملاقات کړے وو. اوس دا عجیبه روحانی تجربې د کومو چې حضرت پولوس رسول ذکر کوی هغه نورې هم په حرکت کښې شوې.

یوه شپه څۀ ګورم چې زۀ په روح کښې پورته کړے شوم. اؤ زۀ ډیره په تیزئ سره په سمندر پورې غاړې ته تلم. اؤ زۀ داسې ځائ ته راغلم کوم چې په امریکه کښې د نوی انګلینډ په شان ښکاریدو. زۀ

د يو کور مخې ته راغلم چې په کښې دوه کټونه سم کړے شوی وو. په يو کټ کښې يوه مشره ښځه پرته وه. اؤ د هغې مخ ګول يعنی غونډ وو. خړې سترګې اؤ خړ ويښتهٔ يې وو. اؤ په هغې يو سپين څادر غوړيدلے وو. هغه ښځه ناجوړه وه. داسې ښکاريدل چې د هغې کينسر دے. يوه نرسه په کرسۍ ناسته وه اؤ څهٔ يې لوستل. اؤ بيا ما خپل مالک د کوټې په يو ګټ کښې وليدو، زهٔ د هغهٔ په وړاندې په ګوډو شوم اؤ ورته مې وفرمائيل چې ما له څهٔ کول پکار دی.

هغهٔ وفرمائيل چې د هغه ښځې د پاره دعا وکړه. نو بيا زهٔ هغه ښځې خوا ته لاړم اؤ ډيره په جوش سره مې هغې د پاره دعا وغوښته. د سحر په وخت زهٔ په خپل کټ کښې ناسته وم اؤ په دې خبره مې سوچ کولو چې د سمندر بلې غاړې ته د تلو څهٔ مطلب دے. عيسی مسيح ما ته ولې وفرمائيل چې د هغه ښځې د پاره دعا وکړه؟ د دې زبردستې مکاشفې څرګندونه زما په وړاندې ښکاره کيدل شروع شول. کله چې مونږ د مالک عيسی مسيح په نوم دعا غواړو نو په دې کښې ډير لوئ طاقت اؤ قوت وی. هغه د دې په ذريعه کار کوی. اؤ زهٔ د حضرت يعقوب د سپارې د پنځم باب اړخ ته لاړم. کومه دعا چې د ايمان سره کيږی نو د هغې په وسيله رنځور روغيږی. اؤ مالک خدائ به هغه روغ کړی اؤ هغه به په خپلو پښو ودريږی. اؤ

کۀ چرې هغۀ ګناهونه کړی وی، نو هغه به هم وبخښلې شی. د صادق د دعا اثر سره ډیر څۀ کیږی. نو دغه شان زمونږ دعا ګانې دا کار کوی چې د چا د پاره مونږ دعا کوؤ نو په هغۀ کښې د مالک خدائ طاقت قائموی.

په یو بله موقعه ما یو رویا ولیده چې په هغې کښې زۀ د اوبو په جهاز کښې کښیناستم. زۀ چې په کومه کوټه کښې ولاړه ووم په هغې کښې عیسی مسیح هم ولاړ وو. داسې ښکاریدل چې هغۀ ما له هدایات راکول. بیا زۀ د کوټې نه بهر راغلم. اؤ د لارې په آخری سر کښې مې یو مغربی ښځه ولیده. هغه زما په انتظار کښې ولاړه وه. هغه زما خوا ته راغله اؤ زما لاس یې ونیولو اؤ زۀ یې چرته روانه کړم.

ما د منزل په حقله تفصیل معلومول غوښتل، خو مالک خدائ ما ته ونۀ وئیل. د خوب نه ما ته داسې ښکاریدل چې زۀ په یو بله دوره باندې روانه یم. خو دا څل به د یو نا معلومه منزل په طرف ځم. خو د عیسی مسیح نظر به په دې سفر باندې وی. د دې خوبونو په وجه زۀ په ذهنی طور سره تیاره شوم. په دې وجه زۀ د یو خبر نه هم نۀ ویریدم.

په مارچ نولس سوه یو اویا کښې د بهټو د حکومت نه یو میاشت پس یعقوب څوک چې د زوړ حکومت داسې زما پیژندګلو وو، هغه ما سره د ملاویدو د پاره راغلو. د ډیرو کالونو داسې هغه زمونږ خاندان ته ډیر نزدې وو. په حقیقت کښې کله چې زما خاوند وزیر وو، نو یو وخت داسې راغلو چې کله د پاکستان مالی حالت ډیر کمزورے شو، اؤ کاروبار ته ډیر نقصان ورسیدو. ما اؤ یعقوب په شریکه یو پروګرام جوړ کړو چې په دې کښې مونږ ته د بل چا مدد نۀ وو حاصل. مونږ د ساده ژوند تیرولو یو منصوبه جوړه کړه. اؤ د دې بنیادی مقصد دا وو چې خلق دې ته تیار کړو چې د پاکستان صنعت د ضرورت څیزونه په خپله جوړ کړی اؤ د بهر ملکونو نه دا نۀ راغواړی.

مونږ په ملک کښې یو خوا بل خوا وګرځیدو اؤ واړو صنعتونو اؤ د کارخانو خلقو له مو حوصله ورکړه چې په دې باندې کار شروع کړی. مونږ ټولو خلقو له په دې کار کښې حوصله ورکړه چې هغوئ د کپړئ جوړولو د پاره کډئ جوړې کړی. اؤ په خپله کپړې جوړې کړی. مونږ په خپله د خپل ملک جامې واچولې اؤ د دې خیال په وده کولو کښې مو اهم کردار ادا کړو. زمونږ د ساده ژوند تیرولو دا منصوبه تر ډیر حده پورې کامیابه شوه. اؤ کله چې مقامی کارخانو دا کار شروع کړو نو د پاکستان مالی حالت په ښۀ کیدو شو. د دې

نه پس به یعقوب صاحب اکثر د سیاست اؤ دنیاوی معاملاتو په حقله خبرو اترو کولو له ما سره ملاویدو د پاره راتلو. هغۀ ته زمونږ د خاندان په حقله ډیر معلومات وو. په پاکستان کښې چې چرته هم زمونږ جائیداد وو نو هغه هلته تلے وو. اؤ هغۀ ته معلومه وه چې زمونږ مالی حالت په دې جائیدادونو باندې انحصار لری.

هغۀ په نرمۍ سره وفرمائیل، بلقیس! د یو څو دوستانو سره ما ستاسو د مالی حالت په حقله خبرې کولې. آیا تا د خپلې زمکې د څۀ حصې خرڅولو په حقله سوچ کړے دے؟ زما یقین نۀ دے چې ستاسو ټوله زمکه محفوظه ده. ځکه چې بهټو د زمکې د یو والی وعده کوؤنکے دے.

یعقوب ډیره د عقل اؤ پوهې خبره کړې وه. هغۀ د خطرې پرواه نۀ کوله اؤ زما مدد د پاره راغلے وو. ما د یعقوب شکریه ادا کړه. اؤ هغۀ ته مې ووئیل چې په موجوده حالت کښې یو طاقت هم ما دلته نه نۀ شی ویستلې.

بې شکه چې دا د کم عقلتیا خبره وه. پخوانۍ بلقیس خپل زوړ اصلیت ښودلو. دا جواب د هغۀ د توقعو خلاف وو. هغۀ ووئیل کۀ چرې هم تا ته زما د مدد ضرورت وی نو ما له خامخا خبر راکوه. ما

د هغۀ شکریه ادا کړه اؤ ورته مې وفرمائیل، یقینا زۀ به تا له خبر درکوم.

ریشم چې ډیرې خبرې به یې نۀ کولې، هغې ووئیل، بیګم صاحبې! بیګا د شپې ما یو ډیر ویرووونکے خوب ولیدو. ما په غور سره د هغې خبرو ته غوږ کیښودو. ریشم ما ته ووئیل چې ما په خوب کښې ولیدل چې څۀ بدعمله کسان کور ته راغلل اؤ تۀ یې قیدی جوړولې. هغې په ژړا سره ووئیل چې زۀ په دې خفه شوم. ما تا له آواز درکړو اؤ درته مې ووئیل، بیګم صاحبې وتښته. ما په خوب کښې ولیدل چې تۀ د کور نه تښتې اؤ خپل ځان بچ کوې.

د هغې سترګې د اوښکو نه ډکې وې. ما هغې له تسلی ورکړه. ځکه چې زما د پاره دا مشکل نۀ وو کوم لفظونه چې هغې وئیلې وو بلکه کوم لفظونه چې هغې ووئیل نو ما په خپله په هغې کښې هغه نصیحت باندې غور کولو کوم چې ما ته ملاؤ شوې وو. ما په مینې سره هغې ته ووئیل، چې د ځان بچ کولو په باره کښې نن صبا د خدائ پاک نه ډیر څۀ اؤرم. د ټولو نه اول خو ما په دې یقین نۀ کولو. خو اوس ما په دې غور کول شروع کړل.

ما د هغې زیړ مخ خپلو لاسو سره پورته کړو اؤ په خندا مې ورته ووئیل، چې دا ممکنه ده چې زۀ دلته نه لاړه شم. خو کۀ زۀ ځم هم نو دا به د خدائ پاک په مقرر شوی وخت باندې وی.

ما د قبلولو سبق ازده کولو. آیا ستا په ما یقین دے؟ خدمت ګاره یو شیبه چپ وه اؤ بیا یې ووئیل، " بیګم صاحبې د ژوند تیرولو دا څومره ښکلې طریقه ده". یقینا چې هم دا ده، اؤ صرف هم دا واحد لار ده. اوس زما په قابو کښې هیڅ هم نشته. اؤ حالانکه څۀ چې ما ووئیل نو په هغې زما یقین وو، خو بیا هم کله چې خدمت ګاره لاړه نو ما د جذباتو د لاسه شکست وخوړو.

په ۱۹۷۱ کښې د خزان په موسم کښې نور هم پرله پسې پیغامونه راته ملاؤ شو، اؤ نورې تجربې مې هم حاصلې کړې. یوه ورځ نورجهان زما خوا ته راغله. هغې په تیزه تیزه ساه اخسته. اؤ جذبات په هغې غالب شوی وو. د هغې لاس رپیدل اؤ زما ویښتۀ یې ګومنځول. ما د هغې نه پوښتنه وکړه، نورجهان څۀ خبره ده؟

نورجهان سلګئ وهلې اؤ ما ته یې ووئیل، بیګم صاحبې! زۀ نۀ غواړم چې تا ته تکلیف در ورسی. څوک به ما له تکلیف راکوی؟

هغې خپلې اوښکې اوچې کړې اؤ وې وئیل چې زما خپل ورور پرون په جماعت کښې وو. هغۀ د یو څو کسانو نه دا خبره واؤریده

چې هغوئ وئيل چې وخت رارسيدلې دے چې هغوئ ستا خلاف څۀ قدم اوچت کړی.

آيا تا ته معلومه ده چې د دې نه د هغوئ څۀ مطلب وو؟

نورجهان ووئيل بيګم صاحبې ما ته پته نشته! خو زۀ ويريږم، دا ستا اؤ د محمود د پاره خطرناک کيدے شی. د نهه کالو ماشوم ته به هغوئ هيڅ نقصان نۀ رسوی.

نورجهان ډير په سنجيدګئ سره ووئيل، بيګم صاحبې! دا هغه ملک نۀ دے، کوم چې د نن نه پنځۀ کاله مخکښې وو. دا به ښۀ وی چې اوس احتياط وکړئ.

يو څو هفتې وروستو دا پيښه شوه. دا ډيره ښکلې ورځ وه. د خزان موسم وو. د مون سون موسم تير شوے وو. اؤ باران نۀ وو شوې. يو څو ورځو پورې هيڅ هم ونۀ شول. بيا وروستو ما دا ووئيل چې مونږ په يو نوی دور اؤ نوی وخت کښې اوسيږو. دا ۱۹۷۱ وو نۀ چې ۱۵۷۱، کله چې به د مذهب په خاطر جنګونه کيدل. مذهبی جنګونه د تير شوی وخت قيصه وه. زۀ د دعا کولو د پاره بره خپلې کوټې ته لاړم. خو ناڅاپی د څۀ وجې نه بغير ما ته محسوس شوه چې زۀ محمود د ځان سره کړم اؤ بهر صحن ته لاړه شم.

دا ځومره د کم عقلتیا کار وو. خو دا حرکت اؤ احساس دومره طاقتور وو چې ما د هال طرف ته منډه کړه. محمود اودۀ وو، نو هغه مې راویخ کړو، اؤ هغه مې د ځان سره کړو اؤ په تیزئ سره د صحن په طرف روانه شوم.

اؤ کله چې ما د عمارت نه خپل قدم بهر کړو نو ما ته د څۀ د سوزیدو بوئ محسوس شو. ما یو اصول مقرر کړے وو، اؤ هغه دا چې زما په زمکه کښې به هیڅوک اور نۀ بلوی. کله چې زۀ د مالی په لټون کښې د کور بل اړخ ته روانه شوم نو زۀ وویریدم. د کور دیوال سره خوا ته د کړکئ سره نزدې یو ډیری ته چا اور لګولے وو. اؤ شعلې یې ختلې. ما چغې ووهلې، نوکران په منډه راغلل. اؤ په هغوئ کښې ځنی کسانو د لښتی نه د اوبو بالټۍ راډک کړل اؤ په اور یې اچول. اؤ نورو نوکرانو په باغ کښې د اوبو د نالئ نه په اور باندې اوبه ویشتلې. خو زمونږ په کور کښې اوبه کمې وې. داسې ښکاریدل چې ټول کور به د اور د شعلو لاندې شی. ځکه چې د اور شعلې ډیرې اوچتې وې، اؤ اوبه هلته نۀ رسیدې. لس نوکران چې هغه وخت موجود وو، په یو قطار کښې ودریدل. اؤ د لښتی نه یې اوبه راخستلې اؤ په هغه شعلو یې اچولې. د نیمې ګینټې کوشش نه پس هغه د اور شعلې په قابو کښې راوستلې شوې. کۀ چرې اور نۀ

وو مړ شوے نو په لږ وخت کښې به کور د اور د شعلو لاندې راغلې وو.

ما نورجهان ته وکتل اؤ هغې د ویرې په حالت کښې خپل سر وخوځولو. ما ته معلومه وه چې هغې څۀ سوچ کولو. په دهمکۍ باندې عمل شوې وو. ما سوزیدلی دیوال اؤ تورو شهتیرانو باندې نظر وکړو، اؤ دا سوچ مې ونۀ کړو چې کۀ چرې اور نۀ وو مړ شوے نو بیا به څۀ شوی وو. زۀ دې سوچ کولو سره وویریدم چې کۀ چرې زۀ بهر نۀ ووم راغلې نو بیا به څۀ وو؟

یوه ګینټه پس پولیس د تفتیش د پاره راغلل. هغوئ زما نه، اؤ د نوکرانو نه سوالونو تپوسونه وکړل اؤ لاړل. زۀ په خپله کوټه کښې ووم. ما بائبل مقدس راواخستو چې وګورم چې مالک خدائ پاک څۀ وئیل غواړی. اؤ په یوه جمله باندې زما نظر پریوتو، اؤ هغه دا وه:

تادی وکړه اؤ هلته لاړ شه، ځکه چې زۀ تر هغه وخته پورې هیڅ نۀ شم کولې تر څو چې تۀ هلته لاړ نۀ شې. (پیدائښت ۱۹ : ۲۲ ).

ما کتاب کیښودو اؤ پورته مې وکتل اؤ دعا مې وکړه چې، اے مالکه خدایه! ما ته ووایه چې د تلو د پاره لاړ کومه یوه ده اؤ دا لاړ به ګرانه وی یا آسانه؟ اؤ دا ځل چې ما دعا کوله نو زما سترګې

د اوښکو نه ډکې وې، اے مالکه خدایه د دې هلک به څۀ کیږی؟ آیا هغه به هم ما سره ځی؟ ما هر څۀ بائیللی دی. آیا دا ماشوم هم په دې کښې شامل دے.

شپږ میاشتې پس یوه ورځ په مارچ ۱۹۷۲ کښې خدائ پاک یو ځل بیا ما سره په خوب کښې کلام وکړو. ریشم زما طرف ته راغله. د هغې په سترګو کښې خفګان ښکاریدو. ریشم ووئیل بیګم صاحبې! آیا د پیسو بکس محفوظ دے؟

د هغې اشاره د هغه وړوکی بکس اړخ ته وه کوم کښې چې به ما د کور د ضرورتونو د پاره پیسې کیښودې. آؤ یقینا بکس محفوظ دے. خو څۀ خبره ده؟

ریشم خپل آواز په قابو کښې وساتلو اؤ وې وئیل ما بیګا یو خوب لیدلے وو، اؤ ما ولیدل چې تۀ په موټر کښې په یو اوږد سفر روانه یې. د پیسو بکس تا سره دے. آؤ دا څۀ نا آشنا خبره نۀ وه. ځکه چې ما به اکثر د پیسو بکس ځان سره کیښودو. ریشم دا خبره هم وکړه چې دا خوب ډیر زیات حقیقی وو. اؤ افسوسناکه حصه دا وه چې کله تۀ په سفر روانه وې، نو څۀ کسانو تۀ ودرولې اؤ ستا نه یې د پیسو بکس واخستلو.

هغه وويريده اؤ يو ځل بيا ما هغې له تسلي ورکړه اؤ ورته مې ووئيل چې د پيسو وروکيدل ما ته په خدائ پاک باندې اعتماد ښودل ښائي. کله چې هغه خپل کار د پاره لاړه نو ما د خوب په باره کښې غور وکړو. آيا دا پيشن ګوئی کيدے شی؟ آيا ما له د دې خبرې خبر راکړے شو چې زما ټول مال دولت به لوټ کړے شی؟ آيا ډير زر به زۀ په خپله بغير د څۀ قسمه پيسو يا مالی مدد نه د يو نامعلومه منزل په طرف روانه شم؟

دا د خفګان ورځې وې، ځکه چې صرف دوه مياشتې پس د جولائی ۱۹۷۲ په يوه ګرمه ورځ باندې يو نوکر ما ته ووئيل چې خالد راغلے دے.

زما زوئ خالد لا تر اوسه پورې په لاهور کښې اوسيدو. په دې دومره ګرمئ کښې هغه د څۀ د پاره راغلے دے؟ داسې څۀ خاص خبره وه چې هغه په ټيليفون نۀ شوه کيدے اؤ دې دلته راغلو؟

خالد د ميلمنو په کوټه کښې زما انتظار کولو. کله چې زۀ کوټې ته دننه شوم نو ما ووئيل، زما د زړۀ سره، زما خوږه زويه ستا په ليدو باندې ډيره خوشحاله شوم.

" خو تا ټيليفون ولې ونۀ کړو؟ "

خالد راپاڅیدو اؤ زۀ یې ښکل کړم. هغۀ د کوټې دروازه بنده کړه. اؤ د خپل راتلو مقصد یې بیانول راته شروع کړل. " مورې! ما د خلقو نه ډیرې خرابې اؤ ویروونکې خبرې اوریدلې دی ". هغه چپ شو. ما د خاندلو کوشش وکړو. خالد خپل آواز په قلاره کړو اؤ خپله خبره یې جاری وساتله. مورې! حکومت ډیر پرائیویټ جائیدادونه په خپله قبضه کښې اخلی. زما ذهن زما د حکومت د طرف نه د هغه رشته دار اړخ ته لاړو چا چې یو کال مخکښې په مارچ ۱۹۷۲ کښې هم دا خبره کړې وه. آیا اوس د هغه پیشن ګویۍ پوره کیدو وخت وو؟ خالد ووئیل چې د شاملاتو د زمکې په وجه د دې خبرې پیښیدو زیات امکان دے چې زمونږ جائیداد په هغه اولنو جائیدادونو کښې وی کوم چې به حکومت اخلی.

ما د هغۀ نه تپوس وکړو، تۀ څۀ غواړې؟ زۀ څۀ وکړم؟ آیا هغوئ به په ټول جائیداد باندې قبضه وکړی، یا به د جائیداد څۀ لږه حصه اخلی؟ خالد د خپلې کرسۍ نه پاڅیدو اؤ په خیالونو کښې ډوب د باغیچې په طرف لاړو. زما طرف ته یې مخ راواړولو اؤ وې وئیل، " مورې" هیچا ته د دې پته نشته. کیدے شی چې دا د هوښیارتیا خبره وی چې ستا د جائیداد لږه لږه حصه خرڅه کړو. دې سره به اخستونکی د حکومت د قبضې نه محفوظ وی.

کله چې ما په دې خبره سوچ وکړو، نو د خالد دا مشوره ما ته صحیح ښکاره شوه. د دې په باره کښې د خبرو کولو د پاره مونږ تول د ټونی خوا ته لاړو. مونږ ټول په دې خبره رضامند وو چې دا یو صحیح قدم دے چې مونږ یې واخلو. ما فیصله وکړه چې خالد به لاهور ته روان شی، اؤ مونږ به کاغذی کاروائی پوره کړو اؤ بیا به هغۀ سره ملاویدو د پاره لاړ شو.

په ۱۹۷۲ کښې د ګرمۍ په موسم کښې یوه ورځ سحر زۀ، ټونی اؤ محمود په لاهور کښې د جائیداد د معاملې حل کولو د پاره تیار وو. اؤ کله چې ما د کور نه قدم بهر کړو اؤ د باغیچې ښائست اؤ ښکلا ته مې نظر وکړو نو ما ډیر افسوس وکړو. د ګرمۍ د موسم ګلونو خپله رنګینی ښودله. اؤ چینې د نور کله په نسبت زیاتې بهیدې.

مخامخ دروازې سره چې کوم نوکران ناست وو ما هغوئ ته وفرمائیل چې په یو څو هفتو کښې به مونږ واپس راځو. هر یو دا خبره ومنله. صرف نورجهان اؤ ریشم خوشحاله نۀ وو. ناڅاپی نورجهان په ژړا شوه اؤ د هلته نه لاړه. زما نه د خوب په کوټه کښې څۀ پاتې شوی وو نو زۀ د هغې اخستلو د پاره واپس راغلم. نو کله چې د پوړو نه لاندې تلو د پاره زۀ د هال اړخ ته لاړم نو ریشم زما

مخې ته ولاړه وه. هغې زما لاس ونيولو. د هغې سترګو د اوښکو نه ډکې وې.

هغې ډير په قلاره ووئيل، بيګم صاحبې! خدائ پاک دې ستا مل وی. ما هم هغې ته ووئيل خدائ پاک دې ستا هم مل وی.

زۀ اؤ ريشم دواړه په هال کښې خاموشه ولاړې وو. مونږ هيڅ هم نۀ وئيل. خو په هره خبره پوهيدو. په څۀ نه څۀ طريقې سره ما ته داسې محسوس شول چې زۀ به بيا هغه ونۀ وينم. زۀ هغې سره خوا ته ووم. ما د هغې لاس ونيوو اؤ په قلاره شان مې ورته ووئيل، ستا په شان به هيڅوک هم زما ويښته ګومنځ نۀ کړی.

ريشم خپل لاس په خپله خله کيښودو اؤ زما خوا نه لاړه. کله چې ما د خوب د کوټې دروازه بندوله، نو يو قوت زۀ منع کړم. زۀ واپس کوټې ته لاړم اؤ هلته ولاړه ووم. سپين ديوالونه لکه د مرګ په شان خاموشه وو. د سحر د نمر رڼا په کړکئ کښې دننه راتله. دا هغه ځائ دے چرته چې ما خپل مالک خدائ پيژندلے وو. ما د خپلې کوټې اؤ باغ اړخ نه مخ واړولو، اؤ د ګاډی طرف ته روانه شوم. په دې باغ کښې څومره ځله ما د خدائ پاک حضوری محسوس کړې وه.

په لاهور کښې ځنې کسان وو چې د هغوئ لیدو سره به زما زړۀ ډیر زیات خوشحاله شی. بې شکه چې خالد اؤ د هغۀ ښځې اؤ لور سره په ملاویدو به زما زړۀ ډیر خوشحاله شی. مسټر اولډ سره هم د ملاقات امکان وو. ما هغۀ ته لیکلی وو چې زۀ لاهور ته درځم. د هغۀ نوې کار د ښار نه په لږه فاصله باندې په یو کلی کښې وو. خو زما امید وو چې زړو رشته دارانو سره به مې ملاقات وشی. لاهور د نور کله په شان د جولایئ په میاشت کښې د بارانونو مرکز جوړ شوے وو. سړکونه د اوبو نه ډک وو.

د خپلې مجبورئ په وجه ټونی ډیر لږ وخت مونږ سره تیر کړو، اؤ کله چې کاغذی کاروائی پوره شوه نو مونږ ټونی په ریل ګاډی کښې کښینوله اؤ راولپنډئ ته مو رخصت کړه. په پلیټ فارم باندې یو عجیبه د خفګان وخت وو. د منصوبې په مطابق په یو څو ورځو کښې به محمود بیا د خپلې مور سره ملاؤ شی. خو بیا هم د دې جدایئ یو ډیر عجیبه اؤ نا آشنا احساس وو. د محمود عمر اوس لس کاله وو. کله چې هغۀ د خپلې مور نه رخصت اخستلو اؤ هغې هغه ښکلولو نو هغۀ ډیر په ګرانه خپلې اوښکې بندې کړې وې. ټونی هلک په لاسو کښې اوچت کړو اؤ په چغو چغو یې وژړل. اؤ کله چې زۀ ټونی ته ورتر غاړه وتم نو ما هم ژړل.

ناڅاپي ټونی ووئیل، بس کړئ، څۀ غم خو نۀ دے شوے چې مونږ داسې ژاړو. ما وخاندل اؤ بیا مې هغه ښکل کړه. ما اؤ محمود هغې ته کټل چې په ګاډی کښې روانه وه. ګاډې د سټیشن نه روان شو اؤ مونږ د خدائ په آمان وئیلو د پاره خپل لاسونه خوځول.

چا چې زمونږ جائیداد خرڅولو نو هغۀ ووئیل چې د دې په خرڅولو کښې به یو څو هفتې لږی. اؤ خالد مونږ له دا یقین راکړو چې څومره وخته پورې مونږ د هغۀ په کور کښې پاتې کیدل غواړو نو هلته پاتې کیدے شو.

د یوې خبرې په وجه چې زۀ بې قراره ووم هغه دا وه چې زۀ دلته کښې د روحانی تعلق نه محرومه ووم. مسیحیانو له په روحانی طور باندې د ژوندی پاتې کیدو د پاره د یو بل ضرورت وی.

ما مسټر اولډ ته ټیلیفون وکړو. اؤ کله چې مې د هغۀ د ښځې آواز واؤریدو نو ډیره خوشحاله شوم. مونږ په ټیلیفون باندې دعا وکړه. د خوشحالئ اؤ د غم جذبات وو. هغوئ د مصروفیاتو په وجه لاهور ته نۀ شو راتلے. خو بیا هم هغوئ په هغه کلی کښې د یو مسیحی سره زما پیژندګلو کولے شوه. مسټر اولډ خاص طور باندې د یو پروفیسر د ښځې ذکر وکړو چې نوم یې پیګی وو. کله

چې ما دا نوم واؤريدو نو په عجيبه طور باندې زما د زړۀ درازه تيزه شوه.

اؤ لږه شيبه پس مې په ټيليفون باندې پيګی سره خبرې کولې. اؤ بيا په يو څو ګينټو کښې هغه د خالد په کور کښې د ميلمنو په کوټه کښې موجوده وه. کله چې هغې زۀ وليدم نو هغه ډيره خوشحاله شوه.

هغې ووئيل، " بيګم شيخ " ما ته ووايه چې آيا دا خبره رښتيا ده چې په اول ځل تا عيسی مسيح سره ملاقات په خوب کښې کړے وو؟ تا مالک عيسی مسيح څنګه وپيژندلو؟

نو د ميلمنو په هغه کوټه کښې ما پيګی ته ټوله قيصه بيان کړه. شپږ کاله مخکښې دا قيصه شروع شوې وه. پيګی ډيره په غور اؤ حيرانتيا سره زما قيصه واؤريده. کله چې ما خپله قيصه ختمه کړه نو هغې زما لاس ونيولو اؤ ډيره د حيرانتيا خبره يې وکړه.

زما خواهش دے چې تۀ ما سره امريکې ته لاړه شې. ما ډير په حيرانتيا سره هغې ته وکتل. زما زړۀ درزيدو، پيګی ووئيل چې زۀ ټوقې نۀ کوم بلکه په سنجيدګئ سره دا خبره درته کوم. زۀ ډيره زر روانه يم چې خپل زوئ په سکول کښې داخل کړم. زۀ به په امريکه

کښې ځلور میاشتې تیروم. کۀ تۀ غواړې نو ما سره سفر کولې شې اؤ زمونږ په جماعت کښې خپله ګواهی بیانولې شې.

هغه دومره خوشحاله وه چې ما نۀ غوښتل چې د هغې زړۀ خفه کړم. ما په خندا سره هغې ته ووئیل چې زۀ ستا د دې دعوت ډیر قدر کوم، خو ما له موقعه راکړه چې زۀ د دې په حقله دعا وکړم.

بله ورځ سحر خدمت ګارې زما د پاره یو پیغام راوړو. ما هغه ولوستلو اؤ ومې خاندل، اؤ دا پیغام پیګی رالیږلے وو. آیا تر اوسه پورې تا دعا کړې ده اؤ کۀ نه؟

ما وخاندل اؤ کاغذ مې وغورځولو. ځکه چې ما سره اوس دومره وخت نۀ وو چې په دې مې نور هم سوچ کړے وو.

د تیرو شوؤ دوؤ کالو حالات لکه د فلم په شان زما په ذهن کښې رابیدار شول. خوبونه، دهمکیانې اؤ بیا د اور حادثه. اؤ بیا ما کلکه اراده وکړه چې څۀ د خدائ پاک مرضی وی نو زۀ به هم هغه کوم. کۀ د خدائ دا مرضی وی چې خپل وطن پریږدم نو زۀ به دا هم کوم.

ما د پیګی سوال لاتر اوسه پورې د خدائ پاک په وړاندې نۀ وو ایښودے. خو اوس به زۀ هغه د مالک خدائ پاک په وړاندې ایږدم. ما دا سفر د خدائ پاک لاسو ته وسپارلو. زما د پاره پوهیدل ګران

وو. ځکه چې زما په ذهن کښې دا سوچ راتلو، کۀ چرې د ځلورو میاشتو دا دوره ونۀ شوه، نو دا به آخری دوره وی.

اے مالکه خدایه زۀ به یو ځل بیا ووایم چې تا ته معلومه ده چې زما خپل وطن کښې پاتې کیدل اؤ اوسیدل څومره خوښ دی. بهرحال اوس زما عمر دوه پنځوس کاله دے. اؤ دا د نوی سر نه د ژوند شروع کولو وخت نۀ دے.

خو ما ساه واخسته اؤ ومې وئیل، چې دا د ټولو نه اهم خبره نۀ ده. اے مالکه خدایه د ټولو نه اهم خبره دا ده چې ستا په حضورئ کښې ژوند تیر کړم. اے مالکه خدایه مهربانی وکړه اؤ زما مدد وکړه چې زۀ هیڅ کله هم داسې فیصله ونۀ کړم چې هغه ما ستا د حضورئ نه محرومه کړی.

---

# څوارلسم باب

## "نوے منزل"

دا یوه ډیره عجیبه خبره وه چې کله مالک خدائ پاک د پاکستان پریښودلو د پاره زما ذهن بدل کړو نو په دې لړ کښې خنډونه اؤ مشکلات پیدا کیدل شروع شول.

مثال په طور یو مشکل کوم چې د حل کیدو نۀ ښکاریدو هغه دا وو چې د پاکستان یو اوسیدونکے د خپل ملک پریښودو په وخت د پنځۀ سوه ډالرو نه زیاتې پیسې ځان سره نۀ شي وړلے. اؤ ما سره محمود دوه نیم سوه ډالره وړلے شول. خو اوس سوال دا وو چې زۀ اؤ محمود به په اونیم سوه ډالرو باندې څنګه څلور میاشتې ګزاره کوو. په دې وجه باندې د پیګی په مشوره باندې ما نور سوچ ونۀ کړو.

بیا یو څو ورځې پس پیګی ما له دعوت راکړو چې زۀ د هغې کور ته لاړه شم. په خبرو خبرو کښې مونږ د ډاکټر کرستی ولسن ذکر شروع کړو. پیګی هغه هم پیژندلو. د کله نه چې ما دا واؤریدل چې د افغانستان حکومت هغه جماعت تباه کړو کوم چې هغۀ د بهرنی ملکونو د خلقو د پاره جوړ کړے وو، نو ما به د هغۀ په باره کښې

سوچ کولو. ما د پیګی نه تپوس وکړو چې آیا تا ته معلومه ده چې هغه اوس چرته دے؟ پیګی ووئیل، ما ته هم صحیح پته نشته چې هغه چرته دے.

په دې دوران کښې ټیلیفون راغلو. پیګی د ټیلیفون اؤریدو د پاره لاړه، اؤ کله چې هغه واپس راغله نو هغه ډیره حیرانه وه. "آیا تا ته معلومه ده چې دا څوک وو؟ دا ډاکټر کرسټی ولسن وو".

د حیرانتیا په دې واقعه باندې مونږ ډیر زیات وخاندل اؤ خپل ځان ته مو ووئیل چې دا صرف یو اتفاق وو! پیګی ووئیل چې ډاکټر ولسن لاهور ته راځی نو هغه غواړی چې ملاقات وکړی. زۀ خوشحاله ووم. ځکه چې د حالاتو نه به په ښۀ طریقې سره خبر شم. خو پته نشته چې ما ته داسې ولې محسوسیدل چې دا به د یو عام ملاقات نه ډیر ښۀ وی.

بله ورځ په ملاقات باندې ډیره خوشحاله شوم. ما د واه ټولې واقعې اؤ د خپل ژوند په حقله ډاکټر کرسټی ته ټوله قیصه تیره کړه. بیا پیګی ورته ووئیل چې هغه ولې ما ځان سره امریکې ته بوتلل غواړی. په دې خبره کښې هغۀ ډیره دلچسپی ښکاره کړه. پیګی ووئیل، چې دا خبره رښتیا ده چې ځنې مشکلات شته. اؤ په دې کښې اولنے مشکل دا دے، چې بلقیس خپل ځان سره صرف

پنځۀ سوه ډالره ورلے شی. ډاکټر کرسټی ووئیل، چې په کیلیفورنیا کښې زما یو ملګرے دے زۀ به هغۀ ته خط ولیږم، کیدے شی هغه څۀ نه څۀ وکړی.

یو څو ورځې پس پیګی ټیلیفون وکړو اؤ هغه ډیره زیاته خوشحاله وه. اؤ په چغو چغو یې ووئیل بلقیس! ټول بندوبست وشو. ډاکټر بوب پیرظ تا له د اسپانسرشپ رالیږلو د پاره تیار دے. آیا تۀ په اووۀ ورځو کښې دننه تیارے کولے شې؟

په اووۀ ورځو کښې! ناڅاپی د خپل وطن پریښودو خطره زما مخې ته شوه. ځکه چې ما لاتر اوسه پورې سستی کوله چې کۀ ما خپل ملک پریښودو نو دا به د همیشه د پاره وی.

ما ته د یو شاعر دا خبرې رایادې شوې، "خدائ پاک ټولو بنی آدمو له دا ټوله زمکه ورکړې ده چې ورسره مینه وکړی. خو حالانکه زمونږ زړونه تنګ دی، نو په دې وجه مونږ د زمکې په یو هر حصه کښې په ښۀ طریقې سره اوسیدے شو. اؤ د زمکې هم هغه حصه د ټولو نه ښکلې کیدے شی". (روډ یارډ کپلنګ).

زما په ذهن کښې واه، زما باغ، زما کور اؤ زما خاندان راتلل شروع شول، آیا زۀ به دا ټول پریښودے شم؟

کۀ چرې زۀ په حقیقت باندې قائله شم چې دا ټول هر څۀ د خدائ پاک مرضی ده نو بیا زما د پاره داسې کول ګران نۀ دی، ځکه چې ما ته معلومه وه چې په پوهې سره د نافرمانئ کولو نتیجه به څۀ وی. د خدائ پاک حضوری به جدا شی.

په راتلونکو څلیریشتو ګینټو کښې یو بل تصدیق راغلو. خالد د ماښام د ډوډئ په وخت ووئیل چې صرف یو وړه شان خبره پاتې ده. اؤ د هغې نه پس به د جائیداد ټوله معاله حل شی. خالد ووئیل مورې! زما په خیال کوم جائیداد چې تا خرڅول غوښتل نو د هغې نه تۀ خلاصه شوې. بیا ناڅاپی دروازه لکه چې بنده شوه.

داسې ښکاریدل چې د خدائ پاک له طرفه نه بلکه زما د وطن له طرفه، ځکه چې لا تر اوسه پورې یو قانون په مینځ کښې وو. اؤ هغه دا وو چې یو پاکستانے تر هغه وخته پورې خپل ملک نۀ شی پریښودے تر څو پورې چې هغه خپل ټول ټیکس ادا نۀ کړی. زما انکم ټیکس خو ادا کړے شو خو ما له د هغې نقل پکار وو. ما له د انکم ټیکس د ادا کولو سرټیفیکیټ پکار وو. د هغې نه پس ما د امریکې د پاره ټکټ اخستلے شو.

زما د تلو په هغه اوؤ ورځو کښې څلور ورځې تیرې شوې اؤ صرف درې ورځې پاتې وې. کله چې زۀ اؤ زما زوئ خالد د ټیکس د

ادا کولو سرټيفيکيټ اخستلو د پاره سرکاری دفتر ته لاړو نو زمونږ دا خيال وو چې هيڅ مسئله به نۀ پيښيږی. ځکه چې زما ټول کاغذونه مکمل وو.

دا دفتر د لاهور په يو روښانه سړک باندې وو. کله چې دفتر ته دننه لاړم نو ټول منظر راته نا آشنا ښکاريدو. د مخکښې په شان دلته کښې ډير شور وو. مثلاً د کلرکانو اخوا ديخوا تلل اؤ په کاؤنټر باندې د ولاړو خلقو د افسرانو سره د خبرو اترو شور به عام وو.

په دفتر کښې صرف زۀ اؤ خالد وو. يو ګنجے کس چې د کاؤنټر په آخری سر کښې يو ګټ ته ناست وو اؤ اخبار يې لوستلو، مونږ هغۀ خوا ته لاړو اؤ خپل د راتلو مقصد مو ورته بيان کړو.

هغۀ په لاپرواهئ سره زمونږ طرف ته وکتل اؤ وې وئيل چې خفه نۀ شئ دلته هړتال دے. هړتال!

هغۀ ووئيل آؤ جی هړتال دے. هيڅوک هم کار له نۀ دی راغلی. اؤ ستا د پاره هيڅوک هم څۀ نۀ شی کولے. ما يو شيبه هغه کس ته نيغ نيغ کتل. بيا زۀ يو څو قدمه وروستو شوم. ما په دومره اوچت آواز سره دعا وکړه چې صرف خالد اؤريدے شوه. " اے

مالکه خدایه ولې تا دروازه بنده کړې ده؟ خو تر اوسه پورې تا په دې معامله کښې ما له حوصله ولې راکړې ده ؟"

بیا زما په ذهن کښې یو خیال راغلو چې هغۀ واقعی دروازه بنده کړې وه. ما دعا وکړه چې " اے پلاره! ټیک ده کۀ چرې دا ستا رضا وی چې زۀ اؤ محمود امریکې ته لاړ شو نو زمونږ د صفایئ د کاغذونو تۀ په خپله بندوبست وکړه". ما یو زبردست اعتماد محسوس کړو. اؤ کلرک ته مې ووئیل، ما ته داسې ښکاری چې تۀ په ډیوټئ یې. تۀ ما له د صفایئ کاغذونه ولې نۀ راکوې؟ هغۀ د اخبار نه نظر اوچت کړو اؤ د غصې په حالت کښې زما طرف ته وکتل. هغه داسې سړے معلومیدو چا ته چې په دې کښې خوشحالی ملاویږی چې د بل کس کار ونۀ کړی. په غصه کښې یې ووئیل، محترمې ما تا ته ووئیل چې هړتال دے.

ما ورته ووئیل چې ټیک ده، بیا ما له اجازت راکړه چې زۀ ستا افسر سره ملاؤ شم. ما په خپل حکومت کښې یوه خبره ازده کړې وه اؤ هغه دا چې کله به مې د یو کار کولو کلکه اراده کوله نو ما به خپله مسئله اوچتو اوچتو افسرانو ته پیش کوله.

کلرک اخبار کیښودو اؤ زۀ یې د ځان سره کړم اؤ هغۀ سره چې خوا ته کوم دفتر وو هغې ته یې بوتلم. اؤ وې وئیل دلته انتظار

وکړه. اؤ بیا په خفګان سره زما د سترګو نه پناه شو. ما دننه خبرې واؤریدې. اؤ بیا هغه سړے بهر راغلو اؤ ما ته یې اشاره وکړه چې دننه راشه.

زما اؤ د خالد ملاقات د زیات عمر کس سره وشو. ما هغهٔ ته خپل ضرورتونه بیان کړل. هغهٔ کرسئ ته ډډه ووهله اؤ سوچ یې کولو. اؤ بیا یې وفرمائیل، " محترمې! تا ما ته خپل څهٔ نوم اخستے وو؟"

" بلقیس شیخ" ما ته په دې خبره افسوس دے چې د هړتال په دوران کښې مونږ هیڅ هم نهٔ شو کولے. خو ناڅاپی د هغهٔ په سترګو کښې ما ته د پیژندګلو رڼا ښکاره شوه. تهٔ هغه بلقیس شیخ یې چا چې د ساده ژوند تیرولو اؤ د ساده اوسیدو منصوبه جوړه کړې وه.

" آؤ جی! زهٔ هم هغه یم".

په جذباتی انداز کښې هغهٔ میز له خپل لاس راپریښودو اؤ وې وئیل، " ټیک ده".

هغهٔ کرسئ دیخوا کړه اؤ ما ته یې د کښیناستو د پاره ووئیل. زما په خیال هغه د ټولو نه ښهٔ پروګرام اؤ منصوبه وه کوم چې زمونږ په ملک کښې مخکښې شوې وو. ما وخاندل. بیا هغه افسر د

اعتماد په انداز کښې میز طرف ته رامخکښې شو اؤ وې وئیل، ما ته ووایه زۀ ستا د پاره څۀ خدمت کولے شم؟

هغۀ زما نه زما د مسئلې په باره کښې تپوس وکړو. ما هغۀ ته ووئیل چې په دریوؤ ورځو کښې ما له د کراچۍ نه امریکې د پاره د جهاز ټکټ اخستل دی. د هغه سړی د مخ نه داسې ښکاریدل چې هغه به ضرور څۀ نه څۀ کوی. هغه پاڅیدو اؤ په کاؤنټر باندې چې کوم کلرک وو هغۀ له یې آواز ورکړو، اؤ ورته یې ووئیل چې نوې اسسټنټ راوغواړه.

هغۀ ډیر په قلاره آواز سره ووئیل، دلته یو عارضی اسټینو ګرافر شته، هغه د دفتر د عملې غړے نۀ دے نو په دې وجه هغه په هړتال کښې نۀ دے شامل. هغه به سرټیفیکیټ جوړ کړی. اؤ زۀ به په خپله په هغې مهر ولګوم. اؤ زما خوشحالی په دې کښې ده چې ستا مدد وکړم.

یو څو مینټه پس مکمل سرټیفیکیټ زما په لاسو کښې وو. کله چې مونږ هلته نه تلو نو ما سرټیفیکیټ وخوځولو اؤ کلرک ته مې د خدائ په آمان ووئیل. هغه ډیر زیات حیران شو. اؤ کله چې هغۀ زما د خندا کتلو د پاره د اخبار نه سترګې پورته کړې نو ما هغۀ ته ووئیل، " خدائ پاک دې تا له برکت درکړی."

یو څو میاشتې پس مونږ د سرکاری دفتر نه بهر راغلو نو خالد ډیر حیران وو. اؤ وې وئیل چې د ټولې مسئلې په حل کولو کښې صرف شل میاشتې ولږیدل. هغۀ ووئیل کۀ چرې ټول کسان په ډیوټۍ وو نو بیا به پرې ډیر وخت لږیدلے وو.

زما زړۀ ډیر خوشحاله وو. ما د خالد د پوهیدو کوشش وکړو چې خدائ پاک زمونږ رفاقت خوښوی. کله چې مونږ دعا کوؤ نو هغه مونږ سره کار کول غواړی. په دې کښې د حضرت موسی[ؑ] د امسا هغه اصول پکار وو. کۀ چرې ما په خپله د ایمان قدم نۀ پورته کولے اؤ معامله مې صرف د خدائ پاک لاسو ته پریښودے نو کیدے شی چې ما ته سرټیفیکیټ نۀ وو ملاؤ شوې. څۀ چې ما کولې شول نو د هغې د کولو د پاره ما قدم اوچت کړو. ما له دا وئیل پکار وو چې زۀ د دې دفتر مشر سره ملاویدل غواړم. لکه څنګه چې خدائ پاک حضرت موسی[ؑ] ته وفرمائیل چې هغه خپلې امسا سره ګټ ته ګزار ورکړی. نو دغه شان هغه مونږ ته هم وائی چې مونږ د معجزو په پیښیدو کښې په خپله هم حصه واخلو.

زما جذباتو سره خالد لږ شان حیران شو اؤ په خندا سره یې ووئیل موري! زۀ به یوه خبره ضرور وکړم. ما دا غور کړے دے چې د شکریه وئیلو په ځائ تۀ همیشه وایې چې " خدائ پاک دې تا له

برکت درکړی." اؤ کله چې تۀ دا وایې نو څۀ چې ما اؤریدلی دی نو دا د دې ټول هر څۀ نه ډیر ښکلی ښکاری.

اوس ټول کاغذونه مکمل شوی وو، نو زما په ذهن کښې داخیال راغلو چې په واه کښې خپلو رشته دارو اؤ عزیزانو ته د خدائ په آمان ووایم. ځکه چې زۀ په دې خبره قائله شوې ووم چې دا دوره به د څلورو میاشتو نه زیاته وی. بهرحال کله چې ما د دې خبرې ذکر وکړو نو خالد ووئیل " ولې تا د سیلابونو په حقله نۀ دی اؤریدلی څۀ؟"

د ډیرو بارانونو په وجه د لاهور اؤ د واه په مینځ کښې چې کوم سړک وو نو هغه خراب شوے دے. اؤ ډیره زمکه په سیلابی اوبو کښې ډوبه ده. د تګ راتګ ټول بندوبست تباه و برباد شوې وو. زما زړۀ خفه شو. ما ته د خدائ په آمان وئیلو د پاره هم موقعه ملاؤ نۀ شوه. لکه څنګه چې حضرت لوط ته وئیلې شوی وو چې وروستو مۀ ګوره. نو دغه شان خدائ پاک ما ته هم وئیل چې وروستو ټول هرڅۀ هیر کړه.

د منصوبې په مطابق ما له د جمعې په ورځ سحر کراچئ ته روانیدل پکار وو. زۀ به په جهاز کښې کراچئ ته ځم، اؤ هلته نه به زۀ امریکې ته روانیږم. پیګی اؤ د هغې زوئ به د نوی دهلی نه خپل

سفر شروع کوی. د هغوئ جهاز کوم چې نیویارک ته تلو یعنی پین امریکن د دهلی نه به راروانیدو اؤ په کراچئ کښې به ودریدو. زۀ اؤ محمود به د هغوئ سره یو ځائ تلو.

د زیارت په ورځ سحر ما محسوس کړل چې زۀ انتظار ونۀ کړم. ما د محمود په باره کښې ډیر فکر کولو. په څۀ نه څۀ طریقه باندې دا خبر واه ته رسیدلې وو چې مونږ صرف لاهور ته نۀ یو راغلی بلکه مونږ د ملک نه بهر روان یو. ولې د دې خبرې امکان نۀ وو څۀ چې رشته دارانو به زما نه محمود اخستې وو چې په هغۀ زما اثر ونۀ شی. آیا ما به څۀ نه څۀ طریقې سره د تلو نه منع کړی؟ د خطرې احساس ډیر مضبوط وو. ما فیصله وکړه چې زۀ به انتظار نۀ کوم بلکه زۀ به د زیارت په ورځ دلته نه لاړه شم. اؤ هلته په کراچئ کښې به خپلو عزیزانو کره یم.

بیا په هغه ورځ د غرمې نه پس ما اؤ محمود سامان تیار کړو اؤ خالد اؤ د هغۀ خاندان ته مو د خدائ په آمان ووئیل اؤ د ائیرپورټ په طرف روان شو. په اطمینان سره مونږ لاهور ته د خدائ په آمان ووئیل، اؤ د خپل منزل په طرف روان شو.

کراچئ کښې ډیره رنګینی وه. په دې دومره لوئ ښار کښې هیڅوک هم زمونږ پته نۀ شی کولے. زۀ د خپلو دوستانو سره

اوسيدم. اؤ بله ورځ امريکې ته د تلو د پاره مې څيزونه اخستل. ناڅاپي زۀ د يو زبردست دباؤ لاندې ووم. ما ديوال ونيولو اؤ د خدائ پاک نه مې د حفاظت د پاره دعا وکړه.

ما محسوس کړل چې زۀ اؤ محمود دا شپه په يو هوټل کښې تيره کړو. ما کوشش وکړو چې دا خبره د خپل ذهن نه وباسم. ما خپل ځان ته ووئيل چې دا هسې د بې وقوفئ خيال وو. بيا ما ته د نجوميانو هغه واقعه را ياده شوه چې څنګه هغوئ له په خوب کښې خبردارے ورکړے شوې وو چې هغوئ په بله لار خپل وطن ته لاړ شی.

بهر حال ډير زر مونږ د کراچئ په ائيرپورټ کښې په ائيرفرانس هوټل کښې وو. څومره زر چې کيدے شوه نو ما محمود ځان سره کړو اؤ خپلې کوټې ته لاړم. اؤ په کاؤنټر مې ووئيل چې مونږ له ډوډئ زمونږ کمرې ته راوليږئ. مونږ په انتظار کښې وو. محمود لږ شان بې قراره ښکاريدو. هغۀ تپوس وکړو، مورې تا له د دومره پټيدو څۀ ضرورت دے؟

په هغه شپه د تلو نه مخکښې زۀ په خپله بستره کښې ووم اؤ غور مې کولو چې آخر زۀ دومره احتياط ولې کوم؟ د دې څۀ خاص وجه نۀ وه، آيا ما خپلو جذباتو له اجازت ورکړے دے چې ما په

خپل قابو کښې وساتی؟ یا آیا د تیر شوی وخت د دهمکیانو په وجه زۀ هسې په ویره کښې یم؟

مثلاً د اور واقعه؟ زۀ په خیالونو کښې ډوبه ووم اؤ صرف یو څو ګینټو د پاره اوده شوې ووم. سحر دوه بجې زۀ پاڅیدم، اؤ ځان مې تیار کړو. اؤ بیا مې په زړۀ کښې د زر تلو خیال وو. دا ما ته کم عقلتیا ښکاره شوه. دا زما د طبیعت خلاف وه. ما سره د دې د بیانولو صرف یوه طریقه وه، اؤ هغه دا چې هغه وخت راغلے دے چې زۀ هوټل پریږدم. اؤ مالک خدائ پاک ما ته وئیل چې زۀ زر دلته نه لاړه شم. ما محمود ته جامې واچولې اؤ سامان مې په دروازه کښې کیښودو اؤ د نوکر د راتلو په انتظار کښې ووم.

د سحر درې بجې وې. اؤ مونږ به پنځۀ بجې روانیدو. محمود ما سره ولاړ وو اؤ د ټیکسی انتظار مو کولو، په کوم کښې چې مونږ د ټرمینل طرف ته تلونکی وو. هغۀ له خوب ورتلو. ما سپوږمئ ته وکتل اؤ ما دا ګمان وکړو چې آیا دا آخری وخت دے، چې زۀ په کښې په خپل وطن کښې سپوږمئ وینم؟

د سحر هوا په باغ کښې د ګلونو د خوشبو نه ډکه وه. ما ته محسوس شول چې زۀ به خپل باغ بیا کله هم ونه وینم.

آخر کار ټیکسي راغلو. زۀ اؤ محمود په کښېنې کښېناستو. کله چې مونږ په لاره روان وو نو ما دعا کوله، په دغه وخت هم په ائیرپورټ کښې د خلقو ګڼه وه. اؤ کله چې ګاډی په سړک لږیدلې اشارې نه واؤړیدو نو زۀ د بې قرارئ په حالت کښې په ګاډی کښې ناسته ووم. مونږ خاموشه وو. ما خپل ځان له یقین ورکړو چې اوس ما له ویریدل نه، بلکه دعا کول پکار دی.

ما دعا وکړه، اے مالکه خدایه! زما دا اعصابو دا بې قراری لرې کړه. اے مالکه خدایه دا اعصابی بې قراری د ستا طرف نه نۀ ده. زۀ په یو وخت باندې په تا باور اؤ فکر نۀ شم کولې. اؤ کۀ چرې د تادئ کولو دا حرکت د ستا طرف نه وی، نو یقینا چې د دې به هم څۀ خاص وجه وی. اؤ ما له دا حرکت پوره کول پکار دی.

مونږ ټرمینل ته داخل شو. د غټو غټو جهازونو آوازونه راتلل. اؤ هر یو کس په وخت رسیدو د پاره په تادئ وو. ډیر زیات شور وو. کله چې ما د خپل ملک جنډا په هوا کښې په خوځیدو ولیده، نو زۀ په خپل زړۀ کښې خفه شوم. ما دا اقرار وکړو چې زۀ به همیشه د خپل ملک د جنډې، د خپلو خلقو اؤ د هغوئ د عقیدې عزت کوم. مزدور راغلو اؤ زمونږ سامان یې کاؤنټر خوا ته یوړو. هر یو کار په ښۀ طریقې سره سرته ورسیدو.

مونږ دواړو سره ځلوینښت ځلوینښت پونډه وزن وو. کله چې ما د خپل خاندان د نورو دورو په باره کښې سوچ وکړو کومې چې به مونږ په خپل ملک کښې کولې، نو ما له خندا راغله. ځکه چې صرف د یو ځو ورځو په خاطر به مونږ په زرګونو پونډه وزن خپل ځان سره وړولو. اؤ بیا به مې هم کله کله دا شکایت کولو چې ما ځان سره څۀ جامې نۀ دی راوړی.

د جهاز تر راتلو پورې مونږ له یوه ګینټه انتظار کول وو. ما دا غوره وګڼل چې د خلقو په مینځ کښې په شور کښې دا وخت تیر کړم. اؤ هیڅوک هم مونږ ونۀ وینی. خو ما نۀ پیژندونکې ویره د خپل زړۀ نه ونۀ ویستلې شوه. بیا ما بغیر د څۀ وجې نه د فکرمند کیدو د پاره خپل ځان له تسلی ورکړه. ما ځان ته دا رایاد کړل چې خدائ پاک د حالاتو هم خدائ دے. هغه د دې ماحول نه په وتلو کښې زما رهنمائی کوی. اؤ ما له پکار دی چې صرف د هغۀ تابعداری وکړم.

محمود غوښتل چې بیت الخلا ته لاړ شی. ما بهر د هغۀ انتظار کولو، اؤ ناڅاپی په لاؤډ سپیکر باندې زمونږ د تلو اعلان وشو. پین امریکن د نیویارک د پاره د سوارلو په انتظار کښې دے. زما زړۀ وویریدو، محمود لا تر اوسه پورې نۀ وو راغلے، مونږ له تلل پکار دی.

ناڅاپی د بیت الخلا دروازه کولاؤ شوه. دا محمود نهٔ وو بلکه بل څوک وو. زهٔ دروازې خوا ته ورسیدم. دا ما څهٔ کول. یقینا چې په یو اسلامی ملک کښې د ښځو د پاره دا غیر واجب خبره وه چې د سړو بیت الخلا ته لاړې شی. کهٔ په دې کښې مقصد دا وی چې د نهه کالو ماشوم ولټوی خو بیا هم دا غیر واجب خبره وه.

زمونږ د تلو د پاره یو ځل بیا اعلان وشو. د نیویارک د پاره پین امریکن جهاز د روانیدو د پاره تیار دے. مسافرو ته دا خواست دے چې جهاز خوا ته راشی.

زما زړهٔ ډیر زیات بې قراره وو. ما د بیت الخلا دروازې له دیکه ورکړه اؤ محمود ته مې آواز وکړو.

په یو ښکلی اؤ ماشوم شان آواز سره راته جواب ملاؤ شو، " مورې! زهٔ درځم ".

ما اوربده ساه واخسته اؤ دیوال سره مې ډډه ولږوله اؤ ولاړه ووم. ډیر زر محمود بهر راغلو. ما په چغې سره هغهٔ ته ووئیل، تهٔ چرته وې؟ کوم څیز تهٔ نیولې وې.

بهرحال ما د جواب انتظار ونهٔ کړو اؤ محمود مې د لاس نه ونیولو اؤ په منډه لاړم. مونږ د یو لوئ هال نه د هغه دروازې په طرف

په منډه لاړو چرته چې به مونږ جهاز ته ختلو. مونږ آخری مسافران وو چې جهاز ته به ختلو.

محمود په حیرانتیا سره ووئیل موري! دا څومره غټ جهاز دے؟

دا د ۷۴۷ جهاز ډیر زیات غټ وو. مونږ دواړه ډیر خوشحاله وو. ما دومره غټ جهاز مخکښې نۀ وو لیدلے. جهاز ته ختلو نه مخکښې ما زمکې له لاس وروړو، اؤ دا په خپل وطن کښې په زمکه باندې زما آخری قدم وو.

د جهاز دننه حصه د یو لوئ آډیټوریم په شان ښکاریده. یوې ائیرهوسټس د سیټ طرف ته زمونږ رهنمائی وکړه. پیکی چرته ده؟ د هغې نه بغیر به زۀ په امریکه کښې څۀ کوم؟

اؤ بیا مونږ هغه ولیده. هغه زمونږ طرف ته راروانه وه. پیکی ما ته راتر غاړه وته.

اؤ وې وئیل زما خوږې خورې زۀ ستا په حقله ډیره فکرمنده ووم. ما په بورډنګ ګیټ باندې تۀ نۀ شوې لیدلې. ما هغې ته ووئیل چې څۀ شوی وو. پیکی ته تسلی ملاؤ شوه. هغې زمونږ پیژندګلو د خپل زوی سره وکړه، چې د هغې سره وو. دا څومره

خرابه خبره وه چې مونږ یو ځائ نۀ شو کښیناستې. هغې ووئیل چې کوم سیټونه چې هغوئ مونږ له راکوی نو مونږ به په هغې کښینو.

رښتیا خبره خو دا وه چې ما په نوروخبرو اترو کښې دلچسپی نۀ اخسته. زما د خیالونو مرکز دا وو چې ما خپل وطن پریښودو اؤ د دې نه تلم. یقینا چې زۀ خفه ووم. خو دې سره سره زۀ په دې هم پوهیدم چې دا فیصله زما د پاره صحیح ده. معامله زما د پوهې نه بهر وه.

ډیر زر محمود خپل رنګ ښکاره کړو. اؤ هغۀ یوې ائیرهوسټس سره ملګرتیا جوړه کړه.

هغه ډیر خوشحاله وو. ما په کړکئ کښې ډیر لرې په آسمان کښې د نمر راختلو نظاره ولیده. د انجن آواز زیاتیدو، اؤ یو جذباتی شان احساس زما په وجود کښې راغے. زمونږ جهاز په رن وے وو. ما وروستو وکتل. خو پیکی مې ونۀ لیده. محمود ما سره خوا ته سیټ باندې ناست وو. د جهاز الوتو نه مخکښې د جهاز آواز سره د هغۀ مخ وځلیدو. ما د محمود لاس ونیولو اؤ دعا مې شروع کړه.

اے مالکه خدایه اوس به څۀ کیږی؟ بیا ما ته د خپلو خواهشونو پوره کیدو احساس وشو. ما ته دا نۀ وه معلومه چې د

دې نه پس به څۀ کیږی. زۀ مطمئینه ووم. ځکه چې زما خدائ پاک ما سره وو. اوس زما اعصابی خفګان ختم شوې وو. ما ته معلومه وه چې ما د خدائ پاک فرمانبرداری کړې ده. اؤ زۀ به دا قبلوم چې ما ته نۀ ده معلومه چې په حقیقت کښې به څۀ کیدل؟ کۀ چرې ما د هغۀ هر یو حکم نۀ پوره کولو. اؤ داسې قسمه قدم مې نۀ اخستلو لکه څنګه چې ما اخستے وو.

په کړکو کښې چې کومه رڼا راتله نو هغه غائبه شوه. اؤ سمدستی د جهاز د انجن آواز تیز شو. مونږ په هوا کښې وو. ما لاندې بحر هند لیدلے شو. کوم چې پاکستان سره یو ځائ کیږی.

ما د خدائ پاک نه دعا غوښتلو د پاره خپل لاسونه اوچت کړل. صرف هغه زما پناه ګاه دے. د هغۀ په حضورئ کښې اوسیدل زما خوشحالی وه. زما خوشحالی دا وه چې د هغۀ په حضورئ کښې اوسیږم. د هغۀ په حضورئ هر اړخ ته جلال دے. ما د خدائ پاک شکر ادا کړو. اے مالکه خدایه! زۀ ستا شکر کوم چې تۀ په سفر کښې ما سره یې.